# پرښته

محمد آصف عمر

د کابل د غازي سټېډيوم په پای کې د لويو نغريو او رتيتا و ديګونه چپه وو. له خاورو او ايرو څخه د کباب او پلو بوی پورته کېده. په چمن کې زرګونه خلک جمع وو. هغوئ ستومانه ښکارېدل. د ټولو سترګې ځلېدلې. لکه همدا شېبه چې يې بد خوب ليدلی وي. هغوئ د نندارچيانو لپاره د زينه ډوله چوکيو منځ ته کتل. هلته څو تنه ولاړ وو. زخمي زخمي، ټوک ټوک برېښېدل. په منځ کې يې نری، سپينه پېغله هم وه. سا يې سوزېدله. د مخ وينې يې په لستونيې پاکولې. يو ځوان د خلکو له منځه غږ کړ:

– ای خورې! دا په موږ څه بلا لګېدلې؟ اخېر به څه کېږي؟ لږ خو مو پوی که کنه!

له هرې خوا نارې شوې «رښتيا وايي. رښتيا وايي» پېغلې په مايکروفون کې وويل:

– جنتي شئ! د بنيادم تاريخ د نېکۍ او بدۍ د ټکر کيسې دي. يوه پکې بله زياته شوه. دغه تېره جوزا وه. د عيدګاه مخ ته لکه د موټرو سيالۍ چې وي. د زينتي لوښو د کراچۍ هلک له سرک څخه د اوښتو موقع کتله. سپينه ټوپۍ يې پر تندي کېکاږله. له وروځو يې خولې وڅڅېدلې. د پنجرې دننه په شين جومات کې نه انسان ليدل کېده، نه مرغۍ، نه حشره. فضا ډېره وه ډېره. تا به ويل له ډېر فشار څخه به وچوي. مګر د دېوالي ساعت نری ستنې لاهم د چيندرو ټوپونه وهل. درېواړه ستنې په دولسو بجو ودرېدلې. وچه فضا ولړزېدله. په جومات کې لکه آسماني ستوری چې راپرېوځي، سپينه رڼا شوه. د خلکو سترګې وبرېښېدې. شمال ولګېد. پر سرک ځينې موټر له واکه ووتل. باربري ګاډی د زينتي لوښو په کراچۍ ورغی. هلک ځان بچ که. د لوښو ټوټې پر سرک وشرنګېدلې. هلک په موټر پسې لنډه منډه واخېستله. له ډک ستوني يې نارې کړې:

– ای ای! ودرېږه! ای د سپي زو!

زه له جوماته ووتلم. شمال مې شيرچايي جامې او ټيکرې کشوه. ځان راته دروند ښکارېده. ځمکه مې په پښو شخه لګېدله. قدمونه مې ټکني وو. د خلکو سترګې را واوښتلې. ټېرسرې ټکسيوان لکه چرسي وبنګېد «قسم چې سمه د ګلو لښته ده» ما ځان ناګاره ونيو. هلک په ځمکه پوخ ناست و. تخته تخته يې ژړل. زه را چنګه شوم. ما ويل جنتي شې! ولې؟ هغه غلی شو. زه يې سرترپايه وڅېړلم. سپينه ټوپۍ يې په ګنجي سر کېښوده. په ورو ورو سلګيو يې ماتو لوښو ته اشاره وکړه:

– امدا مې زيندګي وه. دادا مې مظايره کې شهيد شو. د تقاود پيسې وې.

زما يې هم زړه راډک که. د زرګونو کاغذيحه بسته مې وباسله. ما ويل شوک چې ته راغبې... هه، را واخله! بل [illegible] جوړ که! د هلک باور نه کېده. لکه [illegible] موبايل غوږ ته ونيو. لېرې لاړم. هغه کره کراچۍ ټېل وهله. کړينجي شو. ما د مټک راډيو خاوند ته وويل زرګله وروره زر راشه! تازه خبر دی. په عيدګاه کې عجيبه رڼا شوه. هغه پوښتنه وکړه چې ته څوک يې؟ ما ويل بيا غږېږو. شاته مې وکتل. هلک لاړ. مات لوښي يې په سرک پرېښودل. نور خلک هم بې غمه تېرېدل. زه يې په ټولو لو اخته شوم. خبريالانو ته نو خدای ورکړه. ډله ډله عيدګاه ته راخوشې وو. د خړو جامو چاغکی ځوان هم له سپين سراچه موټر څخه کېوت. د کميس د تنۍ په شان ګردې ورې سترګې يې ګرځولې. ما غږ که:

– زرګله وروره! ټلېفون ما کړی و.

د ځوان وروځې بره لاړې. د تندي دپاسه ګنجی سر يې وسولوه. په چټکو ګامونو نږدې راغی. غږېدل يې هم چټک وو:

– زه تا نه پېژنمه. او دونه مشهور ام ولاکه يمه چې جينکۍ سيلفي ته ری شي.

ما وخندل. يوه منګوله د لوښو ټوټې مې په ډېرۍ وغورځولې. په آرامه مې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– جنتي شې! زه دې پېژنم. د لغمان يې. دوه بچي لرې.

– دقه سې! که زما د خوښې خوراک دې ووايه ضوف کومه.

– ماهيان.

د زرګل خندا نه وه سم د آس شيشنی و. ما د لوښو پاتې ټوټې راوړې. هغه رانه سترګې نه اړولې. ما شاوخوا وکتل. هلته نزدې د توري لونګۍ او تورو عينکو سړی په موبايل کې چوخ و. هاخوا ډنګر هلک د يو ټايروالا کراچۍ ګرځوله. په وچې ډوډۍ يې لکه وږی لېوه، چکونه لګول. ما ورته زرګون ونيو :

– ای وروره، هه! دا مات لوښي ډېران ته وېسه!

هلک لاره دوه ګامه کړه. د زرګل وروځې بره لاړې:

– وه بابا صيبه ی! چې دونه دې ورکولې ما په لمنې کې چلول.

ما ته بيا خندا راغله. زرګل سر نزدې که. وپسېد :

– ای خورې ای! رښتيا ووايه! ابا خو مې بله پيسه داره ښځه نلرله؟ څنګه مې پېجنې؟

ما ته د هغه طنزي لهجې خوند راکوه. له هلک سره د کراچۍ په بارولو لګيا شوم. زرګل ته مې کړ:

– په ياد که! د هارون کتابچه چې دې پټه کړه. معلم هغه په لښته ووهه چې ولې دې نه ده راوړې. لاس يې وينې شو.

د زرګل ګردې وړې سترګې لکه د اوبو پوکانۍ راووتلې:

– وه بابا صيبه ی! لس کاله مخکې و. ما بيا د کارخانګي کتابچه ورکړه کنه.

– جنتي شې! هارون په قهر شو چې نه به دې راکوله. ته خو به بچ وې.

د زرګل سترګې او تندی راټول شو. وبنګېد «څه د ګُفر لور ده؟» د شهادت پېړه ګوته يې وښنډله:

– هی هی هی چلبازې! هارون درته ويلي دي. ما نشې غولولی!

ما ونه خندل. سودا مې وه چې په خپل باور پښېمانه نه شم. له خلکو مې لېرې بوت. ومې ويل:

– وعده وکه چې زما راز چاته نه وايې!

– ويمه په بابا صيب قسم ده! زما دې زړه کورت کورت راتوی که. تږی دې کړمه.

ما ورته له سيار دکان ګوټي څخه د اوبو بوتل راوړ. زرګل رډ رډ وکتل. توکل مې په خدای که. ما ويل:

– وروره! زه آسماني پرښته يم. دا رښا چې شوه، دا زه ځمکې ته راغلم.

زرګل پخ وهل. اوبه يې له خولې وشيندلې. نزدې يې په ستوني کې بندې شوې وې. وټوخېد. سر يې کوږ ونيو :

– ډېره ورانه يې. زه درسره دسې ټوقې لرمه؟

ما ټيکری ښه په ځان تاو که. لاس مې د تخرګ په تيارې کې وښود. رښا يې کوله. هغه بيا وخندل:

– دقه سې! ته خو سمه جادوګره يې.

ما ويل وه خدايه دا څه مصيبت شو؟ څنګه يې وپوهوم؟ کوشش ته مې دوام ورکه:

– وروره! زه له کرام الکاتبينو څخه يم. ما د لکونو بنيادمانو عملپاڼې ليکلي دي. اخېرنی کار مې هارون و.

– ههههه. دا د هوسۍ سترګې، په وروځو لګېدلي باڼه، ښايسته پوزه، تازه شونډې. دا نو د چا وي؟ د زړې بوډۍ وي کنه.

– جنتي شې! پرښتې نه زړېږي.

– نه نا، کله؟ دا پوست غږ. دا صفا مخ. کالي دې ام لړلړ بلېږي. د کشميالي بوی ده پکې. پرښته څه ښکر لري؟

زرګل بيا د آس د شيشني په شان وخندل. زه خوشحاله وم چې دغو فرقونو ته يې پام شو. ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ما د هارون غوندې پاک زړه په بل بنیادم کې لیدلی نه و. پې مېینه شوم. ما ویل کاش چې ما وویني. چې خوښه یې شم. پرښتې خو داسې نه وي. په ما بل څه کېدل. د هارون نیکه چې مړ شو ما هم ژړل. پرښتې راته حیرانې وې. بیا زما سودا هارون ته شوه. د خدای پاک نه مې د هغه د تقدیر پوښتنه وکړه. د الله غږ مې واورېد. ویل د جوزا په شلمه په مظاهره کې سخت ژوبلېږي. خو بېرته روغېږي. د میزان په اتلسمه په یوولس نیمو بجو په مظاهره کې مري. په ما قیامت شو. ما ویل تقدیر یې څنګه بدلېږي؟ ویل چې دغو مظاهرو ته لاړ نشي. یا سیاسي ډلې سوله وکي. ما ویل اجازه راکه چې بنیادم شم. له هارون سره د تقدیر په بدلولو کې کومک وکم. ویل هاروت او ماروت په یاد که! زما په امر ځمکې ته د کمک لپاره کېوتل. مګر بنیادم یې له درسونو غلطه کټه واخېستله. ستا به مشکلات لا زیات وي. که هارون سا اخېستله ته به یې هم اخلې. که نه ته هم مرې. بېرته آسمانو ته هاغه وخت راتلی شې چې د هغه تقدیر بدل شي. ما ویل هرڅه مې قبول دي.

په زرګل کې وینه وچه شوه. په تندي یې خولې راغلې. د تورو عینکو او تورې لونګۍ کس موبایل غوږ ته ونیو. وپسېد:

– زموږ ګرانه پاچا! دا جینۍ موږ ته خطرناکه ده.

ما واورېدل. پوه نه شوم چې څوک یادوي. خو چې کتل مې سړی تللی و. د زرګل سا سوزېدله. غږ یې وکه. غږ یې نری شو:

– ته رښتیا پرښته یې؟ عقل یې نه مني. نو دا ولې ماته وایې؟ هارون ته به غږ کمه.

– نه کنه. هغه به تر احسان لاندې شي. مینه به ونکي. بې مینې ورسره ژوند نشم کولی. بل، زه دا رازیو بنیادم ته ویلی شم. دا دی تاته مې ووایه. که دویم بنیادم پوه شي، د پرښتو طاقتونه مې ځي.

– د پرښتو طاقتونه؟

– هو، لکه ټیټ غږ اورېدل، شیطانان لیدل، نه خیرنېدل، نه وږې کېدل. نو په تا باور لرم.

د زرګل ګردې وړې سترګې وځلېدلې. چې پرښته پرې باور لري نو خدای پاک هم ترې راضي دی. موسکی شو. لکه د جنت ټکټ چې اوس په لاس ورغلی وي. بوتل یې په یوه سا تش که. خو زما سودا وه. و مې ویل:

– وروره! د جوزا شلمې ته ټولې پینځه ورځې دي. چې هارون بچ کو.

– ری مه وهه! سیاسیونو ورته ډېپېر ویلي. اغه خیریه کارونه نه پرېدي. ځکه خو ورته ټیکټر ویمه. هههه.

– جنتي شې! په تقدیر کې چې دي.

د زرګل اوس پام شو. خبره ډېره جدي وه. خندا یې بیا وتښتېدله. ګردې وړې سترګې یې تېرې شوې:

– چې مظایرې ته لاړ نشي تقدیر یې بدلېږي، کنه؟ څه چې څو! زمونږه وروري ده. زما منې.

هغه موټر ته وخوت. زه اوس پر ځمکه سمه تللی شوم. دې کې مې یو غږ واورېد. لکه له ډېرې سترېا چې سوزېدلی وي:

– ای بچې! دا ځوان وایي چې رڼا شوه ته عیدګاه کې وې.

شاته مې وکتل. په شنه چپنه کې پوخ سړی و. شمال یې د شناوې لونګۍ شمله رپوله. چپ لاس یې د ببرسري ټکسیوان پر اوږه و. په بل یې تورې عینکې سمې کړې. په برګه اوږده ږیره یې راکاږه. شناوې تسبیح وشرکېدلې. دا پیرالسبي و. خلکو ویل له عربستانه راغلی. د پیغمبر اولاده ده. هاغه پېښې یې ټکي په ټکي ویلې چې پکې حاضر نه و. له ولسمشره تر ولسکشره ټولو یې لاسونه ښکلول. ما سترې مشې وویله. پیرصیب په موسکا سر وخوځوه:

– خیر یوسې بچې! ښه نو رڼا د څه شي وه؟

زه راګیره وم. نه مې رښتیا ویلی شول نه دروغ. د خپلې وارخطایۍ د پټولو چل هم نه راته. زرګل د اوبو تش بوتل په موټر کې وغورځوه. تېز راغی. د پیرالسبي لاس یې ښکل که. ویې ویل:

– رڼا ته ددې شا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– څه دې کېږي بچی؟

– ایښ. د اسلامي همکاریو د سازمان مامورە ده. غواړي عیدګاه سمه جوړه کي. د ثواب دپاره.

ما د هغه له دروغو مخ واړوه. پیرالسبي هم وخندل. د زرګل رنګ زېړ شو. پیرصیب ماته ټیټ او پاس وکتل:

– ثواب ګټې بچی؟ راشه لاس مې مچو که!

ما ویل دا څه وایي دا؟ ثواب په لاس مچولو کې نه، په لاس نیوي کې دی. زرګل ته مې د کمک په امید وکتل. مګر هغه لکه د مېرمنې او مور په منځ کې چپ وي. نه دېخوا کېده، نه اېخوا. پیرصیب موسکی شو. برګه اوږده ږیره یې ورپېړدله:

– هسې ټوکه مې وکړه.

زه وویرېدلم چې ویې پېژندلم څه بلا؟ دلته و چې شیطان مې ولید. د عیدګاه پنجرې ته لکه سکروټه ولاړ و. زړه مې ولګېد. که پیرصیب پېژندلې وم شیطان به مې نه لید. په آسمان کې تورې وریځې راغلې. ما زر لاس ته وکتل. ښه و. د بدن رڼا مې پام نه اړوه. ساتونکو عام خلک پیرصیب ته نزدې نه پرېښودل. خو خبریالان لکه شوخ ماشومان ترې راتاو شول. مایکروفونونه یې جیګ ونیول. سترګې او غوږونه یې بند او خولې یې وازې کړې «تاسې څنګه خبر شوئ؟ ولې دلته راغلئ؟ دا رڼا د څه شي وه؟ تاسې ته ولې مهمه ده؟» داسې شور یې جوړ که لکه د مکتب د رخصتۍ زنګ چې ووهل شي. پیرالسبي وخندل:

– وه بچیانو! یوه دیقه مې پرېدئ! دغې جینۍ سره دوه خبرې کوم.

د هغه مخ ته نو څوک دربده؟ ګناه وه. ټول شاته شول. پیرصیب داسې کتل لکه زما ماغزه چې لولي. نه پوهېږم ولې مې په زړه کې ګرځېدل چې راخبر دی. هغه راروان شو. ورسره آسمان وغورېد. د باران لا نښه نه وه. ساتونکو ورباندې لویه چترۍ ونیوله. هغه یو دم لاره بدله کړه. موټر ته ننوت. زما پر ذهن بوج هم کم شو. پیرصیب لاړ. خبریالان وازه خوله پاتې شول.

زه او زرګل «مهرباني موسسې» ته ورسېدو. غریبان شولې ته په قطار کې ولاړ وو. باران د څپرې او سپنیزې تختې ټکولې. موږ سپېنې ودانۍ ته ننوتلو. پر دېوالونو د سوېې تغذي بنیادمانو تصویرونه وو. هارون په تنګ دفتر کې د کار پر مېز شوله خوړله. ترپېکې لاندې غټو خړبخنو سترګو یې زما په سینه کې دربه هار جوړ که. غلی کولی مې نه شو. ما ویل دا زړه لا څه بلا دی؟

هارون د کوچ او وړوکي مېز تر منځ راغی. زرګل یې په خپله پراخه غېږه کې ونیو. ماته یې سر وخوځوه:

– په خیر رالئ! زه هارون یمه. د مهرباني موسسې ریس.

ما په زړه کې ویل «اخ قوربانکه دې شم! معرفۍ ته ضرورت نشته» مګر په خوله مې جواب ورکه:

– جنتې شې! زه پرښته نوم هېږم. مورکۍ، پلارجان، عایشه خورکۍ، دواړه خوریان ښه دي؟

هارون په خندا شو. ما یې ټوله کورنۍ پېژندله. هغه د شولې له قاب سره تېز ووت. زما زړه ایله لړ مهار شو. د وړوکي مېز په ښیښه دوړه پرته وه. په کاغذي دسمال مې پاکه کړه. زرګل ته مې کړ:

– د خوار کار ډېر دی. دې ته یې پام نه کېږي.

– دقه سې! ما خو چیشی ویلي ندي.

د زرګل له رمزه ډکه څېره موسکۍ وه. ما نه ورکتل. شېبه پس هارون د ملګري د خوښې ماهیان او مستې راوړې. مخامخ کېناست. زه یې په دیدن نه مړېدم. زرګل وبنګېد «دسې مه ګوره!» سترګې مې دسترخوان ته کړې. یوه قاشقه مستې مې وسکلې. خوله مې یخه او تروه شوه. ټوله ورېږدېدلم. حیرانه وم چې بنیادمان دا څنګه خوري. زرګل غږ که:

– مایان وخوره! چې د ځمکې د ډوډۍ په مزه پوه شې! تا التـه...

ما ویل هله خدایه! ده خو رسوایي را اخېستې ده. په خبرو کې ورګډه شوم:

– غلی کېنه وروره! په بوی او خوند کې خپلوي نه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زرګل پام شو. رنګ يې وتښتېد. هارون ته يې په خندا خوله جينګه کړه:
– ټوقې ورسره کومه. دا د اسلامي همکاريو د سازمانه راغلې ده. اصل کې پښتنه ده.
ما ويل وه پاکه خدايه! دروغو ته څه حاجت؟ لوی لاس يې پام اړوي. مګر نه، هارون تازه شو. شروع يې وکړه چې څو پروژې لرو؟ له څومره بې وزلو سره مو مرسته کړې؟ څومره مو د عايد خاوندان کړل؟ که ستا سازمان پروژه راکې څومره بې کاران به په کار شي؟ زه پوه شوم چې په ما يې د ډونر خيال کړی. خندا راغله. هارون د ميز له جعبې لپټاپ واخېست چې د خپل کار ساحې وښيي. له ډېرې وارخطايۍ يې فولډر نه مونده. ما ويل:
– جنتي شې! د «روان کارونه» فولډر ته لاړ شه! په «اي» ډرايف کې دی.
هارون او زرګل رډ رډ را وکتل. زه شاته شوم چې دا مې څه بد وکړل. زرګل بيا کمک ته را ودانګل:
– دا خپلو کارو ته امدقه نوم ورکوي. وايي ستا به ام امدقه سې وي.
هارون په شک کتل. ما له زرګل څخه په سترګو کې مننه وکړه. خو هغه پټ پټ خندل. هارون نقشه ومونده له. لنډه يې تشريح کړه.
زرګل يې په اشاره دهلېز ته بوت. وپسېد:
– دا دې څوک راوستې ده مړه؟ ماله يې مخ کې ځان لوڅ لېږ ښکاري. چې جاسوسه نه وي.
– دقه سې! بله خبره نه وه؟ تا ښه په رسمياتو پېجني. بېخي درپسې مړه ده. ههههه خدای درکړي.
هارون کټ کټ وخندل:
– ته خو دسې لګيا يې لکه رېبار. او ناوې دې ام له مخې راوستې ده.
– ای! لړ ځان ته ام جوند وکه! څو پورې به ټيکټري يې. دسې ښايسته جلۍ بيا نه پيدا کېږي؟ پاکه ده لکه کمکی حيوان.
– وه ميالي صيبه ی! دا خو جدي دی. کېنه مړه! اغه په نااشنايۍ کې زما جوند ته دونه ننوتې ده. روستو به څه حال وي.
زرګل يې له لاسه کش که. دواړه دفتر ته وګرځېدل. خو هارون اوس را ته مخامخ نه کتل. ويې ويل:
– خير ويسئ چې ماله رالئ! زه ولا د ډاکټرصيب دقيق سره غونډه لرمه.
خو ما د ديدن تنده ماتوله. دا مې لويه آرزو وه چې د خپلو آرمانونو له شاهزاده سره کېنم. خبرې وکم. خوږ آواز يې واورم. ښايسته سترګې يې وګورم. دا آرزو مې پوره شوه. د نن لپاره همدومره خوښي بس ده. بيا به يې ورلی نه شم. مخ مې زرګل ته کړ چې اصلي خبرې ته راشي، چې له مظاهرې يې منع کي. مګر هغه ژوره سا اخېستله. د جامو د ټنی په شان ګردې ورې سترګې يې بې واره تاوېدلې. ما اشاره وکړه چې څه خبره ده؟ زرګل مخ هارون ته وګرځوه. ويې ويل:
– د سيکولر غورځنګ د مشر سره دې چيشی کار ده؟
زما په مغزو کې کړنګ شو. وی خدايه، هارون سياست ته ځي. د زړه مراندې مې سستې او سينه کېکاږل شوه. لکه د هوا اکسيجن چې کم شوي وي. د هارون غږ مې پام واړوه:
– له ډاکټر صيب دقيق سره؟ الته په خيريه کارونو غږېږو. پير صيب تشويق کړی دی.
زما له خولې بې واکه ووتل:
– مه ځه! هيله کوم!
هارون په غټو غټو وکتل. ما نو کله ويلی شول چې د جوزا د شلمې په مظاهره کې سخت ژوبلېږي، او د ميزان د اتلسمې په مظاهره کې مري. وايي به ته څه خبره يې؟ ما ويل:
– جنتي شې! تا ته ښه ندی.
هارون وخندل. دې کې زرګل رامخ ته شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– مطلب يې دا ده چې بې طرفي به مو تا واني شي. ډونران به کومک ونکي.
– مو شکل نيشته. په خيريه کارو کې هرڅوک برخه اخېستلی شي. نه شي؟
– دقه سې! سياست ته دې کاږې ګوره. زما همصنفی دې هېر ده؟ امقه سې به دې کافر کي. جوندی به دې خښ کي.
هارون دا ځل کاږه وکتل. سترګو يې ويل ما خپل کار ته پرېږدئ! زرګل نه پرېښود:
– وه خدايه پاکه، مونږه خو پوپېږو کنه. نه تګ ستا په ګټه ده.
هارون خپل تېره نظر د هغه په سترګو کې خښ که:
– تاسې د پير صيب نه ښه پوپېږئ؟
– په دې کې؟ هو.
هارون کړس کړس وخندل. ويې ويل:
– ولا وبښئ! زه درسره وتلی نشمه. غونډې له بايد ځان تيار کمه.
سخته بې وسي وه. زړه مې وپړسېد. زرګل وروستي زورونه وهل:
– ای ای! مه کوګوره! خبره ومنه کنه! په بالله، په ثمت الله، په جوند کې چې لويه غلطي کوې امدا ده.
هارون موسکی و. لکه له ضدي ماشومانو سره چې ګير وي. دروازه يې خلاصه ونيوله. موږ مجبور وو چې ووځو. زه په خپل عمر کې اول ځل په لانجه اوښتې وم. له خولې مې سوړ اسويلی وخوت «اخ خدايه! هيڅ کار دونه سخت ندی لکه بنيادم په خپله ګټه پوهول» زرګل مړه موسکا وکړه:
– دسې ام نده. وخت ورته لرو. زما دفتر امدلته قلعه فتح الله کې ده. راځه يو چای مای به وسکې!
زما زړه ستړی و. خدای پاماني مې وکړه. په سېرېښا هوټل کې د خپلې کوټې کړکۍ ته ودرېدلم. د لمر اخېرنۍ پلوشې د ملي بانک او د افغانستان بانک په لوحو لګېدلې. نه پوهېدم چې د پيسو او قدرت حرص هارون سياست ته کشوي، که زړه ته يې کينه ننوتې ده؟ چې د زرګل خبره نه مني، نو د چا مني؟ پير السبي رایاد شو. په وړوکي مېز باندې لپټاپ ته کېناستم. په نېټ کې هم د پير صيب توري عينکې وې. خلکو په خورا شوق ده د بزرګۍ او سخاوت کېسې کولې. مګر د ټلېفون شمېره يې نه وه.
سهار زرګل ټلېفون ته جواب نه وايه. ما د هوټل اعتمادي ټکسي را وغوښت. مټک راډيو ته لاړم. زرګل نه و. له مظاهرې څخه يې ګوزارش ورکوه. زه کوټې سنګې ته پسې ورغلم. مظاهره ختمه وه. د وينې بوی مې زړه سست که. د ترکاريو، بوټونو او جامو کراچۍ درې وړې پرتې وې. خاوندان يې ګرځېدل که کوم د کار شی روغ پاتې وي. شمال کاغذونه او پلاستيکان ځغلول. ما شيطانان ليدل. تر هوايي سرک لاندې مستې موسيقۍ ته نڅېدل. زرګل له ماتې چوکۍ څخه پاڅېد. نزدې راغی. ويې ويل:
– جنګ لاړ. په جای يې بل غضب پيدا شو. ګوندونه په سيکولر او بنسټپاله غورځنګ وېشل شول. هريو خپل پلويان دسې کړې چې د بل وينې سکي. مظايرې ام په امقه وخت په امقه جای کې کوي. بيادا حال شي. مونږه يا نه کوو، يا د خره کوو.
– جنتي شې! په دې کې د مظاهره چيانو ګټه څه ده؟
– چې مشران يې قدرت واخلي.
– وروره پام پام! ښيښې دي. پښو کې دې لاړې نشي. نو مشران دومره پې ګران دي؟
– نه، دونه د بل غورځنګ نه کرکه لري.
– بيا زور يې د کراچيوان نه باسي؟ دوئ خو په دغه کار هم خپله دونيا خرابوي هم آخرت. څوک نشته چې پوه يې کي؟
– دقه سې! خبره کله اوري؟ هارون ته ګوره کنه! دا يې اغه اوښيار ده. بېګاه بيا ورسره وغږېدلمه. نه يې مني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاته شیطان روان و. خو ما ورکتل هم نه. خپله په لانجه ککړه وم. د جوزا شلمې ته څلور ورځې وې. باید د هارون مخه ونیسم. ټانکر راغی. په اوبو یې سرک پاکوه. شیطان ترپ وهل. موږ هم حرکت وکړ چې لامده نه شو. ما زرګل ته کړ:

– پیر صیب هارون له سیاسته ګرځولی شي. خو هغه ته به دوه میاشتې مخکې وار نیسې. زر نه کېږي؟

– کېږي. مونږ خبریالانو ته یې خاصه شمېره راکړې. زه به یې درکمه. خو ګومان نه کومه.

ما سمدلاسه ټلیفون را واخیست. پسته بیا پیر السبي کیسه وکړه چې هغه دا وخت د کوټې په سر کې په شنې چپنې کې تاو ناست و. توري عینکې یې سمې کړې. ګرد چارپېر ټولې نالی مریدانو نیولې وې. یو معلمې له ذهني ودې څخه پاتې زوی راوست. په سترګو کې یې شک و. لکه چا چې په زوره راوستې وي. پیر صیب په سوزېدلي غږ وویل:

– بچې! دواړه کرېټه ناک دې بېرته ویسه! د معلمی ځونه ماش دی؟ خپلو اولادونو ته یې ورکه!

هغې ناک په اوله تلاشۍ کې ورکړي وو. حیرانه وه چې دی چا خبر که؟ پیرصیب ته زما زنګ راغی. هغې داسې کتل لکه د غولولو راز چې یې کشف کړی وي. خو پیرصیب موبایل بند که. د ښځې د زوی په سر یې شناوۍ تسبیح ووهلې. ویې ویل:

– ځه خدای دې جوړ که بچی!

معلمې په شک کتل. دا وخت د غټ تور ټیکري ښځې خپله لور راوستله. کلیوا له ښکارېدله. پیر صیب غږ که:

– دغې بچی یو کوټ ناک راوړي، او تا پیټځه کولچې لغماني پنېر. څه ضرور؟ تش لاس راتلی نشئ!

د معلمې سترګې له خپلې دایرې راووتلې. په پیر صیب یې عقیده پخه شوه. په پښو کې یې پرېوتله. مریدانو په زوره له کوټې ووېستله. ما بیا زنګ ووهه. دا ځل پیرصیب موبایل غوږ ته ونیو. موسکی شو:

– د پاسته غږ نه مې وپېژندلې بچی. اغه د عیدګاه مخ ته چې وې کنه؟ امر وکه!

– نامه خدا پیرصیب! دغه دی ذهن! امر نه دی، هیله ده. ما ویلې د مهرباني موسسې مشر بې وزلو ته غنیمت دی. اوس یې په دماغ د سیاست شمال لګېدلی. د چا خبره نه مني. که تاسې یې راوګرځوئ ثواب به وګټئ.

– هههه، په دونه ثوابونو څه وکم بچی؟ وښل کېږي ام نه. ځه خیر! سبا اته بجې دواړه ورځو. زه یې پې منم.

د زرګل خوله وازه شوه. پیرالسبي د هېچا لپاره دومره وخت نه درلود. زه په موسکا تر ماتو پېټیو واوښتم. وړاندې د برق د پایې پناه د تورو عینکو او توري لونګۍ سړي ټلیفون غوږ ته ونیو. وپسېد:

– زموږ ګرانه پاچا! که اجازه وي، د هارون کار به د حوزې آمر ته وسپارم!

زه پوه نه شوم چې کوم هارون یادوي؟ او دا پاچا څوک دی؟ ماته د هوټل په کوټه کې ترسبا انتظار سخت و. په تروږمۍ کې مې هنداري ته وکتل. بدن مې ځلېده. ځراغ مې ولګوه. د بدن رڼا مې پټه شوه. په توره چپنه کې مې ځان تاو که. د هوټل د هرکلي ځای ته لاړم. له یو خارجي سره په ویتنامي، له بل سره په هندي وغږېدم. د هرکلي د ځای مسئول هزاره ځوان وخندل. په انګلیسي یې وپوښتل چې څو ژبې موزده دي. ما ویل د افغانانو په هره ژبه غږېدی شم. ځوان هزارګۍ لهجې ته شو. په کیسو کیسو کې یې وویل چې زه او د ماما لور سره مینه لرو. خو ماما مې هغه بل چاته په پیسو ورکوي. ځینې دوستان وایي وتښتئ. ځینې وایي عریضه وکئ. حیران یو د چا ومنو؟ ما ویل د زړه ومنئ!

سبا زه او پیر السبي د هارون دفتر ته ننوتلو. لکه د منډې د مسابقې شپېلک چې وشي. هغه او پیت پزې نجلۍ سره وغورځېدل. د پیر صیب په لاسونو پرېوتل. لار ترې ورکه وه چې څه خدمت وکي. پیرصیب کېناست. هارون ته یې کړ:

– ای بچی! وایي د سیاست هوس دې ځان ته راکاږي. مه کوه! خیریه کارونه مه پرېږده!

هارون ما ته په شک وکتل. خو پیرصیب ته دومره خوښ و لکه د کلونو مجرد ته چې دسمال راوړي. ویې خندل:

– نه چرته یې پرېږدمه. زه د سیاست نه د خیریه کارونو د پراخېدا دپاره کار المه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیت پزې نجلۍ زرزې سترګې ورپولې. چای یې واچوه. پیرصیب سمدلاسه ګیلاس پر سر واړوه. ما پزه مونجه کړه چې ستونی به یې وسوزي. مګر هېڅ پېښ نه شول. ما ویل که نور نه وي غړخو یې خراب کړی دی. مخ مې هارون ته کړ:
– جنتي شې! چې خیریه کارونه سیاسي شول بیا نو خیریه ندي.
هغه کاږه وکتل. پیرصیب سر وخوځوه:
– پر ښته بچۍ رښتیا وایي. مه کلکېږه!
– په سر سترګو پیرصیب. څه چې تاسې وایئ.
دا خبره په ما لکه په غنم لو کې د اوبو غړپ ولګېدله. ما ویل هارون به د جوزا په شلمه په مظاهره کې برخه وانخلي. تقدیر به یې بدل شي. اوس نو باید زه د بنیادم د ژوند له خوږو او ترخو سمه خبره شم. څو خپل ګران ته د نژدې کېدو لار پیدا کم. سبا غرمه اول ځل د هوټل رستورانت ته ننوتلم. د پکتیا والو ډنډ کې مزه کوله. ایله پوه شوم چې بنیادمان ولې د ډوډۍ په خوند پسې ګرځي.
ربیرور سړي ته مې پام شو. د غټو سترګو ښایسته ښځه یې وه. مګر ده غلې غلې ما ته کتل. د بنیادمانو بې وفایۍ خفه کړم. د هارون لیدو ته مې زړه وشو. حرکت مې وکه. خو نصیب خپل کار کوي. د هر کلي په ځای کې د حوزې خپتور آمر ودرولم. پاسپورټ او ویزه یې وغوښتله. ما ویل زه خارجۍ نه یم. آمر نه منله. فورمې یې ډکولو ته راکړې. ویل څو موږ اجازه درکړې نه وي له هوټله به نه وځې. زما لاسو نه لکه لستوڼي وځړېدل.
د جوزا شلمه وه. ما له کړکۍ څخه په پښتونستان واټ کې مظاهرې ته کتل. له تودې هوا سره د «الله اکبر» نارې راتللې. زما سودا وه چې بیا به جنګ وشي. خو د هارون له خوا بې غمه وم. هغه د پیر السبي خبره په ځمکه نه غورځوله. د بنسټپالو د مظاهرې په سر کې موټر ښکارېده. په خلاصې باډۍ کې ربیرور کسان ولاړ وو. د سپینې لونګۍ والا په لوډسپیکر کې چیغه کړه:
– قسم په خدای چې شرعیت بالکل کامل قانون دی. خو سیکولران د دین او حکومت بېلول غواړي. موږ دا یهودو او نصارا جاسوسان پېژنو. د پرمختګ تر نامه لاندې فحاشا او اخلاقي فساد خپروي. اصل هدف یې د اسلام ختمول دي...
د هغه د خبرو په منځ کې به بل سړي غاړه اوږده کړه «ناره ی تکبیر» د الله اکبر درنده چیغه به پورته شوه. ما ته د عیدګاه په مخ کې هاغه ډنګر دکاندار رایاد شو چې زرګل ته مې د اوبو بوتل ترې واخیست. ما ویل کاش چې له هغه ځایه تللی وي. مګر نه. هغه ویل په دې خیال کې وم چې مظاهرې به مخامخ مکرویانو ته ځي. هارون بیا ویل د میوند د جادې د سیکولرانو مظاهرې ته زه هم شوقي راغلی وم. یو تن په لوډسپیکر کې خبرې کولې:
– خویندو او ورونو! بنسټپال خو تل ټاپې لګوي. مونږ شو کر مسلمانان یو. لمونځ کوو، روژه نیسو. خو مونږ وایو هر سړی پیدا دی خپل خپل کار لره کنه. لکه په کلي کې ملا او ملک، په دولت کې به هم علما د خلکو د عقایدو اصلاح کوي. او حکومت به نورې چارې مخ ته وړي. ټکر به نه راځي. دواړه به یو بل تکمیلوي. امدا د پرمختګ یوازینۍ لار ده...
هغه د پرمختګ باټې ویشتې. شاته یې پلویانو د موټرو ښیښې ماتولې، دکانونه یې چورول. ډنګر دکاندار ویل بنسټپال په پُلې محمود خان کې د عیدګاه لور ته راتاو شول. زه ګېږۍ ونیولم. پر خپل سیار دکان مې زر زر ترپال کشوه. مګر هغوئ را ورسېدل. د سپینو جامو او تور واسکټ شیخ را وګرځېد. ما ویل خیر کې خدایه! شیخ په شور کې نارې کړې:
– معدني اوبه!
ما د ترپال څنډه جیګه کړه چې بوتل ورکم. د ښځې میراثمړې تصویر ښکاره شو. متې او پښې یې لڅې وې. شیخ چیغه کړه:
– ای دا خبیث ام سیکولر دی.
څلورو ربیرورو سوټیان را واړول. ما سر په لاسونو پټ که. چیغې مې وهلې. بنسټپالو دکان چپه که. د انرژیانو بوتلونه وکولېدل. د سګرېټو، ژاولو او جوسو قطیان ډېرۍ شول. هرچا د خوښې شی چوروه. دې کې زه عیدګاه ته ننوتلم. د پنجرې دروازه مې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان پسې وتړله. چنګ ودرېدم. هم مې دکان ته ژړل، هم دتشي او ملا درد ته. بنسټپال راته سره او شنه کېدل. لکه زه چې يې د پلار دښمن يم. دروازه يې وجړکوله چې راپسې ننوځي. په لوډسپيکر کې غږ شو:

– زما مومنانو! موږ په چمن کې د مظاهرې رسماً اجازه لرو. سيکولران که په پينځو ديقو کې ونه وځي په زور يې باسو.

د عيدګاه د مخ بنسټپالو هم «الله اکبر» که. د حضوري چمن په لور وخوځېدل. په سيکرولرانو کې د سرې دربشۍ ځنهور ځوان پر بنسټپالو غږ که «اې ځناورو! که چمن ته ننوځئ وهل به وخورئ!» يو دم په زرګونه خلک سره ونښتل. منډې او کريکې شوې.

يو پوليس هوټل ته زما موبايل راوړ. ويل «ته آزاده يې» ما هارون ته زنګ ووهه. ټليفون يې بند و. زرګل په وزير اکبرخان روغتون کې د راډيو لپاره مرکې کولې. ټليفون يې نه جيګوه. زه پسې ورغلم. هلته د چا سر تړلی و. د چا لاس په غاړې پسې زانګل. څوک ګوډ ګوډ کېده. پخې ښځې په چيغو د زوی قاتل ته ښېرا کولې. ما غېږه ورکړه. هغې اول ځان کشوه. وروسته يې سر پر سينه راکېښود. موږ لکه مور او لور سلګۍ ووهلې. په پای کې مې د اوږد ګلدان پر دېوال نرمه کېنوله. زه ودانۍ ته ننوتلم.

په دهلېز کې مې د پايوازانو ترمنځ لار باسله. دې کې مې د خوک په څېره شيطان وليد. له لويې کوټې څخه ووت. بدن يې لکه سکروټه سور و. ما ته موسکی شو. زه په منډه هماغې کوټې ته ننوتلم. ورسره سم مې زړه لااااړ. پښې مې سستې شوې. هلته هارون پروت و. ټولې کورنۍ ورته ژړل. خور يې خوله بنده کړه. له خوشې کولو سره بېرته وازه شوه. د هغې اوښکې د غومبرې پر غټ تور خال وکولېدلې. دوه نرې نرې بچيان يې سونګېدل. نجلۍ د مور توره لمن کش کړه. ويې پوښتل چې په ماما يې څه شوي؟ هغې يوازې په سلګيو جواب ورکه. سپينږيري اوږده پزه په غټو ګوتو کېکاږله. مخ يې آسمان ته که:

– يا الله! زوی مې مړی ندی ځورولی مړی. دا نو ولې؟

زما ستونی ډک شو. زرګل نمجنې سترګې کړکۍ ته واړولې. زړې ښځې په وچ او ګونجې لاس هارون وښوروه:

– ای زويه! پاڅې! خوريان دې وايي مونږ سره مستي وکه!

د هارون يو رګ ونه خوځېد. ما د ژړا له حملې سره مقاومت کوه. د هارون مور سلګۍ ووهلې. غږ يې بيا جيګ شو:

– ستا خو موظايرې ميراتمړې نه خوښېدلې. خور دې پکې کونډه شوه. چا وغولولې؟ الله دې تبا کې!

ما خپل حواس کنټرول کړل. د دواړو يتيمانو پر سر مې لاس راکاږه. ټولو ته مې سلام واچوه. د هارون پلار ته مې کړ:

– غفور ماما! جنتي شې! ته لاره وکه چې زه او عايشه هارون په بل اړخ کو! خوبانې تروړې! ته دېخوا شه!

هغوئ حيران وو چې دا نجلۍ مو څنګه پېژني. د هارون خور عايشې راسره ورور ونيو. ما چاغې نرسې ته وويل:

– جنتي شې! نيم نيم ساعت پس يې بل پله اړوه! شڅېږي.

هغه موسکۍ شوه چې دا خبرې موږ درښيو. سېروم يې وباسه، لاړه. غفور ماما مړاوی مخ ما ته کړ:

– ډاکټر صيب! خدای له وګوره! هرڅنګه چې کېږي زوی راله بچ که!

ما ويل ډاکټره نه يم. خو پوهېږم. دا ډول مريض سل په سلو کې جوړېږي. هغه ټول راوګرځېد. ويې ويل:

– ښا؟ ډاکټران خو وايي دسې فلج دی چې د بچېدو امکان نيشته.

– نه ماما. ډاکټران بنيادمان دي. اشتباه کولی شي.

زرګل تېز وکتل. ټول د هارون د جوړېدو امکان ته خوښ وو. زما د خبرې راز ته يې پام نه شو. غفور مخ مړاوی که:

– خير ويسې لورې! اغو خو راله زړه باسلی و.

ما سر وښوروه. ماشومانو راڅخه سترګې نه اړولې. ورته موسکۍ شوم. هغوئ هم وموسل. خوبانې ترور دعا وکړه:

– خدای دې ښاده که لورې! آرمانونه دې پوره شه!

زما آرمانونه په هارون پسې تړلي وو. زړه مې لا ډک شو. د ځان د کلکولو لپاره مې له ترور سره غاړې واچوله. ما ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ځئ تاسې ډوډۍ وخورئ! غم مه کوئ! زه دلته یم. همدا مې وظیفه ده.
– وی، ډوډۍ مې دې زهر شي!
– خدای دې نکي! خیر دی! اتل او زلما به ورېږي وي. خوریان په هارون جان ګران دي.
کله چې هغوئ ووتل، زه یودم سلګیو په مخه کړم. د هارون لاس مې ونیو. خوله مې غوږ ته ورنږدې کړه:
– ای ګرانه! که په ځان نه یې، لږ په ما مهربانه شه! ستا د غم زور نلرم. زړه مې اوراخلي.
د زرګل اوښکې وبهېدلې. مګر هارون سترګه هم ونه رپوله. ګنجی ډاکټر راغی. د هارون نبض یې وکوت. ما ته یې کړ:
– جړا پرېږده جلکۍ! دوعا کوه دوعا! مېړه دې پېژنم. ښه سړی ده. خو سر یې داخیلي خونریزي کړې.
د مېړه کلیمې زما ټټر تود که. له موسکا سره مې اوښکې لا زیاتې شوې. ومې ویل:
– جنتي شې ډاکټر صیب! د مڼې اوبه یې خوښېږي. که نرسانو ته ووایئ چې ور یې کي!
– داه! ساده کېږه مه جلکۍ! دا ایچای نسي خوړی. چې د بلې دونیا عاجل ټیکیټ ورنکې!
ډاکټر لاړ. زه هم ووتلم. له جوسو ډکه کڅوړه مې راوړه. دروازې ته نزدې سپینږیري مریض د «مرم، مرم» نارې وهلې. کورنۍ یې وارخطا تاوېدله. یو کس یې په ډاکټر پسې ولېږه. ما د سرې ټوپۍ له ځوانه وپوښتل:
– ورورە! پلار دې څه تکلیف لري؟
– زړه یې تاښتي. شېربت توثیر نه کا. نه پېږو څخلې کورو کو؟
ما د مریض په تندي لاس کېښود. ومې ویل:
– جنتي شئ! دا جوړ تیار دی. دوا پې زور اچولی. د مڼې اوبه ورکئ ټک او پټری به شي!
له کڅوړې مې جوس ورکه. سړی ورو ورو آرام شو. ډاکټر هم وکوت. ویل خیر و خیریت دی. هغوئ په ما راوګرځېدل. دومره پاتې وو چې پښې مې ښکل کي. ځوان وپوښتل چې ته څنګه پوه شوې؟ زه یې په غوږ کې وپسېدم:
– پلار دې ویرېده چې مري. ما تش زړه ورکه.
ځوان کټ کټ وخندل. ما په زړه کې ویل د خدای نه جارشم. دلته په ځمکه خلک بل ته ښې مشورې ورکوي. خو ځان ته حیران وي. زرګل د هارون د پښو تلي سولول. د تندي دپاسه نیم ګنجی سر یې ځلېده. چاغ لاس یې وغځوه چې کڅوړه واخلي. ما ور نه کړه. خپله تاوه شوم. د وړې الماری دپاسه مې کېښودله. زرګل په ګردو سترګو مړې کتل. ویې ویل:
– اسې نده چې ما کوشش نده کړی. زه کاله ته ورغلمه. په کوټه کې مې بندي که.
– همالته به ناست وې! مظاهرې ته به دې نه پرېښوده!
– دقه سې! ناست ومه کنه. ټولو راسره جنګ وکه. وارونه، کنځا. پولیس غیبي پیدا شول. حوزې ته یې بوتمه.
ما په غټو غټو وکتل. دا خوار بندي شوی دی. ښځه او بچي به یې څومره وارخطا وو؟ زرګل دوام ورکه:
– غفور کاکا اوس پښېمانه ده. مونږه افغانان په خپلو ښو او بدو پسته پوېږو.
– جنتي شې! که بې ځایه غرور پرېدئ، او په خپلو باورونو شک وکئ، دا مشکل به کم شي.
زرګل تلي سولول ودرول. په چورت کې لاړ. هارون شټ وهل. ما یې ورغوي سولول پیل کړل. زرګل وپوښتل:
– تا ویلې تقدیر یې بدلومه. ونشوه؟
– نه کنه، د تقدیر بدلول د بنیادم خپل کار دی. بل کس یوازې کومک کولی شي.
زرګل زما خبرې ته بیا چورت یوړ. ما ته خپله کم عقلي را یاده شوه. ومې ویل:
– پولیسو زه هم کوټه قولفي کړم. ما ویل څه هارون د پیرصیب سره وعده نه ماتوي. بې غمه کېناستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرګل د هارون پښې پټولې، تندی یې راټول شو. وبنګېد «لکه لوی لاس» زه پوه نه شوم. هغه وپوښتل:
– پولیسو ولې مونږه دواړه بندي کړو؟ او چې مظایره وشوه بېرته یې خوشې کړو. آ؟
ما ویل له ده څخه هم لاره ورکه ده. خپلو کمزوریو ته پردي علتونه لټوي. موسکی شوم. زرګل جدي و:
– ټوقې نه کومه. تقدیر خو هوایي نه راځي. لاره ورته جوړېږي کنه.
زما په زړه کې وګرځېدل «ربښتیا وایي. لاره بدله که، تقدیر خپله بدلېږي» زرګل د هارون په مخ لاس کېښود. ویې ویل:
– مړی مې بنده وه. ده په یوه سا ډاکټر ته ورسولمه. چې دا مریض ده، زه ورته رپې رپې ګورمه. ته خو چیشی وکه کنه!
– جنتي شې! زما څه په وس دي؟
– ته ام ورسره مرې کنه.
– پربده یې! د میزان اتلسمه لېږي ده. او ما په بلا وهه! دا دې زر جوړ شي! چې خپلوان یې ځورېږي. زما څوک دي؟
– ولې زه دې ورور نه یمه؟
زما په رګونو کې اول ځل د خپلوی عاطفي تارونه وځغلېدل. اوښکې مې وبهېدلې. سر مې وخوځوه. وبنګېدم «ورور. هو، ورور» غږ شو چې د پایوازانو وخت ختم دی. زه وروستی ووتلم.
د جمعې په سهار پایوازان جوپې جوپې ننوتل. د غفور ماما کورنی هم راغله. هارون بې حاله پروت و. هغوئ یې د غږولو کوشش کوه. زه په کونج کې په جاینماز کېناستم. په غرمه کې پایوازان ووتل. ما زرګل ته اشاره وکړه چې ته هم ځه، زه یم. د امام په غږ پسې مې د ماسپښین لمونځ وکه. وروستی دعا مې کوله. زرګل له جوماته راغی. هارون ته غلی کېناست. په چورتونو کې یې د هغه مخ ته کتل. ناڅاپه هارون په چیغه پاڅېد. زرګل شټ وهل. سترګې یې ټېغې ټېغې وختلې. ما ته یې غږ که. زما له خندا سره سترګې ډکې شوې. هارون تېزه تېزه سا اخېستله. سترګې یې شا وخوا ګرځولې چې چېرته دی. ډوډی یې وغوښتله. زه په منډه ووتلم. د چرګ یخنې مې راوړه. زرګل ډاکټران راوستل. ګنجي ډاکټر د څټ وښتان وګرول. په خندا یې وویل:
– نه، په خدای که یې ومنم! ای خیرات وکئ ظالمانو! دا ډول زوبل په دونیا کې جوړ سوی نده.
سپین سري ډاکټر غږ که:
– ما یې دوا بدله کړه.
ګنجي پرته له مخ تاوولو وویل:
– ښه ده چې زبه د غوښې ده. په اسانه اوړي را اوړي.
ډاکټرانو هررر وهل. سپین سری تریو شو. ما په ټلیفون کې غفور ماما خبر که. هغه ویل نزدې یو. د شفاخانې مامورین لکه د معجزې لیدو ته راتلل. خو هارون وړی و. ډوډی یې وخوړه، وغځېد. زرګل د منې جوس ورکه. ویې ویل:
– ای ټیکټره! په خبره نه یې کنه. ودې لیدل؟
هارون د مظاهرې کیسه وکړه. په پای کې یې سر وځنډه:
– کاش چې مې ستاسې منلې وه.
– خیر ده. دې نه پس سړی شه! چیشی چې درته وایو امقه کوه! جوند به دې کوچ او پېروی شي.
موږ دربواړو وخندل. زما غوږ ته د غفور ماما غږ راغی. دهلېز ته لاړم. ټوله کورنی تېزه راروانه وه. ما ته یې ویل ستا خبره ربښتیا شوه. دوعاګانې یې وکړې. دننه زرګل له هارون څخه وپوښتل:
– درد مرد خو نشته؟
– په سر کې مې څرېکه ده. او بدن مې هډو زور نه الي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دقه سې! ټيکټر وي. زړه قچره شوي. زور د کمه شي؟
– اى وروره! مړى جوندى شو مه په ذالجلال.
– د پرښتې د برکته کنه. دوعا يې درته د اسرافيل شپېلۍ شوه.
هارون سترګې تنګې کړې. موسکى شو:
– يره نووووو...
– وه بيا يې نه منې؟ څنګه دې پوى کمه؟ اغه په تا بل ډول مېربانه ده. که ته مړشې اغه ام مري.
هارون پخ وهل. موږ ورسېدلو. خوبانې ترور زوى کلک ښکل که. شکرونه يې ووېستل. غفورماما، عايشې او خوريانو هم غاړې واچوله. زما پام شو چې هارون رانه سترګې نه اړوي. له ما لاره ورکه شوه چې څه وکم؟ هغه وويل:
– خير ويسې چې ماله دې دوعاګانې کولې.
زما بدن له خواږه احساسه ډک شو. سترګو مې نم وکه. موسکۍ شومه:
– وى، ته نېک بنيادم يې. هرڅوک درته دوعا کوي. په تېره غريبان.
زرګل نېغ شو:
– دقه سې! د غريبو دوعا ته خو مه کېنئ! د اغئ پرونۍ نېکي هېره وي. ننني يادوي.
– جنتي شې! نور پرېږده! ستا نېکي ستا خپل زړه او وجدان خوشحاله کوي. په دونيا کې تر دې لويه ګټه نه شته.
خوبانې ترور اوږد مخ را وړاندې که. ګونجې شونډې يې زما په مخ ولګولې:
– ښاده شې! ته څونه ښه جينۍ يې؟
ما اول ځل ښکلول احساسول. په بدن مې خوږه څپه تېره شوه. بېرته مې د هغې لاس ښکل که. مخ مې هارون ته واړوه:
– دوئ وېرېدلي وو. سا پکې نه وه. تر دا ناڅاپي شوقونو تېر شه! خپل خيريه کارونه کوه! تاوان دې څه دى؟
– بد به وکمه.
– وعده ده؟
– سل په سلو کې.
ټولو وخندل. خو هارون ماته په مينه کتل. ما ويل اوس به يې د نظر په خوږو کې ويلې شم. کړکۍ ته لاړم. تر شا مې د هغه نظر احساسوه. د روغتون ونې تر پخوا ډېرې شنې ښکارېدلې. د هوا په تنفس کې هم بېل خوند و. مخ مې بېرته را وګرځوه. ټول په خپلو کې غږېدل. هماغه د خوک په څېره شيطان راغى. بدن يې له قهره لمبې کولې. په سوکانو يې د هارون د وهلو تمثيل وکه. زه ورته له لېرې وبنګېدم «شيطانه په لعنت شې! ځه!» هغه غا ښونه وچيچل، لاړ. هارون وليدلم. زرګل ته موسکى شو. وپسېد:
– مړه! دا څه وو؟ لېونۍ خو نه ده؟
ما واورېدل. ما ويل کاش چې زرګل يې شک لېرې کې. مګر نه، هغه تش وخندل. هارون دوه ورځې نور بستر و. زه لکه د ديدن ملنګه، شپه او ورځ په حويلۍ کې پرته وم. له هرې موقع سره د ننه ورتللم. د هغه زړه تنګ و. د وخت تېرولو لپاره يې خپلې کيسې کولې. که څه هم ما ته معلومې وې، لېکين دده له خولې يې بېل خوند کوه. بله ورځ يې رخصت که. بې اندازه خوشحاله و. په سبا يې زه او زرګل له ځان سره دفتر ته بوتللو. همکارانو يې د کېک په غوڅولو ولمانځه. ماته يې په خپلو ګوتو د کېک ټوټه را کړه. اخ! عجيبه خوند پکې و. بس، ژوند هماغسې روان شو چې ما غوښت. بل سبا مې کاغذونه په مېز وغړول. ما ويل:
– دا د يوې پروژې طرحه ده. ته يې وګوره!
هارون پاڼې واړولې. ويې خندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– خیرویسې! پروجه به راله څوک راکي؟ د اسلامي همکاریو سازمان؟
– نه نه. د خوراک نړیوال سازمان.
– ښه ښا. دا خو ماله زېردسته ښکاري. لږ کار پکې شته. زمونږ د موسسې قوتونه سم ندي راغلي. زه مصروف یمه...
– جنتي شې! زه یې تکمیلوم. ته بس، مشورې راکوه!
ما ځان ته بیا پلمه جوړه کړه. هره ورځ دیدن ته ورتلم. د هغه له نزدېوالي مې خوند اخېست. بالاخره طرحه تکمیله شوه. زه پوهېدم چې هغه به ډېر خوښ شي. ما ویل نن یې ورځ ده. لږ ذره به د مینې خبره هم وکم. وګورم چې څه وایي؟ ټوله لار مې زړه ډبېده. مګر هلته بل ښویه سړی ناست و. پر مېز پخوانۍ دوسیې او کتابونه نه ښکارېدل. دفتر له ډېر پاکوالي ځلېده. سړی په موسکا پاڅېد.
لاس یې روغبړ ته وغځوه. د بُست د دروازې مرمرینه نمونه ولګېدله. هغه چټک ونیوله چې ماته نه شي. ما وپوښتل:
– جنتي شې وروره! ریس صیب چېرته دی؟
– هارون؟ اغه استېفا وکړه. زه ریس یم. امر وکئ جان!
زما رنګ بدل شو. وه خدایه زه یې ولې خبره نه کړم؟ کاغذونه مې په مېز کېښودل. ومې ویل:
– موږ د پروژې طرحه جوړه کړې وه.
ریس کاغذونه خلاص هم نه کړل. ما ته یې خواږه خواږه کتل:
– په سترګو جان! د داسې ښایسته جینۍ طرحه به وي زه به یې ردوم.
زړه مې ویل لاړه د موسسې ادې بوره شوه! کارونه هاغه وخت شړېږي چې مخ تر مغزو مخکې شي. خدای پامانې مې وکړه.
دروازه وازه شوه. هماغه پیت پزې نجلۍ راغله چې له هارون سره مې لیدلې وه. زرزې سترګې یې ورپولې. نرۍ غږ یې نرم که:
– ایجازه ده؟ باح باح! موبارک موبارک!
له موسکا سره یې په ګرد مخ کې غټې شونډې ویټې او وړه پزه لا پیته شوه. ویې ویل:
– مال یوازې ریس صاب بدل سوی دئ. دا خو ورسره ټوله دفتر فیشن کړی دئ.
– غریبانه هڅه ده جان.
– شه؟ دا غریبانه ده؟ دفتر ګر سره نوی نزی سو. مال زه ساجیده نومېژم. هره میاشت د بې وزلو دپاره مرستې اخم.
– وبه ګورو جان. کېدی شي مرستې زیاتې کو. چای، قهوه؟
ساجدې سترګې په ناز ورپولې:
– بلا دې پر چای سي! په هر کور کې سته.
دواړو کټ کټ وخندل. زه ووتلم. هارون ټلیفون ته جواب نه وایه. ما ویل خدای دې وکي چې روغ وي. زه مټک راډیو ته لاړم.
ځوانان پر جیګري کوچونو شخ ناست وو. زرګل د مېز له شا څخه سپار ښتنې کولې. زما په لیدو پاڅېد. ویې ویل:
– نن امدقه کار ضرور ده. ځئ نو ویې کئ!
هغوئ سخ سخ ووتل. ما په دېوال باندې د کلیوالو تصویر ته کتل. د غنمو لو یې کوه. د زرګل غږ مې واورېد:
– هارون سیکولرانو ته لاړ. د ارتباطاتو د څانګې مشر دی. ډېرې پیسې اخلي. ماکوشش وکه. نه راګرځي.
زه د همدې پتې اخېستلو ته راغلې وم. ښنه مې وغوښته. چټک ووتلم. هارون مې د سیکولرانو په مرکزي دفتر کې د لوی مېز شاته وموند. له څوتنو نېکټایي والو سره یې د پوستېرونو نمونې غوره کولې. ما وپوښتل:
– جنتي شې! تاسره یوازې غږېدی شم؟
نور کسان ووتل. هارون موسکی و. موږ په کوچونو کېناستو. هغه له ترموز څخه چای واچوه. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– خوشاله شومه چې دلته رالې ښاپېرۍ!
– زه پرښته یم.
– پوهېږمه مرې. واله چای واله! ښځې د ښایست په صفت چاغېږي.
– جنتي شې! اصلي ښایست پاک زړه دی. تا وعده کړې وه چې خیریه کارونه به نه پرېږدې. هېره دې شوه؟
– هههههه تاسې جونې چې هره وعده ماتوئ هډو خبره نده. چې الک یوه ماته کړه آسمان پرېوتو؟
– نه کنه. تاته خدای پاک بیا ژوند درکه! شوکر وباسه! مه یې بربادوه! خپل کار ته بېرته لاړ شه!
– اغه کار ته؟ گټه مې څه ده؟
– گټه دې بې اندازه ډېره ده. پسته پوهېږې.
– ولا زه دستې گټه غوارمه. دلته پیسې دي، بره تګ دی. مزې دي.
هره خبره یې زما په زړه گوزار و. ما له بدن څخه د قوت وتل احساسول. ژوره سا مې واخېستله. ومې ویل:
– جنتي شې! درې زره کاله مخکې په گندهارا کې یو عادل مشر و. قوم یې هره خبره منله. بله ورځ یې زړه ته هوس راغی. ویل زور لرم، زر لرم. پېغلې مې خوښېږي. ولې یې نه کوم؟ نو هره میاشت یې یوه په زور ودوله. سپینږیرو که څومره ویل مه کوه، نه یې منله. بالاخره د خلکو د زغم تښا که وچوه. سره کېناستل. جرگې ځوانانو ته امر وکه چې کور یې وسوزوئ او له ملکه یې وشړئ. هغه چیغې وهلې چې تاسې زما عسکر یئ. زما خبره ومنئ! ځوانانو ویل موږ د عدالت عسکر یو. هغه په تا کې نشته.
هارون وخندل:
– څه مرې! دا خوشې افسانه ده. زه نه د چا لوڼې په زوره المه، نه مال.
– د زر او زور د پاره سم کار پرېږدې کنه؟
– هه، ستا سم کار ماله څه راکړل؟ نه مې څه ولیدل، نه وخوړل. ځان مې هېر و. شپه او ورځ مې نه پېجندله. چې مړ کېدمه څوک مې تپوس له رانغی. ښه، که مړ ومه؟ اغې دونیا کې به ملایکو امراپورې خندل. نه نه، بس دی. نور ځان له جوند کومه.
ما لیدل چې هارون د خپل ضمیر خلاف غږېږي. ومې ویل:
– جنتي شې! ته خو پوهېږې؟ ښه ژوند په عزت کې دی.
– ههها او ایزت په پیسو کې دی. که چرته وزگاره یې کېنه چای وسکه! زما کارونه دي. اوبو سکلو له وخت نیشته.
هغه مېز ته تاو شو. زما د پښو لاندې ځمکه وزانگېدله. سربداله ووتلم. سیخ د هارون مور او پلار ته ورغلم. هغوئ وویل چې زموږ هم سودا وه. خو زوی قناعت راکه. ما په ټلېفون کې له پیر السبي څخه کمک وغوښت. هغه وخندل:
– بچې! زه فکر کوم انتخاب د هارون حق دی. دلته خو دېموکراسي ده.
زه بیخي ناامیده شوم. یوه هفته له هوټله ونه وتلم. ټلېفون مې هم بند و. زرگل پوښتنې ته راغی. د هرکلي مسئول وویل:
– بلا جینۍ ده. دوه ورځې شخه پخه ناسته وي. لکه ناځکه. نه ولړه، نه تنده. هههههه.
زرگل کوټې ته راغی. د تخت په ژۍ راسره کېناست. ما له یخچاله اوبه ورکړې. هغه بوتل ته کاږه وکتل:
– په دونه نام او نشان کې تشې اوبه؟ اینرجیانې، جوسان وباسه! زما وږې خورې!
– وښه وروره! ماته الله پاک د میاشتې خرچه مقرره کړې. هغه خلاصه ده.
– ښه ښا. ټوقه مې وکړه. پیسې به زه درکمه. ورور نو چیشته په کارېږي؟
– نه خیر یوسې! هسې خو لږې راسره شته. خو راک ته خاص ضرورت ام نه لرم.
– هو، تا ویلې پرښتې نه وږې کېږي. ای راځه دا معده بدله کو. هههههه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما هم ورسره وخندل. سر مې وخنډه:
– جنتي شي! تاسې عجيبه مخلوق یئ. په دونه غمونو کې خاندئ.
له هارون سره د لیدو مې ورته وویل. په پای کې مې په دې ختمه کړه:
– هاغه پخوانی هارون ندی. چې ټولو ته یې په یوه سترګه کتل. اوس د یو چا په ضد د بل چا سره ودرېد.
– زه ویمه امقه کس یې بیا د مغزو سویچونه بدل کړي دي. د خوبانې ترور ښېرا ته دې پام نه و؟
– تا د هارون نه پوښتنه ونکړه؟
– ومې کړه! سور شو. ویلې زه خپله ښه پوهېږمه او، ماسټري لرمه، داده او اغه ده. مګر نه، ځوک شته.
– جنتي شي! که دا کس پیدا کو ببرته یې ګرځولی شو.
– بالکل. ګوره خوري! کار کوه، خبرې زړه ته مه اچوه! زمونږه زیاتره مرضونه د غمه دي.
د سرطان پینځمه شوه. د میزان اتلسمه په منډه نژدې کېدله. ما په پوښتنو پوښتنو ډېرې کوځې سترې کړې. د هارون تشویقګر پیدا نه شو. نو په چادري کې مې ځار پیل که. سر مې دروند و. خولې مې کولې. زړه مې تنګېده. لاره مې سمه نه لیدله. ما ویل آفرین هاغو ته کې چې ټول عمر چادري ګرځوي. ماسپښین د هارون موټر له دفتره ووت. زما ټکسي هم حرکت وکه. هغه زاړه ښار ته لاړ. ځادر یې له ځانه تاو که. په تنګو کوځو ګډ شو. زه ورپسې وم. هغه د دېوال له کونجه ګلابې دروازې ته وکتل. خلک راغلل. هارون شاته لاړ. زه یې په هدف پوه نه شوم. همدا کار سبا بیا تکرار شو. ما له زرګل څخه وغوښتل چې د کور په باب معلومات وکي. هغه ماښام ټلیفون وکه. له خندا شین و. ویې ویل:
– ګل دې په مخ، البته ښځې ځان خرڅوي.
زه خوشحاله شوم چې هارون هلته په تګ شرمېږي. لا یې د اخلاقو دېوال ساتلی دی. که نه، زما د مینې د کلا دېوال به هم چپه و.
بله ورځ د فراغت د کلیزې په پلمه دفتر ته ورغلم. سور چرګ مې اخیستی و. د دفتر مامورینو وخندل. هارون راته حیران شو چې دا نېټه مې څنګه په یاده ده؟ په خندا یې چرګ په غېږ کې ونیو. لاس یې ورباندې نرم کش که. ویې ویل:
– په ورکوټوالي کې مې امد غه شان چرګ لرلو. سخت راباندې ګران و.
ماته یاد وو. هاغه چرګ بیا ورک شو. هارون ورپسې پوره یو کال خفه و. ما سر وخوځوه:
– خبره یم. ستا دوه شیان ډېر خوښېږي– له غریب سره کمک کول، او چرګ ته په ورغوي کې دانه ورکول.
هارون له خندا شین شو. پخې ښځې د مېې جوس او رنګارنګ وچه مېوه راوړه. موږ مخامخ کېناستو. هارون نه راکتل. د چرګ په شا یې لاس کشوه. موسکی موسکی کېده. شونډې یې ورپېدلې:
– ما ویلې ته دونه پې مخې د کومه شوې؟ د آسمانه خو راکېوتې نه یې؟
زما زړه وښوېید. چې زرګل مې راز افشا کړی که څنګه؟ د هارون غږ مې واورېد:
– که د اسلامي همکاریو په سازمان کې ټولې جونې امداسې خیالیګرې دي؟
ما د هوسایې سا واخېستله. شکر چې خبر نه دی. هغه سر په موسکاکوږ ونیو:
– ولا چې ریښتیا شي دا زړه مې په تا خدایي باور لري.
اخ، ما همدا له خدایه غوښتل. ستونی مې ډک شو. ځان مې ټینګ که. ومې ویل:
– زړه دې غلط شوی ندی. خو زه د اسلامي همکاریو په سازمان کې نه یم.
هارون ته ټوکه ښکاره شوه. ما ویل ربښتیا وایم. هغه بیا وخندل. چرګ یې خوشې که. زما لاس یې ونیو. محرمانه وپسېد:
– دا پرېده! زما او ستا خبره کوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما لاس لکه وینه سور شو. پوستکي مې له ناپاک تماس سره حساسیت وښود. ما ویل د خدای تعالی له کارونو جار شم! په دونیا کې هر خوسا شی یا رنګ لري یا بوی. یوازې خوسا فکر نه لیدل کېږي، نه بوی کېږي. لاس مې کش که:

– جنتي شې! ځان مه ګوناکاره کوه!

– کېنه مرې! دې کې نو څه ګونا ده؟

– ده کنه. ته پاک زړه لرې. په ناپاک فکر یې مه ځوروه! هاغه په زوره ښار کې خراب کور ته هم مه ځه!

هارون تک سور شو. اول ځل ورته د بداخلاقۍ ګوته نیول کېده. دروازې ته یې وکتل چې چا اورېدلي نه وي. غېږ یې ټیټ که:

– ای چاله ونه وایې! التهمې کار و. دې کې نو څه خبره ده؟

زه د هغه د پاک ضمیر وارخطایۍ ته موسکۍ شوم. خو د هارون په مخ کې یو دم قهر راوخوټېد:

– ودرې ودرې! ته څنګه خبره شوې؟ ما څارې؟ آ؟ بل ډول جینۍ یې ولا. تاله یې څه؟ آ؟ پاڅې وځه! چرګ دې ام وله! وځه!

– جنتي شې! ته خبره واوره! ته کېنه!...

خو هارون خبره نه اورېدله. له متې یې کلکه نیولې وم. دروازې ته یې کشولم. زما هم حوصله تنګه شوه. ټېل مې وهه. ما ویل خوشې مې که! د هارون غټ ځان لکه توپ وار شو. د چرګ کټکټاک وخوت. تر څو پخه ښځه رسېدله، ما جیګ که:

– وی خدایه! ژوبل شوې؟ زما دې لاس مات شي...

د هارون سترګې له خپلو دایرو راوتې وې. سا یې سوزېدله. په څخېدو شاته لاړ. ویې ویل:

– لرې شه! ته جینۍ نه یې. شیشکه یې. وځه!

څه مې کولی شول؟ ووتلم. ما ویل خدایه نو! دلته خوښې ولې تل مېلمنه وي؟ له راتګ سره سم د تګ فکر کوي.

سبا هارون د شهرنو پارک کې منتظر و. ساجده راغله. زرزې سترګې یې ورپولې. څه یې وویل. دواړه له خندا چپه چپه واوښتل. تر رنګه څپرې لاندې آیس کریم ته کېناستل. ما له لېرې څارل. اور راباندې بل و. په خولو کې جپه جوپه وم. آیس کریم ختم شو. هارون د موټر دروازه خلاصه کړه. ساجده ونه ختله. روانه شوه. هارون یې مخه ونیوله. ما پولیس ته غږ که:

– ډګروال صیب! ډګروال صیب! هلته څه خبره ده؟

پولیس سیخ ورغی. ویې پوښتل چې مشکل څه دی؟ هارون له ناراحتۍ سره سره موسکی شو:

– ایڅ خبره نیشته. په خپلو کې غږېږو.

ساجدې د رسوایۍ له وېرې زر خدای پاماني وکړه. ما ځان ورسوه. چادري مې جیګه کړه. ایله مې دونیا ولیدله. ومې ویل:

– جنتي شې! ودې پېژندلم؟

ساجدې په تګ کې ټیټ او پاس وکتل. ما وریاد کړل:

– په مهرباني موسسه کې مو دوه ځله لیدلي.

ما خو بده خبره هم کړې نه وه. د هغې ټنډه تروه شوه. ما ویل ځه خیر! خپل مطلب ته راغلم:

– وبښه خورې! تا خو هارون ته ندي ویلي چې خیریه کارونه پرېده؟

ساجدې شونډې ویتې کړې:

– چیشي چیشي؟ زما پشکې څه کار دئ؟

– ښه؟ نو چا ورته ویلي؟

– نېخه.

ما د هغې په خبرو باور وکه. ودرېدلم. ساجده د برګرو له غرفې تېره شوه. بیا مې ورمنډه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وبښه خورکۍ! ما ویلې که هارون دې څوروي پلار ته یې ووایه!

ساجدې یخ وهل. وړه ټیټه پزه یې ښخې پیته شوه. ویې ویل:

– پر ما شه لګېږي.

زما سترګې دوه برابره شوې. له ځان سره مې ویل څورول څنګه ښه لګېږي؟ ساجدې کاږه وکتل:

– تا ته لکه چې نه ګوري.

ما له شرمه په غومبرو کې ګرمي احساس کړه. ومې ویل:

– وی، جنتي شې! زما هدف دا نه و.

– ځان ملایکه مه کوه بالا. هارون جان راته ویلي دي.

ساجدې پیکي ته څنډ ورکه. تېزه روانه شوه. زه ګنګسه ولاړه وم. یو موټر نابېره زما څنګ ته ودرېد. زه له ډاره شاته لاړم. چادري مې په مخ راغله. هارون کېوت. غټې خړېخنې سترګې یې تېرې وې. برک یې وهل:

– ته لېونۍ یې، که بل شی؟ هرچرته لکه لکۍ راپسې یې. څه وکمه چې ما نه لاس والې؟

– جنتي شې! سیاست پرېده!

زما زړه تنګ و. د چادري مخه مې بیا جیګه کړه. هارون سور شو. د جیګې پزې سږمې یې وپړسېدلې:

– څه څه جېنۍ! چټي چټي مه غږېږه! ځه! بیا په مخه رانشې! ځه!

– هیله کوم! زما او ستا ژوند سره تړلی دی.

د هارون ژامې ورېږدېدلې. یودم یې زما سترګو ته پنجه په تېرو ونیوله. غاښونه یې وچیچل:

– ای ای ای! لاحول ولا. اوففف. ورکه شه! لېونۍ!

هغه بېرته موټر ته وخوت. لکه زما د زړه زور چې ورسره تللی وي. اندامونه مې سست او ستونی مې تنګ شو. سر مې وګرځېد.

زرګل ته مې کیسه وکړه. هغه پر مېز د برق ساکټ جوړوه. نه پوهېده چې څه مشوره راکې. ما ویل:

– زه باید غورځنګونه پخلا کم. چې سوله وکې. چې د میزان په اتلسمه په مظاهره کې جنګ ونکي. چې هارون ژوندی پاتې شي.

– دقه سې! چې دونه غټ کار ته لاس اچوو. ولې خپله هارون نه راټینګوو؟

– هغه نه، نه یې مني. او ښکاره ورته ویلی نشو. د غورځنګونو خو په سوله کې ګټه ده.

د ساکټ یو پېچ په ژېړې ترکۍ قالینې ولوېد. ما جیګ که. زرګل سر وخوځوه:

– مننه. خیر ویسې! ما لې غورځنګونه خو یې ښخي نه مني.

– اوهووو! مه مې څوروه نو!

– بې ټوقو. نظرونه یې مختلف دي کنه.

– دا دی نو! په دونیا کې دوه بنیادمان هم یو شان نشته.

– آخو ده خو، مونږه په کور کلي کې ولې جنګونه کوو؟ یو د بل نظر نه منو کنه.

– هئ خیر ویسې! خپله دې ختمه کړه. ځکه خو د نظرونو سوله د ټولو سولو مور ده.

– آ؟ چیشي چیشی؟

– ته خپله وایې چې د جنګونو علت د نظر اختلاف دی. نو که نظرونه سره سوله وکي جنګونه هم ختم.

– ناممکنه ده.

– جنتي شې! داسې زر فیصله مه کوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار هسې هم ويښه وم. بام ته وختلم. هوا پاکه او تازه وه. شمال ښه لګېده. لمر نوی راوخوت. سترګې مې وبرېښېدې. ما ويل دلته لمر نه سهار زېږېږي، نه مازيګر. هرکله د طاقت احساس خپروي. خواره هم د طبيعت په قوت مالامال دي. د وګړو ذهن او ځان په جوش راولي. ځکه خو په هرڅه کې افراط کوي. هی چې دا اينرژي يې په ابادۍ لګولی. د دونيا هاغه سوکاله خلک به دا وو. تر رنګه چترۍ لاندې کېناستم. د «افغان» په نوم کتاب مې خلاص که. شمال د کاغذ پاڼې رپولې. هارون رایاد شو. هغه په خوله ځان خودخواه ښود. خو په سترګو کې يې مهرباني وه. ما ويل که خوله د کاواکه فکر استازې ده، ښه دی چې د زړه لپاره سترګې شته. اوس زما ټول اميد پيرالسبي ته و. مګر هغه په ولايتونو ګرځېده. يودم شور شو. زه د بام ژۍ ته لاړم. د استقلال ليسې مخ ته سيکولران راټول شول. عام خلک په شا لاړل. چنچڼې بې واره وچغېدلې. آن کوڅه ډبې سپي وتښتېدل. په سپينې درېشۍ کې ګردکی سړی مايکروفون ته ودرېد. د خپلې کاميابۍ په صورت کې د هېواد د پرمختګ ژمنه يې وکړه. هارون يې څنګ ته لاسونه پړکول. بنسټپال هم د زرنګار پارک بلې خوا ته ورسېدل. زه ووتلم چې هارون له ژوبلېدو وساتم. يو تن راته وويل تشويش مه کوه! د رهبرانو په موجوديت کې جنګ نه کېږي. جالبه وه. ما ويل کاش چې په هره مظاهره کې رهبران وي.

پير صيب شل ورځې پس د لوګر له لارې راغی. له څارويو او غلو دانو ډک سلګونه موټر ورپسې وو. د ښار په کونج کونج کې يې د خيرات ديګونه باندې کړل. شتمنو هم د ثواب لپاره يو قاب خوړ. زه په شش درک کې کلا ته ورغلم. آن واليان د جيګ ديوال څنګ ته په قطار کې ولاړ وو. خو پيرصيب زه سمدلاسه دننه وغوښتلم. ښويه ميدان ته يې بوتللم. ما پر يو صفاکار غږ که:

– جنتي شئ! د وچې نه په لمده لته ښه پاکېږي.

صفاکاران غلي وو. پيرصيب توري عينکې په ګوتو کېکاږلې. له يو څخه يې پاسپاس واخېست. ويې ويل:

– نه بچې! دلته لمده صافي نښلي. وچه ښه ده. وينې؟ ښه ته څنګه يې؟ ناراحته غوندې ښکارې.

ما ته د هغه کميني خوند راکه. له بل صفاکار څخه ما پاسپاس واخېست. پير صيب ته مې جواب ورکه:

– هېڅ کار مې سرُ نه نيسي. ستا کمک ته ضرورت لرم.

هغه سر وخوځوه چې وايه. ما پاسپاس وهل ودرول:

– که زحمت نه وي ماسره د غورځنګونو تر منځ سوله وکه!

– هههههه تاته لکه چې آرامه ناسته خوند نه درکوي. دا د څه دپاره؟

– د هارون لپاره.

د پير السبي تندی راټول شو. ما تېز تېز پاسپاس ووهه چې نژدې ورشم. ومې ويل:

– د غورځنګونو په دوښمنۍ کې د هغه بربادي ده.

– هه، وه بچې! په سد کې خو يې کنه؟

– نه اوس نه. په آينده کې.

پيرالسبي کټ کټ وخندل:

– ته له غيبو غږېږې. ماسره ډغرې وهې، څنګه؟ خير، ماته لکه لورګرانه يې. هر کار ته دې ولاړ يم.

– جنتي شې! د غورځنګونو مشرانو سره کله ګورو؟

– نه مې پرېدې نو. ښه ځه، نن اوله د اسد ده. زه دا ډېر وخت نه وم. لږ مصروفه يم. په لسمه به ورشو.

– سمه ده. وبه يې مني؟

– چېرته به لاړ شي؟ دواړه مې مريدان دي.

– اخ جنتي شې! د شيطانانو به زړه وچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیرصیب موسکی شو. ما یې لاس ښکل که. لکه چاییر سور و. شونډې مې وسوزېدې. ما ویل دا ولې؟ مخکې خو یخ و.
پیرالسبي اطمینان راکه چې مریضي نه لري. ډاکټران وایي دا یې د بدن خصلت دی. زه بېرته په خندا شوم.
د اسد تر لسمې زما کار هره ورځ د هارون دیدن ته پلمه جوړول وو. په هغه ورځ زه او پیر صیب د سیکولر غورځنګ دفتر ته ننوتلو. په دهلېزونو کې ښایسته وطني منظرې وې. ګردکی مشر په منډه له لوی مېز څخه راتاو شو. د پیرصیب په لاسو پرېوت. هغه یې د څټ بېر وبښتان ونازول. مشر ما ته خواږه وکتل. له موسکا سره یې ګېن بریتونه ارت شول. ما د استقلال لیسې مخ ته په مظاهره کې لیدلی و. د میز په سر په لپټاپ کې چا خبرې کولې. مشر د غوږبندولو ته لاس وغځوه. د تورې دربېښی شنه نیکټایي یې په ورېږ لرګینې لوحې ولګېدله. هغه په سرې وطنی غالی ولوېدله. مشر وخندل. لوحه یې ما ته وښودله:
– په ښېښې! دا وایي چې تاسو ځان ندی معرفي کړی.
پر لوحه لکیل شوي وو «ډاکټر محمد عامر دقیق» ما هم خپل نوم واخیست. ومې نه ویل چې څه کار کوم. ډاکټر دقیق سر وخوځوه. ما ته مهربان وبرېښېد. نرم غږېده. په ما یې کېک په زوره وخوړ. خوندور و. پیرصیب هغه باذوقه وباله. ما ځان لکه په خپل کور کې احساسوه. ځکه مې کاغذونه په لاس ورکړل. زړوره خپلې خبرې ته راغلم:
– ډاکټر صیب! زه غواړم په دغو شرایطو د غورځنګونو ترمنځ سوله راولم. او دا دوښمني ختمه کم.
د هغه سترګې په کاغذونو کې وې، خبرې یې له ما سره کولې:
– حم، دوښمني چېرته ده؟
– جنتي شې! د نظرونو دوښمني.
– په جمهوریت کې خو دا وي.
– اختلاف وي. دوښمني نه.
– څه فرق لري؟
– اختلاف زغمل کېږي، دوښمني نه. دې کې کرکه وي. چې مخامخ شي زړه یې غواړي په مخالف وار وکي، درد ورسوي.
– په ښېښې! په اختلاف کې پتاسې وېشل کېږي څه؟
– جنتي شې! په اصل کې ټول بنیادمان د یو مور او پلار اولاده دي. دي که ندي؟ اولادونه هرکله د نظر اختلاف لري. بیا هم په مینه کې ژوند کوي. نو چې کورنۍ قوم شي، قومونه ملت او ملتونه بشریت، مینه او خپلوي ولې لاړه شي؟
مشر کاغذونه بېرته راکړل. لاسونه یې ووړکول. ویې ویل:
– پیرصیب! دا خو بالکل سمه خبره کوي.
– ویې منه کنه بچی!
– بله لار نه لرم.
پیرالسبي ما ته وپسېد «وشوه؟» زه له خندا شنه وم. هغه پاڅېد. جومات ته لاړ. ډاکټر دقیق زما لپاره پاتې شو. همدلته یې جاینمازونه وغوړول. لمونځ مو وکه. ما جاینماز ټول که. هغه د مننې لپاره زما په مړوند منګوله ولګوله. ویې ویل:
– ستا د سولې شرایط مې ډېر زیات خوښ شول. په خپل غورځنګ به یې زه ومنم. خو د نورو په برخه کې به په ګډه کار کوو. دلته یوازې داخلي ارخ ندی. بهر ته به ځو، چې نړیوال همنظره کو.
ما ویل ښخي سمه ده. دې کې ډوډۍ راغله. مېز ډک شو. هر ډول کبابونه او پلوونه وو. ما ته سوال پیدا شو:
– جنتي شې! دا موږ درېواړو ته دي، که نور څوک هم راځي؟
– نه. دواړو ته. پیرصیب د بل چا ډوډۍ نه خوري.
– وښېښ! اسراف ندی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر دقیق کټ کټ وخندل. ما ویل:
– زه هم ورېږ نه یم. زما برخه راکړئ! ځان سره یې وړم.
ډاکټر دقیق بیا وخندل. سکرتړې ته یې غږ که چې له هوټله نور وغواړي. خو ما ټینګار کوه چې همدا اخلم. ډاکټر دقیق ځان او سکرتړې ته په قاب کې کباب واخېستل. پاتې یې بېرته په قطیو کې واچول. دوه لویې پلاستیکي کڅوړې ډکې شوې. د وروځو په اشاره یې وپوښتل چې صیبي شو؟ ما سر وخوځوه. ډاکټر دقیق د کباب مړی خوله ته کړه. ویې ویل:
– زمونږ د همکارۍ مې ویلې. تاته خو افغانان مالوم دي. چې ښځه د سړي څنګ ته راغله بس قیامت شو.
– پروا نه لري. مدا چې د نظرونو سوله وشي!
– ولا په ښښې! ماته پروا لري. زه د لوی غورځنګ مشر یم. د خلکو خولې رااوړي.
هغه د کباب په مړۍ پسې د انرژۍ غړپ وکه. ما ته دا ستونزه دومره لویه نه ښکارېدله. ومې ویل:
– وبه وایو خور او ورور یو.
– نه، نه کېږي. خلک زما کورنۍ پېژني.
– جنتي شې! نو څه وکو؟
– واده.
ما جیټکه وخوړه. ډاکټر دقیق ځان ناګاره که. لکه زما وارخطایي چې یې بېخي لیدلې نه وي. مخکې لاړ:
– د ټولنې ژغورل قرباني غواړي. او ته تشویش مکوه! دونه مینه درکم چې دونیا ته مو کیسې پاتې شي.
ما هک پک کتل چې دا څه وایي دا؟ دلته مې خپل تک سور مړوند ولید. دده ناپاک تماس ته مې غوني زیږه شول. مګر سوله ډېره مهمه وه. لویه سا مې واخېستله. ځان مې آرام که. پیرالسبي له جوماته ورسېد. ډاکټر دقیق د خدای پامانۍ لپاره ټوغ ټوغ تر کوڅې راغی. زه په لاره کې له ټکسي کېوتلم. سوالګرو ته مې خواړه ووېشل. د پیرصیب په کاروان پسې د بنسټپالو دفتر ته لاړم. هرچېرته کلمې او سورتونه ښکارېدل. د مشر پر دروازې «الحاج مولانا اعجاز الحق» لیکل شوي وو. چاغ، جیګ او ببر ږیري مولانا د پیرصیب د لاس مچولو ته ګونډه ووهله. د جالۍ خولۍ یې په ګنجي سر کړه شوه. په ما د پیرصیب دومره محبوبیت ښه لګېد. مګر د مولانا سترګو ماته پخواني پاچاهان رایادول. هغوئ به هم د قدرت او هوس په نشه کې خپل لنډ عمر هېر کړی و. چې پاچاهي به یې چپه شوه خپل تېر غرور او تکبر به یې دښمنان شول. هېچا به پناه نه ورکوله. خو خیر، ښه کار دا و چې مولانا هم پیرصیب ته د «نه» ویلو جرئت نه درلود. سوله یې ومنله. زه دومره خوشحاله وم لکه سوالګر چې یو میلیون ډالر پیدا کي.
موبایل مې وباسه. پر هارون مې زیری وکه. هغه ورټلم. زه خفه نه شوم. بالاخره به وپوهېږي چې زه یې خیر غواړم. د زرګل دفتر ته لاړم. ما ویل د مټک راډیو به اوله رسنۍ وي چې د سولې خبر خپروي. هغه تر ما زیات خوښ شو.
د اسد میاشت له خوښیو او شوره ډکه وه. له یوې خوا په اته ویشتم تاریخ د آزادۍ جشن ته تیاري نیول کېده. له بلې خوا د غورځنګونو تر منځ د پخلاینې زیری وشو. په رسنیو کې پیرالسبي ډېر ستایل کېده. غورځنګونو یو بل ته سپکې سپورې نه ویلې. یوازې یې د خپل اقتصادي، اجتماعي او خارجي سیاست پلانونه بیانول. نه مظاهرو لارې بندې کړې، نه د چا وښته ضایع شو. خندا بیا د هر کور په دروازه ننوتله. ما اوس له سیاست څخه د هارون د ګرځولو هڅې نه کولې. ضرورت څه و؟ هسې هم د میزان په اتلسمه مظاهره نه کېدله. هارون به ژوندی پاتې شي. ما اوس یوه ستونزه لرله– د هغه په ځان مینول. له دغو خیالونو سره د فروشګاه په سیمه کې ګرځېدم. آن د کابل د سیند خوسا بوی بد نه لګېده. د تازه ترکارۍ والا ته ودرېدم. ما ویل:
– جنتي شې وروره! ګوزاره څنګه ده؟
– چټ او پټ. قیمتونه کم شوي. ګټه ډېره شوې. زنده باد پیر صیب!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د هغه د لا خوښۍ لپاره ترکاري واخېستله، روانه شوم. د خلکو شور او خنداګانو خوند راکوه. لکه څوک چې له مرغیو ډک باغ کې ګرځي. نابېره د پُلې خشتي له خوا زرګونه مظاهره چیان راغلل. د ترکاریو کراچۍ یې چپه کړې. د مغازو او دکانونو ښیښې یې په تیږو وویشتلې. له پُلې باغ عمومي څخه بلې مظاهرې سر ښکاره که. هغوئ هم په لاره کې هر څه تالا ترغې کول. پولیسو د پښتونستان واټ لاره بنده کړه چې ارګ وساتي. بې طرفه خلکو په تېښته پیل وکه. دکاندارانو د خپلو دکانونو په مخ د آهن چادر تختې کشولې. رېړو والا له مال سره هر لور ته منډې وهلې. یوازې زه ولاړه وم. هارون ته مې سودا وه. دې کې مې د بدن غړي سست شول. د پُلې باغ عمومي په مظاهره کې تر ټولو زیات هارون وارېده. زه ور روانه شوم. ناڅاپه زرګل کلکه ونیولم. هغه مایکروفون د ګوزارش لپاره همکار ته ورکه. زه یې موټر ته وخېژولم. خو ما له هارون سره خبرې غوښتې. زرګل برګ شو:

– ته په خبره نه یې؟ خلقو بیا پړي شکولي. دا پرېده! غم راته مه ګوره!

زما زړه ډک و. لاسونه مې وخوځول:

– ولې؟ ولې؟ مشرانو خو یې د سولې وعده وکړه.

– نه پوهېږمه. زه ام امدقه ویمه.

زما زړه تر چوېدو تنګ و. ومې ویل:

– د هارون عقل چېرته دی؟ مشر یې وایي یو څه، کوي بل څه. دا بیا هم ورپسې دی.

مظاهرې په بېړه نژدې کېدلې. زرګل موټر ته حرکت ورکه. زه یې متېک راډیو ته بوتللم. هغه کمپیوټر ته کېناست. شېبه په شېبه له ولایتونو د مرګ ژوبلې خبرونه راتلل. ما هارون ته د ټلیفون کولو کوشش وکه. زرګل را وکتل:

– د مشرانو سره ستا غږېدل نه وو، په انګار تېل اچول وو.

زما زنګ تېرېده. خو هارون جواب نه وایه. زرګل ته مې کړ:

– تاسې بنیادمان ولې داسې یئ؟

– څنګه یو؟ پوه نشومه.

– سړی نه پوهېږي چې کومه خبره مو رښتیا ده کومه دروغ؟

–آ؟ ښه دا؟ دا د خوندیتوب دپاره.

– د خوندیتوب لپاره؟ د چانه؟

– د بنیادم نه کنه. اصلي دوښمن خو همذاته وي. زمریان وګوره! زیاتره په خپل منځ کې د ځمکې د ولکې په سر وجل کېږي.

– جنتي شې! هغوئ خو عقل نلري.

– ښه ده چې نه یې لري. دا به بل غم و.

– داه! ستا فکر دستي جنګ ته لاړ. دا نه وایې چې په سوله کې به مو ورسره ژوند کوه.

– دقه سې! د ځناورو سره؟ عقل یې نه مني.

– عقل یې څنګه نه مني؟ عقل خو د ټولو ژوندیو او بې ژونده موجوداتو د ساتنې مسئولیت دی.

– مونږه بیا وایو ټول موجودات زمونږه استفادې ته دي.

– بالکل دي. مګر له منځه وړلو ته نه.

– دقه سې! ګنګسوه مې مه خورکۍ! ای الیاسه! اورې! د کابل مظایره ختمه شوه. جلال آباد وصل که!

– جنتي شې وروره! زه تاسې ګنګسه کړې یم. څومره چې له ځان سره مینه لرئ هومره له ځانه کرکه هم لرئ. هارون ګوره!

زرګل د سټېډیو له دروازې بېرته راغی. د هارون مسېج یې راوښود. هغه له اخ و ډبه روغ وتی و. ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ټيکټر څنګه لېونی شو؟ چې چا يې د مغزو سويچونه بدل کړي؟ ولې د سې کوي؟ بايد مالومه شي.

زه په احمد شاه بابا مېنه کې د غفور ماما دوه منزله کورته لاړم. اتل او زلما د تاک تر چېلې لاندې لوبې کولې. کمکي بنيادمان مې ډېر خوښېږي. هغوئ دونيا نه پېژني. په ژوند ميين وي. زه هم ورګډه شوم. د لاس ګوتې مې په موټې کې ونيولې. څو کې يې ښکارېدلې. ما ويل منځنۍ ګوته مې کومه ده؟ ماشومانو پيدا کړه. بيا هغوئ ګوتې ونيولې. ما قصداً بايلله. د بنيادمانو له ربښتيني خوشحالۍ مې خوند اخېست. وروسته ټول ودانۍ ته ننوتلو. په دهلېز کې د زينې مخ ته تېر شولو. خوبانه ترور او غفور ماما په کوټه کې وو. شنو پردو او شنو توشکو د هارون خبره رايادە کړه. زرګل ته يې په ټوکه ويل دا يې زما ناوې ته جوړې کړې دي. ما ويل چې ځمکې ته راشم نو همدلته به اوسم. د هارون کونډې خور عايشې چای راوړ. ما خوبانې ترور ته کړ:

– جنتي شې! هارون څنګه دی؟

– هی لورې. ستر ګې مې پې نه مړېږي. د اينځر ګل شو.

– اوس خو يې کار ام ډېر نه دی.

– مونږ ام دا وايو. هاروني دی نو. ځان له يې لانجه وکتله.

– وېرېږي؟

– نه، د چا يې زامن په مځکه منډلي؟

– د هغه کارونه خطرناک دي کنه. مظاهرو ته ځي.

هغوئ يو بل ته وکتل. غفورماما اوږده پزه په غټو ګوتو کشه کړه. ويې ويل:

– زما ښځه خبرونه نه ګوري. ما ام څو ځله خپل زوی تلوېزون کې وليدو. خو دسې نه ومه خبر.

زه پوه شوم چې دوئ سياست ته تشويق کړی نه دی. چای مې زر وسکه. ما ويل:

– جنتي شئ! را ويې ګرځوئ! خدای مه که، بيا په بلا وا نه وړي.

د خوبانې ترور د نري مخ ګونجې زياتې شوې. وبنګېدله «وی خدای دې نکي!» غفور ماما غبر که:

– کور له راشي زه به يې خوښ شمه!

په وتلو کې ماشومانو غاړې راواچوله. زه په ټکسي کې له کوځې ووتلم. هارون په لنډکروزر کې راغی. اتل راته کيسه کوله چې پلار او مور ورته بېر وو. غفورماما پرله پسې سر خوځوه. ويې ويل:

– د کور ملکې ورکې شوې، چونګښې يې ملکې شوې. ته اوس مانه خبرې پټوې؟ هه؟

– وه ابا! کله؟ کومې خبرې؟

هارون له ډکې کڅوړې يو يو شی باسه. ماشومانو بيسکېټ واخېستل. خوبانې ترور غبر که:

– د مظايرو خبرې کنه. ډېر راله اوښيار اوښيار مه کېږه! اوښياره مرغۍ په دوه لومو کې نښلي.

پلار يې د زيتونو د تېلو بوتل له لاسه کش که:

– چالاکي مه کوه! سخی چې د چا په وندر کې لوی شي غاښونه يې نه ګوري.

– وه خدايه پاکه! تاسې د متلونو مسابقه پرېدئ! ښه ښا! پرښته راغلې وه. نور يې څه ويل؟

– نور څه دي؟ ته مو خبر که کنه!

– اغه غواړي ماسره په زوره واده وکي.

عايشې او ماشومانو کټ کټ وخندل. خو خوبانې ترور په خوله لاس کېښود:

– وی ی ی ی توبه! په سپکو به سپک شې په درنو درون. په اسې جينۍ پسې تومت تړي ای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هاو، ملایکه ده. ښه نو مانه څه غواړي؟ ته ووایه!
– ستا خیر غواړي.
– په ټوله دونیا کې یو زه یمه؟ نور څوک نیشته؟
خوبانه ترور غلې شوه. له کوټې څخه د نجونو غږ راغی. زلما په منډه ووتله. غفور ماما وویل:
– الکه، دونه بد سترګې به نه وي.
– ده کنه. هاو، زه مظاهرې تنظیمومه. څه وشو؟ پخوانی خطره نیشته نه. اغه یوه پېښنه وه لاړه. اوس ښې پیسې راکوي. بې غمه ډبله ډبله خرچه کوو. بره تګ پکې شته. این ولسمشری پورې. جوند خو اسې ام تېرېږي. ولې یې ښه تېر نکو؟
خوبانې ترور نوې شامپو او صابون واړول راواړول. ویې ویل:
– وی، زویه پیسې په بلا وهمه! د سر خیر دې وي.
غفور ماما غږ که:
– امین! څه ورله مه وایه الکه! ته چې بیمار وې زمونږ یې ډېر خیال ساتو.
– زه یې څه کومه؟ چې ما پرېدي. اغه بله بلا ده. د سړو زور پې نه رسېږي. یرېږمه چې لانجه راله جوړه نکي.
سبا هارون د سېرښنا هوټل د هرکلي ځای کې ناست و. لکه مار په سرمو کې پشېده. زما لاسونه تخنېدل چې په غېږ کې یې کلک ونیسم. چې دا زړه مې یخ کم. خو ګناه وه. نرمه یې مخ ته کېناستم. هارون غابنونه وچیچل. په دروند او پوخ غږ یې وویل:
– تا اوس زمونږ کور له لاس واچوه، هه؟
ما شاوخوا وکتل. هلته دوه کسه نور وو. ما غږ ټیټ که:
– جنتي شې! ځه چې کوټې کې وغږېږو!
هارون حرکت وکه. خو بېرته ودرېد. لکه زما ټېل وهل چې وریاد شوي وي. ګوته یې وځنډله:
– ای ای پوه شه! زما حوصله حد لري. ښا؟
– نه، ما خو ورته...
– تاله ځان څه شی ښکاري، آ؟ ماله شیشکه یې. نه مې خوښېږي، هاو. بیا دې زمونږ کره ونه وینمه! ښا؟
هغه شاکړه. روان شو. ما ورپسې کتل. لکه د ځیګر ټوټه چې مې د زړه له زور سره لېرې کېږي. وجود مې دروند شو. د تګ وس مې نه و. په کاواکو قدمو کوټې ته لاړم. پرمخې پرېوتلم. د هاروندا خبرې مې په مغزو کې ستنې چوخولې «نه مې خوښېږې» اوښکو مې بالښت لوند که. موبایل وترنګېد. ما راواخېست. له هغې خوا زرګل په ترنم وویل:
– په سره غرمه کوه خوبونه  میني لېونی کړې خورکی.
ورسره غنګ غنګ راته. هغه د الماری دروازه مخکې او شاته کوله چې عیب یې معلوم کي. ما وویل:
– ویښه یم.
– هههههه. زه تا نه کم نه یمه ګوره. د ټلېفون هاخوا وینمه. چیشی دې وکړل؟
– څه کولی شم؟ زه ښه کوم. خلکو ته بد ښکاري.
– چیشی؟ ولې؟
ما په ډک ستوني د هارون د راتګ کیسه وکړه. زرګل الماری پرېښودله. ویې ویل:
– دقه سې! ته ودرې! اوس تې پوټکی باسمه که نه. بېراګی!
– جنتي شې وروره! مه یې کوه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرګل ټلیفون بند کړی و. هغه سیخ د هارون دفتر ته لاړ. هلته ښویه ځوان د کارګوزارش ورکوه. زرګل له دروازې غږ که:
– ای ټیکټېره! ستا مو شکل د پرښتې سره چیشی ده؟
ښویه ځوان ودرېد چې مشر ته یې زیان ونه رسېږي. هارون جواب ورکه:
– وه! وه! تاله یې څه؟
– تاله یې څه. ته نه وینې اغه څونه ښه جلۍ ده؟ په تا څونه مېربانه ده؟
– اغه شیطانه؟ توبه! ته چې یې وینې تاله دې موبارک وي. تاویذ یې که!
زرګل وراندې ورغی. ځوان یې مخ ته ودرېد. ده هارون ته غاښونه وچیچل:
– غوږ کېده ای بېړاګیه! دسې جلۍ په دونیا کې بله نشته. ته خو شبخته یې چې اغه دې غمخوره ده.
– کېنه مړه! د اغې نه کچه په جېهان کې نیشته. ځه، ډېر راله مه ټنګېږه! حوصله نه لرمه.
زرګل یوه شېبه تېره تېره کتل. وروسته یې وویل:
– ته چیشی یې؟ آ؟ په چیشي نازېږې؟ خر یې خر. لکۍ به دې ام شنه شي د خیره.
هغه په غصه ووت. هارون ورپسې تر شا وښنګېد «چمچی» زرګل د هوټل د هرکلي ځای ته راغی. ماته برګ شو:
– بل څوک نه و؟ ته په چا میینه شوې یې؟
– بل به نو په چا میینه شوې وم وروره؟
– په غوبارې.
موږ په زوره وخندل. حویلۍ ته ووتلو، چې چا ته مزاحمت ونه کو! ما ویل:
– وروره! حالات له لاسه وځي. نن د اسد شلمه ده. د میزان اتلسمې ته تر دوو میاشتو کم پاتې.
د زرګل څېره هم مړاوې شوه. د تندي د پاسه په ګنجي ځای یې لاس وسولوه:
– سړی اوس پوهېږي، چې په اغو بندیانو چیشی تېرېږي، چې اعدام یې نزدې وي.
ما خپلې اوښکې ټینګې نه کړې:
– نه، د ځان غم ندی. خدای دې د میین درد په چا نه وینې.
د زرګل ګردې ورې سترګې هم ډکې شوې. ما دواړه ورغوي په سترګو وسولول. ومې ویل:
– وښنه! ما سره ته هم ځورېږې. نه پوهېږم. دلته په ځمکه مانه هر کار خرابېږي.
– نه نا. تا خپله وسه وکړه! هووو. نه خدای ته ملامته یې، نه وجدان ته، نه خپلې مینې ته.
زما سینه تنګه تنګه کېدله. عمیقه سا مې واخېستله. سر مې وښنډه:
– دا مې درد نه کموي.
– خو ورته وواېه کنه چې آسماني پرښته یې! بیا خبره مني. سیاست به پرېدي. قرار به واده وکړ.
– بې مینې؟
– دقه سې! نو مینه خو ونشوه. جوند خو بچ که کنه! بېرته به آسمان ته لاړه شي.
خبره یې منطقي ښکارېدله. خو دا کار سم د زهرو ګوټ و. زما د مینې ټول امیدونه یې لوپه کول. سبا په پښو کشولو هارون ته ورغلم. خدایي مې سا سوزېدله. هغه په حویلۍ کې له پیر صیب سره ګرځېده. شا یې وه. همکارانو یې له کړکیو سیل کوه. زه ور نزدې شوم. د پیر صیب سوزېدلی غږ مې واورېد:
– بچی! منم چې کار د ژوند دپاره دی، نه ژوند د کار دپاره. په سیاست کې پر مختګ شته. پیسې دي. قدرت دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما سترګې غټې غټې راووتلې «پیر صیب څه وایي؟ دا خو هارون لا کندې ته غورځوي» هغوئ لېرې کېدل. زه ولاړه وم. پیر صیب موټر ته وخوت. ورسره د کړکیو خلک هم ورک شول. هارون ایله اوس ولیدم. غاښونه یې وچیچل. راغی:

– ته په خبره پوهېږې که نه؟ درله مې ونه ویلې چې بیا مې سترګو له رانشې؟

مخ یې ساتونکو ته واړوه. ما ویل:

– جنتي شې! لنډه خبره کومه. خپله وځمه.

– ښه زر وایه! یوه دیقه لرې.

زما سینه کېکاږل شوه. سترګې مې پټې کړې. لکه په ځان چې ډز کوم. شونډې مې ورپېږدېدلې:

– دا سې ده، چې رښتیا شي زه، زه آسماني پرښته یم. ستا د بچولو دپاره ځمکې ته راغلې یم.

سترګې مې ډکې شوې. هارون یو دم په زوره زوره وخندل. په سختۍ یې ساتونکي ته امر وکه:

– الکه! هههههه دا وباسه! هههههههه دا آسماني پرښته. آههههههههههه....

یوې نجلۍ له دریم منزل څخه غږ کړ چې څه خبره ده؟ ده ته خندا د جواب موقع نه ورکوله. ما غلي غلي کتل. د زړګل اټکل هم په ښښه ونه لګېد. ناچاره دروازې ته روانه شوم. دې کې یو شیطان د اول منزل په دېوال ښویه ننوت. ما ویل که هارون باور کړی وای شیطان به مې نه لیده. اوس نو له سیاسته د هغه د ګرځولو هېڅ لاره نه وه. د میزان اتلسمه به سل په سلو کې زموږ د ژوند وروستۍ ورځ وي. اول ځل مې پر سر درد شو. حیرانه وم چې دا درد بیا څه بلا ده؟ نه لیدل کېږي، نه نیول کېږي چې له ځانه یې وباسم. د زړه د تشولو ځای خو مې معلوم و. د زړګل دفتر ته لاړم. د هغه خوله وازه شوه. د تندي دپاسه ګنجي ځای ته یې ټس ورکه:

– دقه سې! یانې پیر صیب یې تشویقګر ده، هه؟ عقل یې نه مني. پسې ورشه! وایه ولې؟

زما ایله اوس پام شو. رښتیا وایي. سبا کلا ته ورغلم. په تاکاوۍ کې جیګه او لویه کوټه وه. پیرصیب په شنه چپنه او تورو عینکو کې پینګ پانګ کوه. سره له ګرمۍ او ستومانۍ خولې شوی نه و. سوزېدلی غږ یې جیګ شو:

– بچۍ! سې شنبه د مراجعینو ورځ نده. تاته خو مې لور ویلي. راځه کېنه! سیل کوه!

هغه د مریدانو په قطار کې تشې چوکۍ ته اشاره کوله. زه ناستې ته راغلې نه وم. ومې ویل:

– پیرصیب! زه درنه خفه یم. تا هم راسره دښمني راخېستې. بېخي مې په سر درد دی.

هغه تېز شوټ وکه. مخامخ مرید بېخي ونه لید چې توپ څنګه تېر شو. پیرصیب ماته نږدې راغی:

– خدای دې نه کې بچۍ! دا څه وایې؟

– هو کنه. تاسې زما مخ کې هارون ته یو څه وایئ، پسې شا بل څه.

نور مرېدان لوبې ته په نوبت کې ناست وو. زما په خبره وېږسېدل. پیر صیب په آرامه وویل:

– توبه! زه بیا بل څوک ام نه، تا غولوم؟ خپله لور؟ کټه مې څه ده؟

– نه پوهېږم پیرصیب. هېڅ نه پوهېږم. پرون مې په دفتر کې ولیدلې. سیاست ته دې تشویقوه. ښه ولې؟

–آاا! ښه ښه! زه دې حیران کړم. اغه مې په سیاست کې دننه او بهر ژوند تشریح کوه. تا خبره نیمه اورېدلې.

ما چې وکتل رښتیا یې ویل. هلته زما چورت یو دم خراب شو. نورې خبرې مې وانه ورېدلې. اوس خجالته روانه شوم:

– زما ماغزه هم په ځای ندي. وبښه پیرصیب!

– پیرصیب نه، پلاره.

– هو، پلاره! لعنتي شیطان د سړي زړه ته ډول ډول خبرې اچوي.

د مریدانو په تورو عینکو کې سره رڼا شوه. زه ووتلم. په درملتون کې مې د سر درد دوا واخېستله. په چپنې کې د پیرصیب لوبې ته ایله اوس خندا راغله. دلته و چې راته سوال پیدا شو. ښه، دا د مریدانو په عینکو کې لمبه له کومه شوه؟ اندېښنې ونیوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چټک کلا ته ورغلم. ساتونکو نه پرېښودم. ویل پیرصیب استراحت کړی. ما تابلېت وښودل. هغوئ غوښتل زنګ ووهي. ما ویل ضرورت نه شته. په دوېمې تلاشۍ کې د دوا د خوړلو چل ښیېیم بېرته وځم. په دویمې تلاشۍ کې د اولې خلاف ټولو تورې عینکې اچولې وې. زما په لیدو د پنجرې شاته وښورېدل، وپشېدل. مشر یې د چټک وتلو امر وکه. زه ورته وپسېدم:
– جنتي شې وروره! دروازه خلاصه که! موږ باید پیرصیب بچ کو. مریدان یې ټول شیطانان دي.
مشر لا سور شو. په ټلیفون کې یې د اولې تلاشۍ ولاړ ساتونکي له وظیفې وشړل. له هغه ځایه دوه تنه په منډه راغلل. زه یې له متهو کشه کړم. ځان مې په پنجرې پسې کلک که. ما ویل دا څه کوئ؟ پیر صیب په مشکل کې دی. ما ورته پلار ویلي. هاخوا عینکې ساتونکي داسې غورېدل، لکه اوس چې قیامت کېږي. مشر یې د دېخوا پر کسانو چیغه کړه:
– ای احمقانو! بلا وهلي یئ؟ زر یې بوځئ! شاته درنه ونه ګوري! که نه، تاسې ام شړم.
ما ویل دا څه کم عقلان دي؟ زه وایم پیرصیب باید بچ کو، دوئ مې باسي. د دېخوا ساتونکو کوشش کوه. خو زور یې رابانديې نه رسېده. ما د هاخوا د ساتونکو په عینکو کې هم لمبه ولیدله «وه خدایه دوئ هم شیطانان دي، ځکه مې شړي» پیر صیب ته مې سودا لا زیاته شوه. دواړه ساتونکي مې ټېل وهل. د پنجرې بلې دروازې ته مې منډه کړه. په منګولو مې وجړکوله. دې کې مې دننه د ښویه میدان شاوخوا زرګونه شیطانان ولیدل. هریو لکه سکروټه، سره رڼا کوله. یوې ډلې لویه شاهانه څپره په اوږو جیګه نیولې وه. په څپرې کې د یو کس شا ښکارېدله. ځان یې د بنیادمو، مګر اوږده چنګه لکۍ یې لرله. د سکروټو تاج یې د نېغو ښکرونو په منځ کې ځلېده. د موسیقۍ غږ راته. په ښویه میدان کې د انسان غولولو د هنر سیالي روانه وه. همدا شېبه یې د افغان ملایانو تمثیل کوه. مشر له شاهانه څپرې څخه نمبرې ورکولې. زما له خولې ووتل:
– وی ی ی ی! دا خو ابلیس دی.
ساتونکو زما د متهو کشول سست کړل. د پنجرې دننه یې سترګې وګرځولې. یو تن وپوښتل:
– کېنه دروغجنې! ابلیس چېرته دی؟
– جنتي شئ! هو غه په څپره کې نه وینئ؟ تاسې دا موسیقي نه اورئ؟
دواړه ما ته ځیر شول، چې لېونی ده که څنګه؟ ما ناري کړې «ابلیسه! وینم دې» ابلیس سور مخ لکه سکروټه راواړوه. ورسره سم زما سا ودرېدله. ماویل وه خدایه! دا څه وینم دا؟ ابلیس بل څوک نه، خپله پیر السبي و.
زه پر تخت ستونی ستغ پرته وم. په وینبه مې سترګې پټې وې. له سږمو مې هوا له پشس سره وتله. پر مخ او غاړې مې د خولو څاڅکي ولاړ وو. چورت مې وهه چې دا څه وشول؟ په دنیا کې له ترټولو لوی دښمن سره مخ وم. داسې دښمن چې څوک یې ختمولی هم نه شي. خدای تعالی ابلیس ته تر قیامته ژوند ورکړی دی. یوازینی شونی کار د هغه د ضرر مخنیوی دی. ما ویل چې څنګه یې رسوا او خنثا کم؟ اول ځل مې ستونی وچ شو. پوهېدم چې کله کله مادي بدن هم څه غواړي. له یخچاله مې د اوبو بوتل واخېست. زړه مې و چې هارون او زرګل خبر کم. دې کې موبایل وترنګېد. نوم د پیرالسبي و. هغه وویل:
– ای! زه درځم. چېرته لاړه نشې لوررړي!
زما ماغزه وخوټېدل:
– خو له سمه خوځوه! ابلیسه لعینه!
– الا! پلار ته سپکې؟ ربنتیا یې ویلي (د مور او پلار زړه په اولاد. د اولاد زړه په وچ کاڼي)
ابلیس له کړس کړس خندا سره ټلیفون بند که. ما په خپلو اوږو ناستو پرښتو ته وکتل:
– په زړه کې خو راپورې خاندئ. کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوئ څېرې جدي وې. ما د اوبو غړپ وکه. نه پوهېدم چې ابليس څه غواړي؟ مازيګر هغه د موټرو د کاروان په سر کې راغی. د هوټل مامورينو يې د لاسونو په مچولو ټيلماټيل ونښلوه. ابليس زما کوټې ته په دروازه ننوت. د پېريانو په بڼه شيطانان بنويه بنويه له دېوالونو تېر شول. ما د وېښتانو کمڅې کولو ته دوام ورکه. په هنداره کې مې ليدل. د ابليس سپين مخ، برګې بريږې، لونګۍ او چپنې خلک تر تاثير لاندې راوستل. ما ويل «کاش چې ظاهر له باطنه رنګ اخېستلی» په غږ مې وويل:

– ته به تر څو په بدله څېره او بدل نوم بنيادمان غولوې؟ اخېر دې پېژني.

– کنه؟ څه ما خو د نوم توري سره واړول. ابليس مې السبي که. ته چې ښکاره وايې پر ښته يم تا نشي پېژندلی.

زما تندی راټول شو. ابليس، السبي– رښتيا هم په دواړو کې يو شان توري وو. ابليس خبرو ته دوام ورکه:

– افغان بنيادم ته يوه عقيده پيچکاري که! بيا يې په ښه او بد پسې نه ګرځي.

ما سر وخوځوه:

– زه اوس پوه شوم چې هارون او د غورځنګونو مشران ولې په وعده ونه درېدل.

ابليس کټ کټ وخندل. عينکې يې لېرې کړې. د سترګو ګاټې يې تک تور وو. منځنی خال يې نه درلود. ويې ويل:

– دا خو وړوکی دسمال و. چې واده وګورې.

ټولو شيطانانو هررر وهل. خو ما د ابليس خوله لټوله:

– چې له مانه څنګه خبر شوې؟

– هههه زه خو تا غوندې بې وسه او بې کسه نه يم. د اور د پاک ذات پاچا يم. هرچېر ته نفر لرم. بل ستا په غږ او څېرې کې ښکاره نښې دي. د ځان رڼا ته ګوره!

ما کمڅې ختمه کړه. څراغونه مې ولګول. اوس مې د بدن رڼا نه ښکارېدله. ابليس په ملنډو موسکی شو:

– ته څه وايې؟ ته مې اسې خوشې نازولې؟ نه. ما ويل د هارون نه به دې مايوسه کم. خو تا د مينې په افسانه ځان غولولی دی.

– داح! په تا پورې څه؟ ته چې له مينې کرکه لرې لره يې! زما خو تا سره کار نشته.

– وه دا خو د بنيادم نه هم کمقله دی. څنګه کار نشته؟ اول تا زما ګرېوان ته لاس واچوه کنه.

ما د تخت د منظمولو لپاره کمپله او روجايي په چوکۍ وغورځوله. د ابليس په خبره پوه نه شوم. کاږه مې وکتل.هغه وويل:

– زه تل وايم «مبين– يانې کمقل او بوين» دا دی ثابته شوه. ته تر اوسه پوه نشوې چې کابل زما پايتخت دی.

– پايتخت؟

– پايتــــــخت! زه خو يې هره پېړۍ بدلوم. نو نوی ځای مې لټوه. اول مې ايټاليا وټاکله. ما ويلې ښه واين او د مديترانې په غاړه د چکر ځايونه لري. خو اغه رذيلان چې مو هر څونه تشويقول په خپلو کې نه جنګېدل. وروسې انګليستان ته لاړم. اغو لعنتيانو هره خبره ښه سنجوله بيا يې پرېکه کوله. بيا اوزبکستان ته راغلم. التبه چا د ملي ګټو خلاف خبره نه منله.

– لنډه يې که! د کابل خبره کوه!

– هههه کابل جان خو کابل جان دی کنه. دلته مې د مشرانو خپټې وپړسولې. بس په پير صيب مشهور شوم. رهبران مې مريدان کړل. نوم مې د افغانستان ګوټ ګوټ ته لاړ. خلک مې يو متيازې نه سکي، نور هر څه مني. نو شرو شوم. ځان ته مې تخت او د مېلو ځايونه اباد کړل. د انسانيت او شرافت په ځای مې پيسه د ژوند معيار کړه. لاړ، اشرف المخلوقات سر وخوړ.

– نه يې منم. هارون دې اړولی نشو.

– بالکل. دا نمکحرامه لکه کوکری، مخامخ لکۍ ښوروي، پسې شا غاپي. خلک وروری ته بولي.

– هه، هغه بېچاره څه خبر و چې ته ابليس يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– بېچاره نه، لوی خبيث دی. بس سياست ته مې تشويق که. يو کس ته مې وويل چې په مظاهره کې يې ښه تربشل کې. دا خنډ چې مو جيګ کړی وای بيا نو د کورني جنګ پلان و. ورپسې مو د دوئ خارجي پلويان سره اچول. جهاني جنګ شرو کېده. خوندور ګېم روان و. چې درز شو، ته مردار مخې راکېوتې. د نظرونو سولې ته دې لاس که. دا خو زما پاچايي ختموي. زه دې پرېږدم؟

– بنيادمان چې ځورېږي؟

– بلا ورپسې!

– نه نو، داسې خو نه کېږي. ښه چې تاسې شاړو ته لاړ شئ څه مشکل دی؟

– وه ساده ی! البته څوک دي؟ څوک وغولوو؟ دونه چې زموږ سات دلته تېر دی ايچېرته نه و. دا زما د ولس مېله ځای دی.

– هه، نو ستاسو دپاره ولې بنيادم قرباني شي؟

– بايد شي! موږ د سپېڅلي اور د ذاته يو. بنيادم د مردارې خاورې.

– تا اشتباه کړې. بنيادم د ښه ژوند لايق دی.

– ندی. بېړا شی دی. زموږ اغه کمقلان د دوئ اغه هو ښيار ان غولوي.

– په نورو دې نه پوېږم، د هارون نه به لاس اخلې!

– ههه، زه پور غوارم دا نور غواړي.

– پوه نشوم.

– پوه به دې کم. ښه يې واوره! که بېرته آسمان ته لاړه نشې افغانان خبروم. عادي بنيادم به شې. بيا درباندې هرڅه کولی شم.

– فکر نه کوم چې ته داسې وکې.

– هههه ته وايې ستادا بدرنګه وربوز مې خوښېږي؟ يق!

– نه، وايم که بنيادمان پوه شي چې زه آسماني پرښته يم، بيا نو ستا خانه خرابه ده. هغوئ زما مني.

– ښه؟ ته مخته شه! چې پته يې ولګي. ای ما سره ډغرې مه وهه! د ميزان تر اتلسمې دې داسې وکړوم چې توبې وباسې.

– په خپله خو يې نشې کولی. په نادانو بنيادمانو يې کوې.

– وه کمقلې! مړ په څه شو چې سايې وختله؟

ما د تخت منظمول ختم کړل. په ژړ، کېناستم. د سرک له خوا په دېوال يو شيطان ننوت. ابليس ته يې په غوږ کې څه وويل. هغه کړکې ته وکتل. يو دم روان شو. لکه ډېر مهم کار چې پيدا شوی وي. ما ورپسې غږ که:

– زه به افغانان پوهوم چې د نظرونو په سوله کې د دونيا او آخېرت ګټه ده. او هارون به هم بچوم. لاس دې خلاص!

ابليس په ملنډو وخندل، لاړ. ما د هغه خبرې په فکر کې اړولې راړولې. ستونزه تر هغې ډېره لويه وه چې ما فکر کوه. کړکۍ ته مې وکتل. د څراغ رڼا ته د باران څاڅکي ښکارېدل. شپه مې نه خوښېدله. نيم ژوند خوشې په خوشې په خوب کې تېر کې. بل، د لمر له پرېوتو سره زما د بدن رڼا معلومېدله. وېرېدم چې خلک مې ونه پېژني. له ناچارۍ څخه پر تخت پرېوتلم.

هلته ابليس له ځان سره غورېده، روان و. د لوی تالار د جيګو ستنو ترمنځ يې درانده ګامونه اخېستل. په فرش شوې زينې د سرو زرو او قيمتي تېږو شانداره تخت ته وخوت. د سکروټې په کوچ کې کېناست. سور تاج يې د نېغو ښکرونو په منځ کې کېښود. د ياقوتو د جام تاوده شراب يې په ستونې کې تش کړل. مخامخ پر لويو چوکيو ناستو وزيرانو ته يې په سوزېدلي غږ وويل:

– ويم چې ستاسې دا مخونه ونه ګورم. د اور په پاک ذات قسم که په يو غړپ شرابو ارزئ!

غږ يې د تالار د زرګونو تشو چوکيو له پاسه انګازې وکړې. د ابليس هېڅ کار له خپل ولس څخه پټ نه و. د هغه تخت شيطانانو ته په ټوله دونيا کې په ژوندۍ بڼه ښکارېده. په تالار کې د ګوريلا په شان پلن او په وېښتانو پټ وزير وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زموږ مهربانه پاچا! غصه مه کوه! خیالي لکۍ او شاهانه ښکرونه دې خراب نشي.
ابلیس د جام ګوزار وکه. وزیر څنګ ته شو. د جام ټوټې په شرنګا تر چوکیو لاندې وکولېدې. ابلیس وویل:
– وشرمېږئ بې غیرتو! ستاسې پاچا ته یوې بدرنګې پرښتې ګوابښ وکه. ستاسي پاچاییې ونګوله.
وزیرانو سرونه ښکته واچول. د سکروټو بدنونو یې نرۍ نرۍ لمبې پیل کړې. ابلیس غړلا جیګ که:
– له نېستو مېږو، ملک شو بلو. ثابته کړئ چې تاسې مېږونه یئ! داسې سبق ورکړئ چې بله پرښته څمکې ته د راتګ جرئت ونکي.
ګوریلا شکله شیطان له لمبو ډکې سترګې پورته کړې:
– زموږ مهربانه پاچا! ختمه به یې کو. ابې به مړه شي. تبه به یې وشکېږي.
ابلیس د اور شراب بیا وسکل. تندی یې ګونجې او سترګې یې شخې شوې:
– کمقله! د پرښتو ژوند تر ابده وي. شکر چې ددې پرښتې لنډ دی. ای ماته سوال پیدا شو. ته مې ولې وزیر کړی یې؟
– هو ښیاریم کنه.
– لډر یې. د دوو خرو وربشې بېلولی نشې.
– وه زموږ د زړه سره پاچا! هیله کوم!
– مړګ! هیله مه کوه کار وکه! نن د اسد پینځه ویشتمه ده. اغه او هارون د میزان په اتلسمه په خپله مري. دا پاتې ورځې یې په غمونو کې سمه ولمبوئ! بغیر له ژونده نور هر څه تې واخلئ! په یاد ساتئ! اغې ته تر صحته پت او تر پته محبت ګران دی.
سهار نرۍ وړانګه له کړکۍ تېرېدله، په هنداري لګېدله. انعکاس یې د دېوال لرګین پوښ روښانه کړی و. ما ته پکې د خوښۍ زېری ښکارېده. هنداري ته ودرېدم. د هارون په سترګه مې ځان ته ټیټ او پاس وکتل. وېښتان مې خوشې کړل. له ډېر توروالي ځلېدل. نیم مخ، اوږې او ملا مې پټه شوه. شونډې مې ویتې کړې. ما ویل په موسکا کې څنګه ښکارم؟ خوشحاله وم چې د بدبختیو سرچینه مې وموندله. نور به پرې نږدم چې ابلیس مې مینې ته خنډ شي. اوس به نو هارون هم ومنې چې غولېدلی دی. له سیاسته به لاس واخلي. دا به یې تقدیر بدل کي. دواړه به ژوندي پاتې شو. خدای مهربانه دی د هارون پام به را واوړي. مینه به یې پیدا شي. اخې! له خونده ډک ژوند به نو هاغه وي. بېرته مې ټیکری په سر که. د مشورې لپاره د زرګل دفتر ته لاړم. هغه د موبایل په اندازه د ثبت اله کله چالانوله، کله بندوله. تلوېزون یې هم کوت. هلته پیر السبي غونډې ته وینا کوله:
– زما مسلمانو ورونو! دوعا وکئ چې خدایه! زموږ ایمان ته خیر کې! دونیا ګورئ له شیطانانو ډکه ده. یو ځوک به راشي تاسې ته به سل دروغ او رښتیا وواییي. ګورئ یو په یو یې مه منئ! اول په موضوع خپل باور ښه حاصل کئ! بیا یې ومنئ! کېدی شي په ما د ابلیس نوم کېدي. توبه نعوذ بالله. وایي به چې ما خپله ولیده، داسې او هسې ښکارېده. دا او ها یې ویل. په اصل کې به خپله ابلیس وي. ځکه وایم چې له خپل ایمان سره ډېر پام کوئ! اغه ساتل غواړي...
ما ورو دروازه وټکوله، ننوتلم. د زرګل غومبري په خندا ډډ شول. مخ ته راغی. دواړه پر کوچونو کېناستو. هغه د ثبت اله چالانه کړه. دده خپلې خبرې پکې وې. ویل دا اله یې نمونه راوړې ده. غږ یې صاف دی که نه؟ ما ویل ښه دی. په خندا شو:
– بس وامې خېستله. خبر شو مه پیر صیب درغلی و. دوه د خدای نازولي یو جای شوي وو. قیصه وکه قیصه!
هغه هره جمله داسې ادا کوله لکه برقي ماشین چې لنډې لنډې بخۍ کوي. ما په آرامه ځواب ورکه:
– جنتي شې! پیر میر ندی. ابلیس دی خدای وهلی. د شیطانانو پاچا.
– دقه سې!
هغه مخ تلوېزون ته واړوه. لکه څه چې وریاد شوې وي. بیا یې را ته ژور وکتل. ما وویل:
– دلته یې پایتخت دی. لوی او واړه غولوي. بې اتفاقي اچوي. چې زه او ته څنګه اول هارون پوه کو؟ بیا ټول افغانان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرګل یو دم په زوره زوره وخندل. زه یې د خندا په علت پوه نه شوم. ما له ابلیس سره د بحث کیسه پیل کړه. هغه سر ښکته اچولی و. خوشې خوشې یې د ثبت اله چالانوله او بندوله. په پای کې یې تېره را وکتل:

– ما ته پو ښتنه پیدا شوه. ته کوم ثبوت لرې چې آسماني پرښته یې؟

زه لکه موږی ټک وهل شوم. له هغه څخه مې د داسې پوښتنې توقع نه لرله. نه پوهېدم چې ولې ورته شک پیدا شوی؟ د هغه باور راته ډېر مهم و. بې خونده موسکا مې وکړه:

– جنتي شې! زه چې راغلم په عیدګاه کې رڼا نشوه؟

– چاته مالومه ده؟

– اغه ستاسې د مکتب کیسه چې مې وکړه.

– د بل چانه به دې اورېدلې وي.

زرګل جدي و. له ما لاره ورکه شوه. څنګه ورته ثابته کم؟ دلته مې د سپي په څېره شیطان ولید. لکه روانه سکروټه د دېوال له منځه دفتر ته ننوت. ما د مېز له سره د تلویزون ریموټ واخېست. زرګل ته په غوږ کې وپسېدم:

– زه دا د شیطان په اوږه ږدم. تاته داسې ښکاري چې په هوا کې ولاړ دی.

زرګل په شک سر وښوروه. زه شیطان ته مخامخ ودرېدلم. هغه موسکی شو. ما ویل:

– شکل خو دې د سپي دی. چې خبرې کوې که غاپې؟

– چې تا غوندې بدرنګه شی ووینم غاپم. غپ غپ غپ. هههههه

له خبرو سره ها غه هوا کلکه شوه چې د شیطان بدن نیولې وه. زه ښه نزدې شوم. لاس مې پر اوږه ورکېښود. ومې ویل:

– ستا خندا هم تر غپا کمه نده.

شیطان بیا له خندا سره په ملنډو وغپل. ما زرګل ته په هوا کې ولاړ ریموټ وښود. د شیطان پام شو. ځان یې بېرته سست که. ریموټ په زېږې ترکۍ قالینې ولوېد. شیطان لمبې وکړې. ما ته یې داړې وښودلې. وغورېد:

– عععععع، رذیلې!

دا ځل ما وخندل. شیطان په منډه بېرته ووت. زرګل وروځې بره کش کړې:

– بې شکه! ښې کوډې! او د شیطان سره د غږېدو ښه تمثیل! خبره داده چې زه ولې اغه نه وینمه؟

– جنتي شې! هغه د پېریانو حالت کې و. چې د بنیادم حالت ته واوړي بیا یې وینې.

– هههها هرې خبرې ته دې دلیل سنجولی ده. مګر زه پوېږمه. یو ازې ابلیس خپل شیطانان لیدلی شي.

– داسې مه وایه وروره! تهمت ډېر درد لري. تا خو په تیاره کې زما رڼا هم لیدلې ده.

– چاته مالومه ده چې دا د پرښتې رڼا ده که د شیطان؟ ښه ځه، مانه چیشی غواړې؟

ما یې په سترګو کې ژور وکتل. پوهېدم چې قناعت ورکول ورته سخت دي. بیا مې هم وویل:

– ته خو پوېږې، زه غواړم له هارون سره د تقدیر په بدلولو کې مرسته وکم.

– ههههه ته خو وایې پرښته یمه. دوعا وکه! تقدیر یې بدلېږي.

– نه کنه. ددې وعده را سره خدای پاک نده کړې. ما ویل دواړه به هارون ته قناعت ورکو.

– چېرته بل کمقل پیدا که! زه وزګار نه یمه. بل سبا اته ویشتمه د اسد ده. د آزادۍ جشن ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما زړه ډک شو. ځان راته تر پخوا ډېر یوازې ښکارېده. سینه مې درنده شوه. سر مې وګرځېد. مخ مې آسمان ته ونیو. سترګې مې پټې کړې. په زړه کې مې وویل «خدایه پاکه! پرښتو ته ربښتیا هم پر ځمکه ژوند سخت دی. خو شیطانان پکې خوشحاله ګرځي. چې دا ولې؟» روانه شوم. په دروازې کې مې شاته وکتل:

– جنتي شې وروره! که باور نه کوې مه یې کوه! خو خدای ته وګوره، راز مې چاته مه وایه!

زرګل موسکی و. زه وپرېدلم چې وبه وایي. د بنیادم وفا په ضرورت پورې تړلې ده. چاته چې ضرورت نه لري، د راز ساتل یې هم ضروري نه ګڼي.

هارون د ډاکټر دقیق دفتر ته ننوت. هغه په کمپیوټر کې وینا لیکله. تندی یې ګونجې و. سر یې جیګ که:

– په ښښنې! دا پرښته ډېره رذیله وختله. زمونږ پلویان د لارې باسي.

هغه پر کیبورډ ګوتې وټکولې. هارون په کټ کټ خندا کې سر وښوروه:

– اغه لکه شنی، چې ونښتله، خلاص. زه خپله تې پاذاب یمه. شرم، حیا؟ نه نه نه.

– خبر یم. زرګل راته ویلي دي. ته هم داسې وکه! وښیه چې پې مېین یې! ورسره سمله بیا یې پرېده! بې غمه به شو.

د هارون خندا وتښتېدله. په غټو خړېخنو سترګو کې یې اندېښنه پیدا شوه:

– نه مشره. مه کوه! زیاتی دی.

– ندی کنه. داسې خلک ملت فاسدوي. د یو اېزت واخله، د میلونونو بچ که! هم لذت هم خدمت. هههههه

– نه پوېږمه. خو شې لانجه به راله جوړه شي.

– زه یم کنه. په چا کې ری مه وهه! دوه ورځې ژوند دی. مزې کوه!

د هارون په سترګو کې اندېښنه په ځای پاتې وه. لکه پرېکه چې نه شي کولی. یا یې په ډاکټر دقیق باور نه درلود، یا د خپل زړه او وجدان تر فشار لاندې و، یا زما له زوره وېرېده. بالاخره یې سر وخوځوه، ووت.

زه له مدني فعالانو څخه خفه هوټل ته راغلم. هغوئ هم په ابلیس سر ورکوه. موبایل مې وکوت. د زرګل له خفګانه دوه اونۍ اوښتې وې. خو زه لاهم زنګ ته منتظره وم. تشناب ته لاړم. له جامو سره د یخو اوبو شرشرې ته ودرېدلم. د هارون غږېږې ته مې زړه ال و ول کېده. لکه ټول عمر چې له غمونو څخه هلته پټه شوې یم. مګر ورتللی نه شوم. د هغه بد بد کتلو د زرګل تر کنځا ډېره ځورولم. د موبایل غږ شو. له اوبو وچه ووتلم. نا اشنا شمېره وه. ښځې وپوښتل:

– پرښته یې؟

– بدبختانه هو.

– زه د زرګل ښځه یمه. مالې یو وار تا ووینمه. ته به زمونږه کره ری نشې؟ ایوانان نشمه پرېښودلی.

زما په مغزو کې د پوښتنو سېل وبهید. پر تخت کېناستم. ومې پوښتل:

– جنتي شې! څه خبره ده؟

– بیا درته ویمه. امدا اوس ری شه! چې بیا نه کېږي.

ما خدای خدای کول چې له زرګل سره مې پخلا کي. خوشحال خان مېنې ته ورغلم. سورمخې ښځه په کانکرېټي انګړ کې ولاړه وه. مخونه مو وجنګول. غومبرورو ماشومانو د زردالو په سیوري کې لوبې پرېښودې. ما ته یې سلام واچوه. په ما ډېر خوا ږه ولګېدل. د لمنې په جېب مې لاس ننوېست. یو ککو مې هلک او یو نجلۍ ته ورکه. هغوئ په کمکۍ ژبه مننه وکړه. زما په ټول وجود خوندوره څپه تېره شوه. ومې ویل:

– وی قوربان. جنتي شئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوئ د ککو په خوراک اخته شول. زه په کوټه کې په یاسمني توشکه ودرېدلم. یاسمني پرده مې لېرې کړه چې رڼا شي. په الماری کې د زرګل د ماشومتوب تصویر کټمټ زوی ته ورته و. ما البم راواخېست. ښځې په پتنوس کې میوه داني او د پیالو سپین سیټ راوړ. ما د زرګل تصویرونو ته خندل. د ښځې غټې بادامي سترګې بې واره تاوېدلې. وبنګېدله:

– وبښه خورې نو! په زیامت شوې نو.

– جنتي شې! نه نه، ولې؟ ما هم غوښتل تا وګورمه.

ښځې په غټو غټو وکتل. یودم مې ښو ته ولوېدله. په ژړا شوه:

– خدای ته وګوره! مه کوه! د سیال پلار پرېده! دقه دوه ایوانان مې دي. دا مه خواروه!

هکه حیرانه شوم. له متې مې ونیوله. جیګه مې کړه. ومې ویل:

– وی الا! ولې ولې؟ ما څه کړي؟

– اغه د خولې نه کلیمه غورځوي، ستا نوم نه. بېخي بدل شوی ده. دا زوی مې وینې؟ جوړ نده. مړ به شي. خیر ده نو چې نور بچې نشمه راوړی، دوه خو لرو. زرګل نور چیشي غواړي؟ ای په مونږه زړه وسوزوه! ته دونه ښیسته یې. هر ځوان دې غواړي.

ما هغه په غېږ کې ونیوله. په مخ مې ښکل کړه:

– جنتي شې! نا. ته پوه نه یې. زرګل زما ورور دی. دین په دونیا ورور. ته مې خور یې.

– ویمه راپورې وخانده! لاړې راتو که! سپېړې راکه! خو صدقه دې شمه! سرې مې پرېده!

– وی دا څه وایې؟ خدای دې نکي! بې ایمانه دې شم که دروغ وایم! دا دوه اونۍ مې بېخي لیدلی ندی. هو.

د ښځې زړه لږ ولګېد. سر یې وخوځوه. ما البم بېرته کېښود. سترګې مې حویلۍ ته واړولې:

– ای خورې! زما دې سودا کړه. ته هلک راوله!

ما غوښتل په عمل کې ثابته کم چې هغې او اولادونو ته یې نېک نیت لرم. ښځې غږ که:

– سیاله زویه! قوربان دې شمه! دلته ری شه!

ما هلک په غېږ کې ونیو. رنګ یې زېړ و. په غټو غومبرو مې ښکل که. بدن یې هم تود و. ومې پوښتل:

– ځان دې دروند دی؟

هلک سر وخوځوه. ښځې ته مې کړ:

– په ما باور کولی شې؟

هغې هک پک کتل. نه یې «هو» ویل نه «نه». ما روښانه کړه:

– شیطان پکې دی. هو. ماته درې قلمان راوړه! شیطان تې باسم.

نجلۍ په منډه پنسلان راوړل. ښځې زوی کش که:

– نه خورې! ډاکټر ویلې ستونی یې ده. ته مې مېره پرېده! امدا بس ده. ټول عمر به دوعا درته کومه.

– جنتي شې خورکۍ! مه کلکېږه! د دغه مرض همدا علاج دی.

ښځه زړه نا زړه شوه. ما سیال بېرته واخېست. پوښتنه مې وکړه:

– مستي کوو؟

هلک موسکی شو. ما یې پنسلان د ګوتو ترمنځ ننوېستل. په زړه کې مې سورت ووایه. د هلک پنجه مې کېکاږله. هغه په چیغو وژړل. خو شیطان ترې ونه وت. ما دویم او درېیم ځل هم زور وکه. هلک کریکې وهلې. زما زړه ورسره قلم قلم شو. مګر د شیطان پته ونه لګېدله. ښځې زوی کش که. زه سخته پښېمانه وم. ښښنه مې وغوښتله. هغه له غصې پړسېدله او تشېدله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وه قوربان زویه قوربان! ای! وڅه مړسترګې مکارې! ویمه په غضب شې! هره شرمېدلې رې شې ډاکټره یمه. وڅه! په ټپل وهلو یې وباسلم. ما خپلو لړزنده لاسو ته کتل. ما ویل دا راباندې څه شوي؟ مرض راته سم معلوم نه شو عمل مې وکه. پرښتې خو داسې نه کوي. چورت مې ډېر خراب و. زړه مې بیا د هارون لیدو ته وشو. خو عقل ویل مه ځه! تېر ځل دې هېر شو؟ بیا به دې سپکه کي. مګر زړه هلته د روح هوسایي او له غمه نجات لیده. ویل د پیر السبي له اصلیته به یې هم خبر کو. بالاخره د زړه پله درنه شوه. یو مهال په احتیاط د هارون دفتر ته ننوتلم. هغه غټې خړبخنې سترګې واړولې. زه وربېږدېدم. هغه سور مارکر د افغانستان له نقشې جیګ که. پیکی یې له تندي پورې وهه. له جیګري کوچونو راتېر شو. غټ لاس یې په موسکا وغځوه:

– په خیر رالې!

زما هېڅ باور نه کېده. بې حده خوشحاله شوم. لاس مې ورکه. زړه مې راغونج شو. لکه ټوله چې د هغه په ورغوي کې ننوتې یم. لکه د دونیا له سختو کړاوونو چې هلته پټه شوې یم. لکه تر اوږدې ستړیا وروسته چې مې د دمې ځای موندلی وي. سا اخېستل مې عمیق او ستونی ډک شو. غوښتل مې خپله خوشحالي په ژړا او چیغو وباسم. د هارون غږ بیداره کړم:

– څنګه ولاړه یې؟ راځه کنه!

ما مخالفت نه درلود. ځمکې ته کېوتې ددې لپاره وم چې ځان هارون جان ته وسپارم. د هغه په جنتي غېږه کې ډوبه شم. چېرته چې یوازې کیف وي او بس. هغه مخکې زه وریسې وم. لکه سیند چې مې په خپله خوښه وړي. هارون یو کوچ ته اشاره وکړه. زه پوه نه شوم چې ولوېدم، که سمه کېناستم. سترګې مې په خپل ګران کې وې. خوله مې نه راټولېدله. هارون د چای په ترموز پسې د کار د لوی مېز شا ته لاړ. زه وارخطا شوم چې ګران مې له لاسه ووت. بې اختیاره روانه شوم. پښه مې د ښیښې په وړوکي مېز ولګېدله. تیندک مې وخوړ. بېرته په کوچ کې ولوېدم. درد له خیالونو وباسلم. پښه مې کلکه ونیوله. هارون راغی. راکوږ شو. په ما یې بوی له حده تېر خوږ ولګېد. هغه وپوښتل:

– جوبله شوې؟ ته چای واله! زه به چا له وویمه چې ملهم راوړي.

هغه په ملا نیغ شو. ما نه غوښتل چې هارون ووځي. ومې ویل:

– نه نه. جنتي شې! رکه روغه یم.

– ولا دا زویمړی هډوکی چې ولګېږي د سړي له سوږمو لوګي وباسي.

زه موسکۍ شوم. سر مې وخوځوه. ومې ویل:

– ښه یمه. ته تشویش مه کوه!

– ځه شوکر.

– شوکر دې په ځان شه!

زما زړه بیا باغ باغ شو. ګران مې په درد دردېږي او په رغېدو خوښېږي. وه خدایه دا څومره لویه نېکبختي ده؟ هارون مخامخ کېناست. په سور مارکر یې د چای ګیلاس او وچې مېوې ته اشاره وکړه:

– واله کنه!

ما ګیلاس جیګ که. په زړه کې مې تېر شول «دا چای راته هارون جان اچولی دی» شونډې مې نرمې د ګیلاس په ژۍ کېښودلې. وړوکی غړپ مې وکه. هارون کټ کټ وخندل:

– ولا د چای سکل ام تا غونډې وي.

ما هم ورسره وخندل. هارون وویل:

– ما غوښتل ودې وینمه. د خدای رحم له ګوره! ته خپله رالې.

زما په بدن بیا خوږه څپه تېره شوه. هارون زما راتګ د خدای رحم ګڼي. ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– جنتي شې! چې کله په پاک نیت څوک غواړې خدای تعالی پکې برکت اچوي.
هارون سر وښوروه:
– تا ما سره څونه ښه کړي. او زه څونه ناشکره ومه. ما ویلې ښښه وغواړمه.
– نه نه، مانه هېڅکله ښښه ونه غواړې، او مننه ونکې!
– ولې؟
– خفه کېږم.
هارون سر وړاندې که:
– زه تا خفګان له چرته پرېدمه؟
دواړو وخندل. ما بیا د چای هماغسې غړپ وکه. هارون وپوښتل:
– اول دا وایه چې څه له راغلې یې؟ اسې نه چې په غورو غورو کې دې هېر شي.
– نه نه. ما ویل چې پس له ډېره وخته دې وګورم. اووو... او ووایم چې د پیرالسبي نه ځان وساته!
– ولا چې ماله ام یادېدې. پیر صیب نه ولې ځان وساتمه؟ پوی نشومه.
– جنتي شې! وبه یې نه منې. هغه ابلیس دی. په ټوله معنا.
هارون اول غلی شو. وروسته یې کټ کټ وخندل. ما غوښتل کیسه ورته وکم. هغه لاس وڅنډه:
– د دونیا په خبرو اوړ پورې که! څه چې چکر ووهو! سات تېر کو!
روند له خدایه څه غواړي– دوه سترګې. زه لا زیاته خوشحاله شوم. پرېده چې ساجده مو ووینې. ساجده څه، پرېده چې ټوله دونیا وګوري چې هارون زما دی. دواړه په قرغه کې پر غونډیو ګرځېدلو. هارون له زرګل سره د کونړ د چکر کیسې کولې. په ما یې درونډ غږ لکه خوندوره موسیقې لګېده. وروسته په جیګو زانګوګانو کې کېناستو. زه نه وېرېدم. خو هارون پنجره کلکه نیولې وه. ما ته په کتو وشرمېد. خوشې یې کړه. ویې پوښتل:
– په جوند کې دې ټولو نه زیات څه شی خوښېږي؟
ما غوښتل ووایم «ته». مګر بیړه ښه نه وه. هارون مې جواب ته منتظر نه شو. ویې ویل:
– زما ولا لوی آرمان دی چې یو څوک ولرمه چې سل په سلو کې راباندې باور وکي.
ما ویل چې ما یادوي. زړه مې هوا کوله. د هارون غږ بیا متوجه کړم:
– ساجو ده. زه ورله څه نه کومه. اغه بیا ام اخوا دېخوا کېږي. ما ام پرېښناودله. څه بابا! خپل کار کوه!
زما په خیال کې د ساجدې رټل وګرځېدل. خفه شوم. ومې ویل:
– وی، بېچاره! په نرمه به دې پوه کړې وه!
– پرېده مرې! مینه کې چې باور نه وي مینه نشوه.
زانګو ودرېدله. موږ کېوتلو. د خلکو سترګې را واوښتلې. لکه هارون چې یې پېژندلی وي. هغه مخ ما ته که:
– جوند اغه چا کړی چې د نن نه خوند الي. په سبا کې ری نه وهي. سبا خو اسې ام مالومه نده. مالومه ده؟
ما په مینه ورکتل. مګر هغه په غلطه و. زه یې باید فکر سم کم. ومې ویل:
– مګر نن او سبا دواړه په تقدیر کې وي. هوښیار بنیادم خپل تقدیر په خپله خوښه جوړوي. چې هم یې نن ښه شي هم سبا.
– نه نا. اغه بېل بحث دی. خو په مینې کې سبا موهم ندی. دا راسره ومنه!
زما سر سم خلاص نه شو. خوله مې ویته کړه. دواړه د موټر په مخکې سیټ کې کېناستو. هارون وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ته میینه شوې یې؟
ما په غټو غټو کتل. چورت مې وهه چې «هو» ووایم که «نه»؟ هارون په خندا ګوته وړکوله:
– «نه» دې ګوره نه منم! سالم انسان یې کنه. هاو، ښځې حال نه وايي. څوک یې بیا زوی له نه غواړي. ستا نو څه غم دی؟ ولاچې د لسو بچو سره خو دې ډولۍ له جیګه کې. امدا اوس به زما په شمول سل درپسې مړه وي.
زما سترګې لا ټیټې شوې «هارون د مینې اقرار وکه. وه خدایه! خوب وینم که وینبه یم؟» ما تور ټیکری له ځانه تاوکه چې د بدن رڼا مې د موټر په سیوري کې معلومه نه شي. مازیګر د هوټل مخ ته کېوتلو. ما وویل:
– جنتي شې! هېڅکله مې دومره ساعت نه و تېر شوی. ډېره زیاته مننه.
هارون موسکی شو. بیا یې د شهادت ګوته وړکوله:
– نه نه نه! اغه چا ویلې؟ ښښنه غوښتل او مننه کول به نه وي.
دواړو وخندل. هارون زما لاس ونیو. ویې ویل:
– د خدای پامان پرښته جانې! آرامه شپه درله غواړمه!
ما غوښتل ټول عمر ورسره لاس په لاس اوسم. مګر نه پوهېدم چې هغه څه نظر لري؟ خو نن مې په زړه کې امید ډېره شو. که موږ همداسې روان وو نو زر به له خیره هرڅه سم شي. خوږ احساس مې په رګونو کې ګرځېده. خوشحاله وم چې ځمکې ته راغلې یم. که نه، داسې شېرینې شېبې به مې کله لیدلې؟ خپل لاس ته مې وکتل. لکه وینه تک سور و. ومې خندل «پروا نکوي. هارون بنیادم دی. جنسي غریزه لري. شیطان یې خامخا زړه ته هوس اچوي» سهار هغه په موبایل کې وویل چې پس له غرمې وزګار دی. خو غرمه میراثمړې لکه د پېړۍ پای، هېڅ نه رسېدله. د هوټل د ټلیفون سیټ وترنګېد. د هرکلي مسئول د زرګل د راتګ خبر راکه. ما په زړه کې وویل «هغه پوه شوی چې د زوی جوړولو ته یې زما نیت پاک و. د خپلې ښځې لپاره ښښنه غواړي» هنداري ته وځغلېدم. اوږده لمنه لکه چترۍ جیګه شوه. په خیال کې مې وګرځېدل«دلته چې دې بخت راسته شي، خوشحالۍ لکه د شرشرې اوبه سر په سر راځي» د هرکلي ځای ته لاړم. موسکا مې په شونډو پسې نښتې وه. مګر زرګل ګردې وړې سترګې برګې کړې:
– تا ته چا ایجازه درکړې وه چې زما کره ری شه! آ؟
زه لکه مهربانه خور له خندا شنه شوم:
– جنتي شې! ورېندار راته...
بېرته مې خوله ونیوله. هسې نه چې هغې له مېړه پټه کړې وي. په ټوکه مې وویل:
– وروره! لکه چې مېلمه دې نه لګي. آ؟
– خدای مې دې ستا ورور نکي! ته چیشی یې؟
زه پوه شوم چې خبره جدي ده. اندېښنې مې خوښي له تنه وشړله. په آرامه مې وپوښتل:
– جنتي شې! څه شوي؟
– څه شوي څه مانا؟ د سیال ګوتې تکې شنې اوښتي. ایچیشی نشي اخېستی.
– وی، قوربان! زه ډېره پښېمانه یم. بد شوي. څه وکم؟ اوس...
– نو تا نه چا غوښتي وو، چا؟ ای ای! په خدای چې په زوی مې چیشی وشي کنه، جوندی دې خورمه.
د هرکلي مسئول، هزاره ځوان راروان شو. ما اشاره وکړه چې مه راځه. زرګل ترلږ غورېدو وروسته لاړ. زه په کوټه کې پر تخت پرېوتلم. سترګې مې پټې کړې. ښایسته شېبه مې ژوره سا اخېستله. پاڅېدم. لپټاپ مې خلاص که. په نېټ کې مې طنزي هایکوګانې واورېدلې. خو فکر مې بدل نه شو. تر وخت مخکې د شهرنو پارک ته لاړم. ډېر ځنډ منتظره وم. بالاخره هارون راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ما داسې خوږه ولګېد لکه پر دوزخي د جنت وږم. ټوله ورځ ورسره وګرځېدم. زړګل مې بېخي په یاد نه شو. مازیګر د هوټل د هرکلي په ځای کې د بېلېدو وخت راورسېد. زما بدن مړاوی شو. خو داځل لکه هارون چې مې د زړه اواز اورېدلی وي. ویې ویل:
– ای جینۍ! ستا کوټه څه رنګه ده؟
ما هزاره ځوانته وکتل. یو مېین د بل د زړه نه خبر وي. هغه سر وخوځوه. په کوټې کې مې ټول څراغونه ولګول چې د بدن رڼا مې پټه شي. هارون عجیبه مست مست ګرځېده. خندل یې. تشناب ته یې سر دننه که. الماری یې وکتله. ویې پوښتل:
– دا ستا کوټه ده که د بل چا؟ ستا جامې چرته دي؟
– همدا دي کنه. ولې؟
– دا؟ هههها، دلته خو یوه بې موره او بې پلاره جوړه بنده ده.
– څه یې کوم؟ ډوډۍ خو نده چې یو وار وخوړل شي. بله جوړه مې ځان کې ده. کله یوه اغوندم کله بله.
ما د یخچال دروازه خلاصه کړه. هارون په زوره زوره وخندل. ویې ویل:
– یره منم دې. دا ځینې خو د شلو زرو جوړه یو وار اچوي، بس. ځان نېیي. خو څه؟ زمونږه صنمې، له موره شلغمې.
ما وخندل. د مڼې جوس مې وباسه. همدې ورځې ته مې ساتلی و. هارون د مېز څراغ ولګوه. سترګې یې وبرېښېدې. بند یې که. پر تخت یې په ملاستو ټوپونه ووهل. د پوستوالي صفت یې وکه. هغه مې کله دومره شوخ لیدلی نه و. ما د جوس ګیلاس راوړ. هغه له منګولې ونیولم. زما پوستکی بیا لکه وینه سور شو. سترګو ته یې ځیر شوم. چې نیت یې معلوم کم. هغه وپوښتل:
– ای دا لاس دې ولې؟
– خیر دی. بېرته ښه کېږي.
هارون جوس په یوه سا وسکه. زما د لاس سوروالی ورو ورو کم شو. هغه کړس کړس وخندل:
– اوههههها و! کمال دی. ای ته څونه نازکه یې؟ راځه زما څنګ ته کېنه کنه مړې! که په ما باور نلرې؟
– جنتي شې! دا څه وایې؟ په تا له ځانه تېره یم.
– نه رښتیا؟ ته ام ماسره مینه لرې، آ؟
ما سر وخوځوه. هارون له تخته خېز که. ویې ویل:
– اوههههها و! ولا ایځ باور مې نشي.
– وه خدایه پاکه! زه دلته یم ستا لپاره.
هارون په کوټه کې له خندا شین وګرځېد. تا به ویل له ډېرې خوښۍ به ټوپونه ووهي. ما زړه نا زړه وپوښتل:
– جنتي شې! ته هم زما لپاره سیاست پرېږدې؟
– ستا دپاره؟ ستا دپاره دونیا پرېږدمه. سیاست څه شی دی؟
ما ته تر ټولو ښه ډالۍ همدا وه. موسکۍ شوم. سترګو مې نم وکه. هارون په دروازه کې وویل:
– سبا بیا غږېږو. اوس خوږه شپه ګرانې!
د ګرانې کلمې زما اوښکې وڅڅولې. له ځان سره مې خندل. په کوټې کې مې د هارون هر قدم یادېده. د مېز د څراغ مخ مې ځان ته واړوه. ومې لګوه. بېرته مې بند که. پر تخت مې هماغسې ټوپونه ووهل. غوښتل مې پوه شم چې هارون څه احساسول. سبا بیا دواړه د ښار په مختلفو برخو کې وګرځېدو. کله چې ماښام هوټل ته راغلو د واده نېټه مو وټاکله. هارون وویل:
– ای ګرانې! زه وایم چې مونږ لکه دوه کوترې ټول عمر جوړه اوسو. اوس خو به راباندې باور کوې؟
زما له ډک ستوني ډپ غږ ووت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– سل په سلو کې زړ گيه.
هارون له لاسه ونيولم. پر تخت يې نرمه سملولم. زه د خپل گران غټو خړبخنو سترگ ته ځير وم. دونيا مې نه ليدله. لکه د ژوند د حقيقي خوندونو په سيند کې چې لاهو اوسم. هارون ورو ورو خوله زما شونډو ته نزدې کوله. خو بدن يې رېږدېده. لکه څوک چې يې په زوره ټېل وهي. هغه بېخي نزدې شوی و چې دروازه وټکېدله. زه له خيالونو ووتلم. پاڅېدلم. هارون لاس واچوه:
– مه يې خلاصوه!
د هغه غږ نری شوی و. دروازه بيا وټکېدله. ما د هارون لړزنده لاس ته وکتل. ومې ويل:
– پرې مې ده کنه! هلته کارسون بېچاره ولاړ دی.
– نه، سمله! اغه بېرته ځي.
– جنتي شې! ما ډوډۍ راغوښتې.
د هارون لړزېدل کم شول. سينه يې له هوا ډکه او تشه کړه. ويې ويل:
– نه يې خورو. د مينې خوند مه خرابوه!
– نه کنه. د مينې خوند ولې خراب شي؟ هغه منتظر دی.
– د امدې ځايه جواب ورکه، څه!
ما خپل سور لاس ته وکتل. شکي شوم. نظر مې د هارون په سترگو کې ژور خښ که. ومې پوښتل:
– ته نو څه غواړې؟
– مينه کنه.
– څه ډول مينه؟
هارون په موسکا زما شونډو ته اشاره وکړه. ما وويل:
– جنتي شې! پام چې مينه او هوس گډ نکې! مينه عزت ته وايي. مينه شرافت، انسانيت ته وايي. مينه ميين ته د خوښۍ د ورکولو او د غم د اخيستلو تلوسه ده. او دا شيان سرې د چانه نه پټوي.
د هارون څېره مړاوې شوه:
– گوره ستا دا کارونه مې نه خوښېږي. ولاچې امدا اوس راباندې باور ونکې واده ام نه درسره کومه.
وه خدايه! په دونه وړه خبره دونه غټ عکس العمل؟ بدن مې سست شو. ما ويل:
– جنتي شې! خپله دې د واده وويلې.
– راشه نو! ام يې زړه کېږي ام ساړه.
هارون يودم راټوپ که. لکه غټ زمری چې پر وړې هوسۍ کېوځي. ما په زوره ټېل وهه. لکه توپ وار شو. بيا هم نه ټينگېده. ما په ځمکه سملوه. گونډه مې په ټټر ورخښه کړه. له درده وسونگېده. خوشې مې که. هغه په چوکۍ غونج کېناست. سينه يې سولوله. سا يې هم سوزېدله. له شرمه يې پاس نه کتل. ما له کارسون څخه خواړه واخيستل. هغه په دهلېز کې روان شو. ما غږ که:
– وروره! زما مېلمه هم ځي. لاره ور وښييه!
هارون تېز ووت. ما ورپسې کتل. زړه مې بېخي کنگال و. لکه ټول اميدونه چې ورڅخه ډيليټ شوي وي. د قابلي پلو بوی بد ولگېد. د خزلو په ټيم کې مې چپه که. د ځان د آرامولو لپاره د تخت په منظمولو اخته شوم. خو چورت مې نه بدلېده. د بنيادم ژوند راته عجيبه معما ښکارېدله. بې شمېره جوابونه لري. هرجواب يو وخت سم، بل وخت غلط وي. تکړه شه! د وخت سره سم جواب

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا که! اخېر دې نتیجې ته ورسېدم چې موږ یو د بل په خبره پوه شوي نه یو. که نه داسې به نه کېدل. زړه مې نه صبرېده. سبا دفتر ته ورغلم. چوکیدار ورته ټلیفون وکه. زه د چمن په منځ کې پراوږدې چوکۍ کېناستم. یو وخت مې د هغه غږ واورېد:

– ای ای ته څه بلا یې؟ ټول خلک درنه پاذاب دي. اوس دې بیا څه غم راوړی؟

په لاس کې یې کاغذونه وشرکېدل. زه غلې پاڅېدم. ومې ویل:

– ما وبښه! ما بنام بنه ونشوه.

– هه، په بښنه غوښتلو ام پوهېږې؟

هغه کاغذونه پر چوکۍ کېښودل. یاداشتونه پکې وو. مطبوعاتي کنفرانس یې درلود. ما ویل:

– جنتي شې! یو بل خو سم وپېژنو کنه. فکر کوم د واده په باب زما او ستا نظر فرق لري.

هارون له قهره کټ کټ وخندل:

– کوم واده؟ کېنه مرې! دونه هم کمقل نه یمه چې ځان له غم په بیه والمه. تانه پیرصیب خلاص ندی. خوابښې خسر خو به باد او بهکه وي. پوهېږې؟ که پس د محمده پیغمر پیدا کېدو اغه به پیر صیب و.

– وه خدایه! اغه ابلیس دی. په خپله خوله یې وویل.

– تووووبه! ای ای ای! که بیا دې په پیر صیب پسې خبره وکړه کنه...

– خدای ته وګوره! لږ سترګې خلاصې که! هغه ستا مرګ غواړي.

– او ته مې جوند غواړې؟

ما سر وخوځوه. هارون وپوښتل:

– ولې؟

– جنتي شې! ستا ژوند ماته تر ځانه موهم دی.

دې کې نابېره ساجدې زموږ له شاڅخه غږ که:

– شه شه شه! بې غمه مزې کوه بالا! زه د اوله پوهېدمه چې ته درواغ وایې.

موږ مخ واړوه. هارون په ټوپ له چوکۍ پاڅېد:

– نه نه، ساجو. په خدای چې ما تاله دروغ ندي ویلي.

– شه نو دا چیش دي؟ آ؟ آ؟

– دا خو...

د ساجدې زړه ډک شو. لاس یې جیګ که:

– بس! بس! درواغ بس دي! ته یو رذیل، بې ارزشته اینسان یې. سر دې خلاص سو؟ ګرسره زما ومخ ته رانسې بالا!

ساجده په ژړا روانه شوه. هارون ورپسې منډه کړه. شېبه پس مړاوی ستون شو. ما ته یې برګ برګ وکتل:

– وینې څه بد دې وکړل؟

زما هم زړه ډک و:

– جنتي شې! زه هېڅ نه پوهېږم. تا خو ماته ویل تا سره مینه لرم؟

هارون غږ جیګ که:

– دروغ مې ویل. زه په اغې لکه لېونی میین یمه.

– دا نو څنګه چل دی؟ میین په هغې یې، هوس دې په ما راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هارون غابښونه وچیچل:
– هه، ولاکه دې کیسه کې ام یمه. اغه یو کار و، ونشو.
اوښکو مې کتلو ته مزاحمت کوه. لاس مې په سترګو تېر که. ومې ویل:
– ساجده خور هم تا غوندې ده. مینه تاسره لري، نرمه نرمه بل ته کېږي.
د هارون سترګې بوټې بوټې راووتلې:
– څه شی څه شی؟ ته اوس په ساجو تور لګوې؟
– رښتیا وایم. د مهرباني موسسې د مشر سره یې وران وران خندل. تاسې دواړه خبرې پټوئ. دا څنګه مینه ده؟
– تاله یې څه؟ ته مونږ په جنګ نشې اچولی. ته دې خپلې بڅې سرې که!
ما سترګې ښکته واچولې. په ستوني کې وبنګېدم:
– زه بڅې نلرم.
– هاو کنه. ته نو څه شی لرې؟
– زه تاسره په رښتیا مینه لرم.
– هههههه زه د اوله پوهېدمه چې ته لېونۍ یې. ته ولاکه مینه بېخي پېژنې.
زما د سینې تخته کېکاږل شوه. ومې ویل:
– دلته مینه درد دی. مینه ځوربدل دي. مینه د هر سپکاوي زغمل دي. تر اوسه خو همدومره پوهېږم.
– آفرین! مینه ځان په زوره د چا لمني له غورځول ندي.
– دا څه وایې؟ ما؟ وه خدایه پاکه! ما څه کړي؟
– تا امدا اوس ماله ونه ویلې چې مینه درسره لرمه؟
ما سر وخوځوه. هارون وخندل:
– پاکه جینۍ نو الک له داسې وایي؟
– جنتي شې! ما د زړه خبره وکړه. دې کې نو څه ناپاکي ده؟
– هه، دې کې څه ناپاکي ده؟ ستا زړه له به هر ډول چټلې خبرې راځي، ته یې وایې؟ آ؟
– وی توبه! هیله کوم! زما زړه ته چټلې خبرې نه راځي. زما په پاکۍ شک مه لره!
– ولاکه یې په لاره تلې یې. درې ورځې ماسره نه ګرځېدلې؟ داپاکي شوه؟ کوټې کې راسره یوازې نه وې؟
زما ارواح په بدن کې تنګه شوه. هارون د هاغه څه پیغور راکوه چې ده خپله غوښتل. هغه دوام ورکه:
– پاکه جینۍ لکه ساجو داسې وي. موټر کې راسره یوازې نه کېني موټر کې. پوه شوې؟ څه وځه! رنګ دې ورک که!
زه له ډک زړه سره ووتلم. هارون سمدلاسه ساجدې ته ټیلیفون وکه. هغې نه غوښتل چې ویې ویني. مګر هارون له غړونو پوه شوی وچې چېرته ده. ساجدې له دکاندار سره د خرڅ شوي مال حساب کوه چې هارون یې ولید. له دکانه ووتله. ځان یې پټ که.
وروسته په لاره روانه وه. غلې غلې یې پیسې شمېرلې. ناڅاپه یې هارون مټې ته ټکان ورکه:
– تا رښتیا د نوي ریس سره خندل؟
پیسې تیتې شوې. ساجده په ټولولو اخته شوه. چیغه یې کړه:
– ځغله لغړیه! څه د خپلو رنډیانو سره مېلې کوه! ګوره، شیطاني ام درته کوي.
– خبره مه تېروه! جواب راکه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ته څوک يې؟
– خندل دې که نه؟
– بېخي مې خندل. په خندا چيش کېږ...
هارون په سپېره ووهله. چيغه يې کړه:
– ولې؟ ولې؟
د ساجدې مخ تک سور شو. پاڅېدله. لړزنده ګوته يې د هارون سترګو ته ونيوله. شونډه يې وچيچله:
– که دې بل ځل وار وکئ، شه؟... زما دوې خوينددې، دوې ورېنداري کونډې دي. وچې ډوډۍ ته يې نه رسېژم.
– بله بانه نه وه؟ ته خو مرۍ اوبې، کالي ګنډې. دا لاس کې دې پيسې ندي څه دي؟
– چيشي؟ نه بس کېژي.
– دروغ وايې.
– نر غوندې.
– نو د ډوډۍ دپاره ايزت خرڅوې؟آ؟
– ټوله امدا کار کوو. ته يې نه کوې؟
– زه تا غوندې بې حيا نه يمه. ښا؟
– دا چيش دي؟ د بل پشې څټې چې پيسه داره سې.
– اغه ستا کار دی. ښا؟ ماله خلک زارۍ کوي.
– شه؟ زه دې لکه چې نه وينم.
– څه څه؟ ته څه شی وينې؟آ؟
– هرشی.
– اوس مې بېخي باور وشو. خبرې دې ام د بداخلاقو ښځو دي.
ساجدې په ژړا کې يو دم منډه واخېستله. زه د غم د غلطولو لپاره خوشې خوشې د شهرنو په مارکېټونو کې ګرځېدم. هغې هلته پيدا کړم. شيطانه يې وبللم. جنګ يې وکه. عجيبه سپکې سپورې، کنځا. ماويل زړه يې درد کړی دی. پرېده چې تش شي!
ماسپښين د هوټل په انګړ کې په دوو پښو ناسته وم. تنکي ګلان له شمال سره زانګېدل. زما په زړه کې تېر شول «تر سبا به ورژېږي. مګر بيا هم خوشحاله دي. له خپل لنډ ژوند نه خوند اخلي. نېکبخته دي. شيطانان نلري» چورت مې وهه چې څه رنګه د غورځنګونو مشرانو ته قناعت ورکم چې پير السبي ابليس دی. ټليفون مې وترنګېد. ډاکټر دقيق و. خوشحاله شوم چې خپله يې تماس ونيو. هغه ترسترې مشې وروسته وويل:
– په ښښنې! غږ دې مړاوی دی. خفه خو نه يې جينۍ؟
– نه، خيرو خيريت دی.
ډاکټر دقيق سره نېکتايي له غوټې ونيوله. يوې او بلې خواته يې کشه کړه چې سسته شي. ويې ويل:
– موټر درلېږم. زما مېلمستون ته راشه! يو سات به کېنو. کيسې به وکو.
ما ټليفون له خولې لېرې که. وبنګېدم «هه، سبا به دا هم وايي چې يوازې راسره ناسته وې» د ډاکټر دقيق غږ بيا راغی:
– آ؟ څه دې وويلې؟ په زوره وايه کنه! ای ماسره نوې خبره ده.
– څه خبره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– په ټلیفون کې نه کېږي. ته خو یو وار راشه! زړ دې نه تو پېږي.
ما چورت وهه چې نوې خبره به څه وي؟ ښه ښا ، د پیرالسبي له اصلیته خبر شوی دی. خوشحاله شوم. ما ویل:
– سمه ده. درځم. خو دفتر ته.
ما دعا کوله چې اټکل مې سم وخېږي. له دې سره به نه یوازې د هارون، بلکې د ټولو افغانانو ستونزې حل شي. د ډاکټر دقیق په دفتر کې د اوږدې کوڅې سکرترۍ وویل چې مشر په جلسه کې دی. زه منتظره شوم. یو وخت د خلکو په ډله کې هارون هم ووت. ما ته یې وکتل. د ملنډو موسکا یې وکړه. زه یې په مطلب پوه نه شوم. کوټې ته ننوتلم. ګردکی مشر په فولادي دریشۍ کې د الماری هنداري ته ولاړ و. په څټ پراته وېښتان یې ږمنځول. په هنداره کې یې ولیدم. موسکی شو. ما وپوښتل:
– نوې خبره څه ده؟
– ههههه عجله دې نده؟ ما ستا مشکل ته حل پیدا کړی. ته...
سکرترۍ په مایک کې غږ که چې د چاپخانې سړی پر قرارداد غږېدل غواړي. ده له الماری څخه دوسیه واخېستله. ویې ویل:
– سړی وساته! زه بیا غږ کوم. پرښته جانې! ته کېنه کنه!
– جنتي شئ! پیر السبي ابلیس دی، همدا مو ویل؟
مشر کټ کټ وخندل. ګڼ برېتونه یې ارت شول. دواړه لاسونه یې له دوسیې سره جیګ کړل:
– په ښښنې! اول خو راځه د «تاسې» نه «ته» ته شو. «تاسې» د احترام نه پردیو ته ویل کېږي. او «ته» د مینې نه خپلو ته. دویم، ګوره ما سره ستا غم دی. ته نو ام داسې مکوه چې ګوناګار مې کې!
– وه خدایه پاکه! دا ربنتیا ولې څوک نه اوري؟ او دروغ دستې مني. هغه ابلیس دی ابلیس. شیطان دی.
ډاکټر دقیق په موسکا بیا کوچ ته لاس ونیو. دواړه مخامخ کېناستلو. هغه دوسیه پرانېستله. سترګې یې جیګې کړې:
– یوه خبره راته رښه وکه! اوس ته د پیر صیب سره د ښمنې کوې، که هارون له غور ځنګه باسې؟
– اح! وینئ ډاکټر صیب؟ ابلیس دا خبرې تاسې ته هم رسولې دي.
– ههههه ماته خپله هارون وویلې.
زه د هغه سترګو ته ځیر شوم. ویرېدم چې هارون ورته زموږ د جنجال کیسه کړې نه وي. هغه موسکی و. لکه خبر چې وي. ما سترګې ځمکې ته واړولې. د ډاکټر دقیق غږ مې واورېد:
– په ښښنې! ما ویلې زه به هارون له غور ځنګه وباسم. ته به راسره واده وکې! زه له تا جار، ته له ما. څنګه؟
ما ویل ښه نو دغې معاملې ته یې غوښتې یم؟ ډاکټر د دوسیې پاڼې واړولې. ما ته چورت راغی چې بنیادمان ولې خپله ښکي خرڅوي؟ د ګټې په صورت کې خو ښکې نه شوه. په غږ مې وویل:
– تاسې خو ښځه لرئ.
– هو. لرم یې. راباندې ګرانه هم ده! خو قسم دی ستا دپاره یې پرېدم.
– وی، توبه! ولې؟
– که ته سړی وې کنه، او ځان ته دې په آیینه کې کتلي وو، دا پوښتنه دې نه کوله.
– که مانه ښایسته پیدا شي؟
– بله مور به داسې لور را نه وړي.
– که پیدا شي؟
– ایڅ امکان نلري. ګوره! ماته مالومه ده. هارون تاته ښه نیت نلري. ښا؟ خو زما مینه پاکه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه له هارون سره د بحث کیسه وکړه. ما یې مخ ته کتل. اورېدلي مې وو چې هغه اول واده په مینه کړی و. بیا په بلې مېین شو. د هغې لپاره یې اوله ښځه طلاقه کړه. چورت مې وهه چې نور به څو مره ودونه په مینه کوي؟ د هغه د ډارولو لپاره مې وویل:
– تاسو ته خو معلومه ده. زما دوست د پیرصیب دوښمن دی.
– هههه ویم ري مه وهه ګلابو! زه پوهېږم پیرصیب. اوښان ساتل جیګې دروازې غواړي!
زه پوه نه شوم. هلته یې د پیرالسبي په مقابل کې دربدل ګناه بلل. دلته بیا دربږي. د هغه له زاریو سره سره مې ونه منله. له دې ځایه د بنسټپالو دفتر ته لاړم. بډ وهلی مولانا دومره خوشحاله شو لکه همدا چې یې د ژوند لوی آرمان وي. د جالۍ خولۍ یې په ګنجي سر کش کړه. وچو او تازه مېوو ټول مېز ونیو. ما هغه ته هم د پیرالسبي اصلیت روښانه که. مولانا توبې وباسلې.
نصیحتونه یې شروع کړل. ویل د پیرصیب غیبت سړی د خدای په عذاب اخته کوي. وروسته یې زما په صفتونو ځان ستړی که. په ما یې د زړه د بایللو وویل. د واده په صورت کې یې د دریو ښځو د طلاق وعده وکړه. ما ویل دا دواړه چا مشران ټاکلي؟
د سنبلې شلمه وه. ورځو منډې وهلې. لکه د میزان اتلسمه چې د دروازې په خوله کې وي. ما نوکان سوانول. په زړه کې مې وګرځېدل «مشران قانع کول خو غر په غېږ کې نیول شول. راځه عامو خلکو ته به ووایم. ګوندې ویې مني» لپټاپ مې پر وړوکي مېز خلاص که. مقاله مې ولیکله. خو په نېټ کې نه اچول کېدله. ادرسونه مې بند وو. نوی ادرس هم نه جوړېده. پوه شوم چې د ابلیس کار دی. ټلیفون مې راواخیست. له رسنیو سره مې تماس ونیو. هغوئ ویل د غورځنګونو په باب کنځلې هم خپرولی شي.
خو پیرصیب هېڅ عیب نه لري. زرګل مې په زړه کې وګرځېد. څو ځله مې شمېره راوستله. مګر د هغه قهر مې سترګو ته ودرېد. د تماس جرئت مې ونه که. په دوو کې پاتې وم. نه مې هارون پرېښودی شو، نه مې کار نتیجه ورکوله. له ناچارۍ څخه مې وخت په نفلونو تېروه. سبا زرګل په خپله راغی. زه دومره خوشحاله شوم لکه څوک چې ورک اولاد ووینې. هغه خجالت و چې د منلې په ځای یې لانجه وکړه. زما حال یې وپوښت. ما د رسنیو له انکاره خبر که. هغه ویل:
– مرکه به دې زه خپره کمه. خو دا به ما او تا دواړو ته تاوان وکي.
– جنتي شې! د مرکې نه تېره یم. بل کار کوم. د سنبلې په پینځه ویشتمه په حضوري چمن کې آزاده غونډه جوړوم.
– دقه سې! څوک به پکې وي؟
– ټول قشرونه. چې رسنۍ هم راشي. ته تش اعلان خپور که!
– په سترګو!
– بې سترګو مشې!
یو خو په دونیا کې دا شیطاني قانون دی، چې څوک تا غواړي ته یې نه غواړې، او چې ته یې غواړې تا نه غواړي. ما د هارون د بچولو او خپلولو لپاره غر او سمه نه لیدله. مګر هغه په موټر کې بل چا ته منتظر و. تر اوږد ځنډ وروسته ساجده له کوره ووتله.
هارون ورپسې شو. د کمپنۍ په بازار کې یې مخ ته ودرېد. هغې زرزې سترګې ورپولې. په آرامه یې وویل:
– خلک ګوري. لاره پرېږده! دورې سه!
– ساجو هیله کومه! ته زما یوه خبره واوره! بیا دې نه کلکومه!
– د چیش دپاره؟
– ولا چې زه تاله...
– ته زما ابخ نه کېږې. نا محرم یې. لاره پرېږده!
هارون تک سور شو:
– مه کوه کنه مړې! زه ستا هرڅه کېږمه. دواړه مینه لرو.
– شه؟ څوک وایي؟ زه ستا څه کرکه لرم. ته درواغجن یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وه خدایه پاکه! دادې څه په شیشکه اړولی یمه؟ ښه ته راله وښایه! څه دروغ مې ویلي؟
– ما ته د بداخلاقې اینجلۍ په سترګه ګورې. مینه د ایغې سره لرې.
– اوهووووو! ام مړ ام پړ. منمه چې مخکې مې نیت ښه نه و. خو اوس درله ښایمه چې داسې نده.
– ضرورت نسته بالا. مخه ایله که!
د هارون په سترګو کې اوبه وځلېدلې:
– هیله کومه! ما د اغې ورځې نه خوب ندی کړی.
– بل درواغ.
– قسم دی. ای ساجو! زارۍ درله کومه. بې تا مرمه. که وایې د ټولو مخکې دې ښپو له ولېږمه.
هغه ځمکې ته ټیټ شو. ساجدې کلک ونیو. ډکې سترګې یې ور واړولې:
– ته څه خبر یې؟ زه امدا اوس لېونۍ یم. د اغې څېره مې په سترګو کې لکه زوزان چخېژي.
– وه ظالمې! زه خو تاسره یمه کنه. اوس چرته ځې؟
– سودا اخم. په خونه کې پرته وم. کوچنیانو بغارې وهلې. مورګانو یې ول وژي دي. کور کې شی لا نسته چې ور یې کو.
هارون روان شو:
– درځه!
– یه یه. زه یې خپله اخم.
– غلې شه مړې! قسم چې تاله وړوکی کار وکمه من من غوښې المه.
– یه یه...
– دا کارونه پرېده ساجو! زمونږ په منځ کې ویش نیشته.
– پوېږم. خیر ویسې! زه پیسې لرم.
– ته ښکاره که!
هارون یې دستکول ته لاس که. هغې کش که:
– ومې ول سته. درواغ خو نه وایم. ځه بالا! ته به کار لرې.
– اوهوووو! یانې اوس ام رانه خفه یې.
– یه خو...
– راکه دسکول!
په دسکول کې د شونډو او نوکانو ارزانه رنګونه او د پوډرو قطۍ پرته وه. په جېب کې یې پیسو ایله د یوې ورځې خرچه پوره کوله. هارون مخ ته شو. له اوړو نیولې تر نسکو یې په بوجیو واخېستل. په زرنج کې یې بار کړل. ساجده ورسره اول ځل په موټر کې کېناستله. هارون نو عرش ته وخوت. د راډیو ستنه یې وګرځوله چې سندرې پیدا کې. څو ساجده خوشحاله وساتي. ستنه متهک ته برابره شوه. زه غرېدلم. ما ویل راتلونکې اونۍ خلک له لوی راز څخه خبروم. هارون تریو شو. ساجدې ته یې کړ:
– دغې غونډې له ځو. څلور ورځې پس ده. مونږ به دا بې شرمه خلکو له رسوا کو.
هلته زه د متهک راډیو له سټډیو څخه په خندا ووتلم. بیا مې د کامیابۍ امید پیدا شوی و. زرګل دروازې ته اشاره وکړه:
– ته راځه! یو چېرته ځو.
– چېرته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– بیا به یې وګورې.
ما ته د زرګل چلند بدل ښکارېده. د پخوا په شان یې ټوکې او شوخي نه کوله. زړه مې نه و. د هغه لپاره مې ومنله. زموږ سپینه سراچه د خیر خانې په اوله حصه کې په لویې دروازې ننوتله. د ساتونکو کاږه کتل مې خوښ نه شول. غبرګ سړي موږ ته د لوی باغ په منځ کې د فولادي ودانۍ لاره وښودله. ما له زرګل څخه وپوښتل:
– دا کوم ځای دی؟
– د ډاکټر صیب دقیق مېلمستون.
ما پښه ونیوله:
– جنتي شې! دلته څه کوو؟ اغه ماته ښه نیت نه لري.
– ولې وېرېږې؟ زه در سره یمه کنه.
موږ د ودانۍ د لوی سالون په منځ کې د رسمي غونډو تر اوږد مېز تېر شولو. په درېو کونجونو کې د مختلفو کوچونو سیټونه وو. موږ په تورو کوچونو کېناستلو. تر لږ ځنډ وروسته ډاکټر دقیق په سپین ملي لباس کې راغی. څلور تنه غوټ غوټ ساتونکي ورسره وو. هغه موږ دواړو ته لاس راکه. زما ورغوی لکه وینه سور شو. زرګل ډاکټر دقیق ته وویل:
– داده! نور تاسې پوهېږئ کار مو!
ډاکټر دقیق په خندا ماته وکتل. بېرته یې مخ زرګل ته که:
– کور ودان! نر سړی یې. خپله وعده دې پوره کړه.
زه پوه نه شوم. کله مې یو ته کتل کله بل ته. زرګل وپوښتل:
– د جرمني کار به مې کله وشي؟ ایوانان مې پاذاب دي. بېګا یې حمله راغله. لکه سکروټه سره شول. د سترګو کاتې یې دوه دوه ښکارېدل. وېرېږمه چې رانه مړه نشي.
– بې غمه اوسه! په دوو هفتو کې ویزې او ټیکټونه وغواړه!
– خیر ویسې ډاکټرصیب! خو دوه هفتې ډېرې دي. زر نه کېږي؟
– کوشش به وکم.
زرګل پاڅېد. سیده له ودانۍ ووت. ما ورپسې منډه واخېستله. مګر ساتونکو ونیولم. ما نارې کړې:
– ای وروره! دا څه کوې؟ ما دلته مه پرېږده!
زرګل شاته ونه کتل. زه پوه شوم چې وغولېدلم. لاس او پښې مې ووهلې. خو په څلورو کسو مې زور نه رسېد. بیا مې چیغه کړه:
– ای وروره! خدای ته وګوره! ما هم بوځه! زه دې بچې جوړولی شم.
زرګل زما جوړول یو ځل لیدلي وو. په باغ کې تېز روان و. ساتونکو زه په کوچ کې وغورځولم. سربداله وم چې دا څه پېښ شول. ډاکټر دقیق ټلېفون غوږ ته نیولی و. ګرځېده. ویې ویل:
– مولانا بچو! پټا سکه والوته. شرط دې بایلود! پیسې رالېږه!... هههههها نېکاح خو ستونزه نده. امداسې په هر ډګر کې ماته درکوم! ... هههههها لاس دې خلاص!
زما زړه ډک و. ومې ویل:
– ای ډاکټر صیب! ولې؟ زما ګونا څه ده؟
هغه له لېرې موسکی شو:
– تشویش مه کوه! ستا پکې ګټه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وه جنتي شې! په څه کې مې ګټه ده؟ دا چې په ما مو شرط وهلی؟ یا چې دلته بندي یم؟ ما پرېږده! خدای ته وګوره!
هغه په خندا راغی. مخامخ کېناست. ویې ویل:
– په بښنې! مینه ایچا په اسانه نده ګټلې.
– زه تا سره مینه نلرم.
– پیدا به شي. اوس داسې وبوله چې معامله مو وکړه. زه هارون له غورځنګه باسم. ته راسره واده کوې.
– وه ډاکټر صیب! چې مینه نلرم نو واده ولې وکم؟
– په بښنې! چې د هارون په شتون کې زما ګټه ده نو ولې یې وباسم؟
ما یې سترګو ته کتل. شخې وې. د وجدان ساپکې ختلې وه. بحث ګټه نه لرله. ومې پوښتل:
– واده کله دی؟
هغه تازه شو. لکه ما چې منلې وي. ساتونکو ته یې اشاره وکړه چې لېرې شي. ما ته یې مخ که:
– واده؟ څلور ورځې پس. د سنبلې په ۲۵مه. داسې شانداره به وي چې ټول یې یاد ساتي.
زما سودا لا زیاته شوه. د سنبلې په ۲۵مه باید د حضوري چمن په غونډه کې اوسم. یودم مې د کړکۍ په لور ټوپ که. په لاره کې مې چوکۍ جیګه کړه. لویه ښیښه مې وویشتله. چوکۍ د ښیښې له ټوټو سره چمن ته ولوېدله. زه په کړکۍ ووتلم. په چمن کې خوشې وم. ډاکټر دقیق په آرامه سیل کوه. ساتونکي په ما پسې شول. ما لاس نه ورکوه. یو وخت له څلورو خواوو محاصره شوم. بېرته یې راوستلم. ډاکټر دقیق موسکی و. برېتونه یې وخوځېدل:
– زه د ښځو حق پېژنم. څه کله چې ستا خوښه وي امغه وخت واده کوم. صیبي شو؟
– نه، زما هېڅکله خوښه نده.
– داسې مه کوه نووو. په بښنې! د پېښې نه تېښته نشته.
شا یې واړوله، لاړ. زه سسته پسته کېناستم. زړګل ته چورت ورېوم «څه پې وشول؟ د اولاد لپاره نه ځان ته ګوري، نه دنیا، نه اخرت ته. په اولاد کې څه جادو ده؟ هاغه د (اول ځان پسې جهان) خبره دروغ ده؟» تر سهاره ناسته وم. ډاکټر دقیق راغی. په موبایل کې یې ویډیو وښودله. ما لیدل چې هارون ته وایي سر له ننه ته دلته وظیفه نه لرې. هارون په قهر تاو راتاو شو:
– ای ډاکټر صیب! زه حیران یم. اغه جینۍ څه شی ده؟ په ښایسته نقاب کې شیشکه ده.
– په بښنې! هر څه چې ده زه پې مېین یم.
– ولا زه مو مایوسه کړمه. یانې د غورځنګ نه تاسو له شخصي ګټې موهمې دي.
ډاکټر دقیق سترګې برګې کړې:
– تا ته چا د قضاوت واک درکړی؟ چې د غورځنګ په څه شي کې ګټه ده په دې زه ښه پوهېږم.
هارون په کړه خوله وخندل:
– ههه، د غورځنګ ګټه په دې کې ده چې تاسې بله ښځه وکئ؟
ډاکټر دقیق سور شو. ساتونکو ته یې مخ که:
– نیم ساعت پس یې په دفتر کې ونه وینم!
هارون روان شو. مخ یې را وګرځوه:
– ماله کارونه ډېر دي. بنستپالو له ځمه.
ویډیو بنده شوه. ډاکټر دقیق بیا خپلې مرداري سترګې را واړولې. شونډې یې موسکۍ وې. برېتونه یې ورپېدل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ما خپله وعده پوره کړه. ستا څه خیال دی؟
– زما خیال څه کوې؟ هغه له سیاسته ندی وتی.
– په ښښنې! اغه لتوګی ولاکه ستا په زحمت ارزي. ودې لیده چې ستا په باب څه وایي. پرېده یې!
ما تېره وکتل. هغه په موسکا زما لاس ونیو. ما کش که. هغه قصداً زما دواړه لاسونه کلک کړل. ما ټېل وهه. هغه وار شو. په ځمکه ولګېد. ملا یې نیولې وه، پاڅېد. ساتونکي په قهر راغلل. ډاکټر یودم په خندا شو:
– باح باح باح! زمونږ بچي به سم پالوانان وي. آ؟ سخته تلوسه دې راواچوله په خدای.
ما ترې مخ وګرځوه. ډاکټر دقیق په احتیاط موبایل په ورغوي کې راکېښود. په تګ کې یې وویل:
– نازکې پالوانې! چورت دې ووهه! هر ډول لباس، طلا، کور چې غواړې غلام دې په خدمت کې دی.
هغه د جاپانیانو تعظیم وکه، ووت. زما زړه تنګ و. پاڅېدلم. په سالون کې وګرځېدم. ټلیفون مې راواخېست. زرګل ته مې زنګ ووهه. هغه د سرک په غاړه تناره ته ولاړ و. په کاغذ کې پېچلې ډوډۍ یې واخېستله، روان شو. ما وویل:
– وروره جنتي شې! اولادونه دې چېرته مه بیایه! ماته یې مرض مالوم دی.
– ښا؟ تا آسمانونو کې طب ویلی؟
– باور وکه! شیطانان ورننوتي دي.
– دقه سې! بیا وایې؟
– دا ځل رښتیا ده. ته یو بې کینې کس راوله! په کوتو کې دې لرګي ننباسي. سورت دې ووایي! زور دې وکي! شیطانان وځي.
زرګل له قهره پخ وهل. ټلیفون یې بند که. سره له دې یو ې مشهورې ښځې ته لاړ. خلکو حاجي بي بي بلله. ټوله ورځ یې تلاوت کوه. د اینږیندو په کار یې غرض نه درلود. د هغې دم ګټه ونه کړه. وروسته یې بچي د جامع جومات امام ته بوتلل. هغه د ختم، د سقات، د نکاح تړلو پیسې نه اخېستلې. بیا هم د دم نتیجه هېڅ وه. زرګل په ټلیفون کې په ما بړک وهل:
– هی د شیطان لعنتي ذاته! هی رذیلې! زما د ایوانانو کوتې دې بیا پلی، پلی...
– نه وروره. هغه کسان به له کینې پاک نه وو.
– د سې پاک وو لکه د زم زم اوبه. هی خدای دې وشرموه! ښه مې وکړه چې ډاکټر ته مې وسپارلې. ایځ پښېمانه نه یمه.
زه حیرانه وم. ما ویل دا څنګه چل دی؟ په بنیادمانو کې یوازې هارون بې کینې زړه لري بس؟ هغه هم اوس خرابېږي.
هاخوا ابلیس د پاچاهۍ پر تخت ناست و. ګرد چارپېر نیمه بربنډ و ښځو نڅا کوله. هغه کله د چرسو له سګریټې لوخړې ویستلې او کله یې د اور د شرابو بوتل په سر اړوه. له مستۍ څخه به یې غږ که «واح شربتکې واح!» د ګوریلا په شان ببر شیطان نزدې ورغی. سر یې په تعظیم ټیټ و:
– زما ګرانه پاچا! د بدرنګې پرښتې کار وشو. ډاکټر دقیق وګټله. مولانا یې جینګې داړې پرېښود.
ابلیس لاسونه وغځول. هغه یې کلک په مخ ښکل که. ویې ویل:
– لعنت په بنیادم! ته په ما ډېر ګران یې ببرو. ځکه مې د امنیت وزیر کړې. ای! پرښته به ښه ځورېږي نو آ؟
وزیر ببر سر وخوځوه. ابلیس کړس کړس وخندل:
– ډېر ښه! داسې کار وکړ چې ډاکټر دقیق په زور نیکاح وتړي! بیا یې د ناپاکۍ په تور طلاقه کي! چې له ځانه یې کرکه وشي! د دې د دادا مذب!
دواړو په زوره زوره وخندل. وزیر په ټیټ سر بېرته لاړ. ابلیس د نڅاګرې شاته د منګولې ټس ورکه:
– واح شربتکې واح!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د ډاکټر دقیق په مېلمستون کې کرځېدم. د مرستې مې څوک نه و. اوښکو مې د لیدلو مخه نیوله. په زړه کې مې ویل، دلته پر ځمکه ژوند د ښو او بدو ساده مجموعه نه ده. بلکې پېچلې هنر دی. دلته کله کله بد کول ښه وي او ښه کول بد. سترګې مې رڼې شوې. سمدلاسه مې مولانا ته زنګ ووهه. هغه په یو ښکر کې پر تخت نېغ کېناست. درېواړو ښځو ته یې وویل چې چاپې کول پرېږدي، ووځي! له ما سره نرم غږېده. ما پوښتنه وکړه:

– جنتي شئ! هارون له تاسو سره دی؟

– ماشاالله! ګل سړی ده. اغه اوس د ثوابونو لار پېژندلې ده. داسې موبارکه ږیره یې ده.

– ما ویل تاسو هغه د غور ځنګه وباسئ! زه درسره واده کوم.

د مولانا اعجازالحق سترګې ټېغې ټېغې راووتلې. په ښویه سر او ببره ږیره یې لاس راکاږه:

– جزاک الله. ته چېرته یې ګلابو؟ د ډاکټر په مېلمستون کې نه یې؟

– همدلته بندي یم غضب.

– لا حولو ولا! څې دا به څنګه سي؟

د سنبلې **۲۵**مه شوه. زه له ملاآذانه وېښه ګرځېدم. د حضوري چمن د نهو بجو غونډې ته مې ډېر امیدونه وو. چورت مې وهه چې څنګه ورشم؟ د دریم منزل بام ته وختلم. شمال یخ لګېده. په کورونو کې څراغونه بل وو. د هغوئ په مقایسه مېلمستون لکه لوی پارک ښکارېده. ما کتل چې کومه خوا وتلو ته لنډه ده؟ له بده مرغه ودانۍ د باغ په منځ کې وه. شپږ بجې مې تکه شنه چپنه واغوستله. د باغ په شنو ونو کې غلې روانه شوم. خو ساتونکو ولیدلم. بېرته یې ودانۍ ته راوستم. په باغ کې نور خلک هم وو. هغوئ هر چېرته زینتي توکي درول. د ونو ترمنځ یې د څراغونو لړونه کشول. ما چورت وهه چې له دغې موقع څنګه ګټه واخلم؟ اوه بجې وې. ما تر کړکۍ کتل. هغوئ ودانۍ ته نژدې کار کوه. دوه غبرګې ښځې سالون ته ننوتلې. ما فکر وکه چې کارګرې دي، مرسته به ترې وغواړم. مګر ښځو لس جوړه جامې او لس ښکلي قطیان پر مېز کېښودل. ما ویل:

– جنتي شئ! دا څه دي؟

ګردپېزې ښځې قطیو ته اشاره وکړه:

– دغو ته مونږ سره زر وایو. او دغو ته د واده جوړې.

اوږدمخې ښځې د چرګې د کټکټاک خندا وکړه. زه هکه پکه شوم:

– د واده جوړې؟ ډاکټر خو ویل چې زما خوښه نه وي واده نه کوي.

هغوئ په خندا ووتلې. ما باغ ته وکتل. ایله پوه شوم چې واده ته تیاری نیول کېږي. لږ وروسته ډاکټر دقیق راغی. په سترګو کې یې د هوس لمبې وې. موسکی موسکی کېده. زما په اوږه یې نرم لاس کېښود. ویې ویل:

– نازکې پالوانې! ښځه مې طلاقه کړه. بیا ونه وایې! ځان تیار که نو! مېلمانه راروان دي. اته بجې ملاصیب زمونږ نیکاح ترې. زما زړه ډک شو:

– جنتي شې! د خدای نه وو ېرېږه! الته به څه جواب وایې؟

– وبه وایم چې ما یوې یتیمې او یسیرې جینۍ ته دونه مینه ورکړه، چې د خوشالۍ نه یې وزرونه شنه شول.

– هیله کوم! ته ما خوشالولی نشې.

د ډاکټر دقیق خوله له خندا څخه نه راټولېدله. واسکټ یې وو بست. ما شا واړوله. هغه د واده سپینه دریشي واغوستله. د کړکۍ له لارې یې د ساتونکو غوټ قوماندان ولید. دی هم سالون ته ور ووت. قوماندان وویل:

– وبښه مشره! ټلیفون دې بند و. مولانا اعجازالحق راروان دی. څه وکو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ښه ښا ! واده ته راځې؟ ما خو غوښتی ندی. څه پرېږده چې راشي! د خپلې ماتې سيل به وکې!
مولانا تېز له موټره کېوت. د جالۍ خولۍ يې پر ګنجې سر کش کړه. په غټو ګامونو سالون ته ننوت. له ورايه په غصه ښکارېده.
دواړه مشران اوږد مېز ته مخامخ کېناستل. لکه جنګي چرګان يو بل ته برګ وو. يوازې د غورځنګونو رسنۍ موجودې وې.
مولانا ګوته وخندله. ويل سيکولران دې په مجلسونو کې دده پر کورنۍ بحث نه کوي. ډاکټر دقيق نه منله. مولانا هغه له ګرېوانه
ونيو. ډاکټر دقيق هم د حريف غاړې ته لاس واچوه. د دواړو پلويان جنګ ته چمتو وو. په پای کې مولانا هم ګوابس وکه چې د
ډاکټر نوی طلاق به د رسنيو سرټکی کي. هماغسې په بيړه له مېلمستونه ووت. په موټر کې يې د تلويزوني کمرې غټ تور بکس
خلاص که. زه ترې ووتلم. نږدې مې زړه چوېدلی و. اوږدې ساګانې مې اخېستلې. مولانا کړس کړس وخندل:
– سخت عمليات وو. ماشاالله! زما الکانو توره وکړه. د ډاکټر چخه هم سر لاړ هم سرسر. هههههه
ما د موټر له ښيښې وکتل. دکانونه او رستورانتونه تېرېدل. نه پوهېدم چې چېرته يو؟ مولانا وويل:
– هارون مې د غورځنګه وباسه. لکه څې واپس سيکولرانو ته لاړ.
– جنتي شئ! اغه د ډاکټر نه خفه دی. ما په ويډيو کې وليد.
– فيکر کوم اغه يې تاته چل جوړ کړی وه. ناکامه سو. هههههه
زه هم موسکۍ شوم. خو په زړه کې خفه وم چې هارون له سياسته وتی نه دی. فکر مې د حضوري چمن غونډې ته لاړ. ساعت ته
مې وکتل. اته بجې وې. يو دم مې خېټه ونيوله. زګېروی مې وکه. مولانا وارخطا شو. ما ويل:
– درد کوي. څو ورځې مې ډوډۍ نده خوړلې.
– ته صبر وکه صبر! اينشاالله زر رسېږو.
– جنتي شئ! دلته نه کېږي؟
مولانا د اليشنګ رستورانت لوحې ته وکتل. په موټروان يې غږکه. شاته کاروان هم بريکونه ونيول. مولانا امر وکه چې
رستورانت له خلکو تش کئ! شېبه پس موږ ننوتلو. ما اورېدل چې د رستورانټ خاوند خپلو کسانو ته ويل لوی سياسي رهبر مو
مېلمه دی. هم به پيسې ډېرې واخلو او هم به رستورانت مشهور شي. هغه په خپله له قلم او کتابچې سره فرمايش اخېستلو ته
راغی. مولانا زما په لور اشاره وکړه، چې اول له دې وپوښته! ما وويل:
– که ايشېدلي لټري وي، مالګه پې واچوئ، رايې وړئ!
د مولانا په تنګو شويو سترګو کې پوښتنه ښکارېدله. سرې روښانه کړه:
– صيب، خورکۍ د لغمانيانو جبه وکړه. مونږه لوبيا ته لټري وايو.
مولانا وروځې بره کش کړې. سرې فرمايشونه وليکل او ورک شو. ما موبايل راواخېست. مولانا ته موسکۍ شوم:
– جنتي شئ! زه يو ټليفون کوم بېرته راځم.
– جزاک الله! لس خو وکه!
مولانا خواړه خواړه کتل. لکه سړی چې په اخيستي مال وياړي. نظر يې د رستورانت تر دروازې راسره لاړ. ما ټلېفون د دروغو
غوږ ته ونيو. د رستورانت مخ ته ګرځېدم. ډوډۍ تياره شوه. خو زما خبرې ختمې نه وې. د مولانا ملګرو کله ما او کله کبابونو او
پلوونو ته کتل. هېڅ له وېرې لاس نه کوه. يو مهال د ټولو پام شو چې زه د رستورانت مخ ته نه ښکارم. يو تن راووت. بېرته يې
اشاره وکړه چې نه شته. مولانا تېز راغی. په ساتونکو په قهر شو. هغوئ حيران وو. لکه زه چې ځای په ځای غيبه شوې اوسم.
هرې خوا ته منډې شوې. مګر ويې نه موندلم. مولانا ګوته وخندله:
– ويم د هر جای چخه چې کوئ دا جينۍ به پيدا کوئ! که نه خير مو نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوئ لاړل. ډوډۍ یې پرېښوده. د هوټل خاوند په میدان پاتې شو. زه د زینتي لوښو د کراچۍ له نسه ووتلم. کراچیوان هماغه هلک و چې د عیدګاه مخ ته یې ژړل. ساعت اته بجې او لس دقیقې وې. غونډې ته رسېدی شوم. خو زه د زرګل کورته لاړم. دواړه ماشومان مې کېنول. د سترګو ګاټې یې غبرګ ښکارېدل. لکه دوه سیکې چې سر په سر وي. د زرګل سور مخې ښځې زه ټېل وهلم، بچیان یې کش کړل. ما هغه په خپل ټیکري وتړله. پنسلان مې د ماشومانو د ګوتو تر منځ کېښودل. سورت مې ووایه. پنجې مې کېکاږلې. ماشومانو په چیغو وژړل. له بدنه یې شیطانان لکه شمال وتښتېدل. ماشومان سست پرېوتل. دېوالي ساعت لس کم نهه بجې ښودلې. د حضوري چمن غونډې ته مې تلوار و. د زرګل ښځه مې خلاصه کړه. په وتلو کې مې وویل:

– جنتي شي! مرض یې ورک شو. دوئ خو نه پوهېږي. تاسې یې جنګ ته مه پرېږدئ! چې شیطانان بیا ورننه نه وځي.

د مولانا کسان په ما پسې حضوري چمن ته راغلل. لکه وږي لېوان ګرځېدل. چمن له خلکو ډک و. لس باندې نهه شوې. زه په لاره کې وم. خلک وښورېدل چې لاړ شي. د سپېڼا د هوټل هزاره ځوان د پاتې کېدو غوښتنه کوله. مګر رسنیو خپلې کمرې ټولولې. شل باندې نهه شوې. ما لیدل چې د مولانا کسانو د موټرو دروازې په زوره کش کړې، لاړل. زه له ټکسي ووتلم. دریځ ته ودرېدم. خلکو چکچکې وکړې. روان کسان بېرته وګرځېدل. هارون او ساجده مخامخ وو. زه موسکی شوم. هغوئ غاښونه وچیچل. د هارون ترڅنګ د توري لونګۍ او تورو عینکو سړی و. ما ته شیطان ښکارېده. خو باوري نه وم. خلک په چمن کې نه ځایېدل. دباندې پر سرکونو ولاړ وو. د راز اورېدو ته یې تلوسه وه. ما ویل صبر وکړئ! درته وایم. خو اول یوه پوښتنه کوم:

– څوک پوهېږي چې دا وطن ولې تل ناراموي؟ آ؟ څه دې ویل؟ بد خلک لري؟ نهء. اتفاق نشته؟ نهء. زه یې ووایم؟ د شیطانانو د لاسه. څوکاله مخکې چې جنګ ودرېده؛ این افراطي ډلو انتخابات ومنل؛ هغه هم د خلکو هوښیاري نه وه. اصلاً د شیطانانو پام بلې خوا ته لاړ. مګر نن سبا هغوئ بېرته راغلي. ښه ډېر راغلي. پوهېږئ؟ افغانستان د ابلیس پایتخت دی.

د خلکو په سترګو کې تعجب له ورایه ښکارېده. دروند ګونګوسی جیګ شو. زه مخ ته لاړم:

– لکه دا دومره کلونه چې یې تاسې د جنت په امید دوزخ ته اچولئ، نن هم ابلیس په هماغه شربت کې هماغه زهر درکوي.

د خلکو څېرې له غصې ډکې شوې. لکه تږلي لېوان په خپلو ځایو کې تاوېدل. یو تن نارې کړې:

– خورې! زموږ دې سودا کړه. سمه خبره وکه!

زه یوه شېبه غلی شوم. خوشحاله وم چې خلک د رښتیا د اورېدلو تلوسه لري. بیا مې خوله مایک ته نژدې کړه:

– جنتي شئ! هیڅ باور به ونکئ. تاسې ټول ابلیس ښه پېژنئ. پوهېږئ څوک دی؟

شور لا زیات شو. له هرې خوا آوازونه راتلل «ووایه کنه! طاقت نه کېږي. پسې ورځو» ما هم غږ جیګ که:

– ابلیس؟ ابلیس پیر السبي دی پیر السبي.

خلک یودم چوپ شول. لکه په تلوېزون چې برق لاړ شي. د پیر السبي په هکله آن د منفي خبرو اورېدل ورته ګناه ښکارېدله. ما د همدا سې عکس العمل اټکل کوه. ځکه مې قناعت ورکولو ته دوام ورکه:

– رښتیا وایم. که مو پام وي پیر السبي ناڅاپي راپیدا شو. د هماغې ورځې نه په وطن کې دوښمنۍ زیاتې شوې دي. د هغه شیطانان خلک غولوي. په جنګ یې اچوي.

په خلکو کې بیا ورو ورو شور پیدا شو. د مخامخ سړي په تورو عینکو کې لمبه وځلېدله. ما ته یې غږ که:

– ای ای لعنتي! ته چې په پیر صیب لګېږې، د دې نه ښکاري چې ابلیس خپله یې.

ما غوښتل ووایم چې یو شیطان همدا دی. ویې نیسئ! خو ساجدې خبره مخکې کړه:

– دا ورور رشتیا وایي. اصل کې تاسره غمونه راغلي دي.

هارون خلکو ته مخ وګرځوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ای ورونو! دا ماله مالومه ده. ډېره بې حیا جینۍ ده.
زیاتره خلکو هارون پېژنده او په خبرو یې باور کوه. له هرې خوا نارې شوې «ابلیس، ابلیس» د تورو عینکو والا بیا غږ که:
– ابلیس وولئ، ثواب وګټئ! ابلیس وولئ، ثواب وګټئ!
چا تیږې، چا څپلۍ وارې کړې. ساجدې او هارون کچالو راوړي وو. ما د ځان بچولو کوشش کوه. په جیګ اواز مې وویل:
– جنتي شئ! غوږ ونیسئ!... تاسې خو ما خبرو ته پرېږدئ!... زه وایم...
یوه څپلۍ مې په مخ ولګېدله. زه کږه شوم. خو ځان مې ټینګ که. د وړو تیږو باران و. په زنګانه کې د غټې تیږې لګېدو په ژړا کړم. له درده کېناستم. د ساجدې کچالو مې تر غوږ تېر شو. مګر د هارون مې په سترګه ولګېد. لکه په مغزو کې چې مې د رڼا بم وچوي. وروسته دنیا تیاره شوه. اوږده وغځېدلم.
په میوند روغتون کې پرته وم. پایوازان وتل ننوتل. زرګل په الماری کې کتل چې زما ګولۍ څومره پاتې دي. ټوله فضا د دواګانو په بوی لړلې وه. سر مې دروند و. څنګ ته مې یوې نجلۍ له مور سره ټوکې کولې چې خوشحاله یې کي. په بل کټ کې چاغې ښځې د زخمي زخمي لور په حال ژړل. کړکۍ ته نږدې د پاخه عمر سړي خپلې ناروغې خور ته زه وښودلم. وپسېد:
– ببو! دغې جینۍ د مریضانو جامې د خپلو دپاسه اغوستي ندي؟
زړې پېغلې په جیګ غږ خبرې کولې، چې زه یې واورم:
– دا خیر نه، خړوسکنه؟ هاو هاو. بې سُره هم ده. ټوله شپه په دالېز کې ناسته وي. سهار د ننه راځي.
ربنتیا یې ویل. زه رڼا ته کېناستلم. د زرګل ورته سړمې وپړسېدلې. ما اشاره وکړه چې مه یې کوه. ما ویل:
– جنتي شې وروره! زه جوړه یم. ماسپښین مې رخصتوي. مننه چې پوښتنې ته راغلې!
– دقه سې! نور مې مه شرموه نو! ایوانانو ته چې ګورم د ډاکټر مېلمستون رایاد شي. په وجدان مې درد ولګي. په چمن کې باید زه درسره وم. هزاره الک دې خیر ویسې! مانه ډېر غیرتي ده. ښه څه ورک یې که! زه ماسپښین درپسې راځمه.
– نه نه، ستا خپله کارونه ډېر دي! زه تللی شم. وی قوربان! ښه دی چې وربرونه مې جوړ شوه. ډېره خوشاله یم.
هغه په خندا مننه وکړه، ووت. ښځې غږ که:
– لونډه بازه. رنګارنګ الکان ورته راځي. هرچاته ویته ویته کېږي. شرم...
زما حوصله نه وه. پاڅېدم. زنګون مې درد وکه. ګوډه ګوډه تشناب ته لاړم. هنداري ته ودرېدلم. د ښی سترګې سپین مې لکه الوبالو سور و. شاوخوا یې توره کړی تاوه وه. د تندي، مخ او د غاړې شنو ټپونو مې بېخي څېره بدله کړې وه. له دهلېزه آشنا غږ راغی. سر مې ووېست. غفور ماما و. لمسی یې له لاسه کشوه. اتل نس نیولی و. ژړل یې. غفورماما هغه کېنوه په ډاکټر پسې لاړ. څو له ډاکټرانو سره غږېده پاتې کورنۍ هم ورسېدله. خو اتل په خپل ځای کې نه و. هغوئ هرې خوا ته تیت شول. عایشې ژړل. بالاخره یې زوی په عاجله خونه کې وموند. د اپنډیسي عملیات یې شوي وو. ډاکټرانو ته یې دعا وکړه. زه درې ساعته پس پوښتنې ته ورغلم. د هارون د خور، مور او پلار تندي تروه شول. یوازې زلما راته وخندل. ما ویل:
– جنتي شئ! اتل جان څنګه دی؟
عایشې د مخ تور خال وسولوه. ما ته یې کړ:
– د هارون خور یه بند نه پاتېږي. ښا؟
– څه شوکر! هارون جان ندی راغلی؟
خوبانې ترور سترګې تنګې کړې. د مخ ګونجې یې زیاتې شوې. غږ یې که:
– تاله یې څه؟
– تې ګیله منه یم. په غونډه کې یې ښه کار ونکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې مېرې ته وکتل:
– دسې خلک دي. خپل درد وينې، د بل مرګ نه.
غفور ماما اوږده پزه په غټو ګوتو کش کړه. مخ يې راواړوه:
– ته چې هرڅه کوې کوه يې! ګوره په پېرصيب به نه لګې! ګونا لري. امدا پرون يې راله ټلېفون وکو. ستا تپوس يې کوه. ما ويلې مونږ نده ليدلې. ګوره ته ورپسې تومتونه تړې، او د اغه ستا جوبلېدو ته سودا ده.
– جنتي شئ! هغه دروغ وايي. چلباز دی.
ټول په سږمو کې وپشېدل. خوبانې ترور غږ که:
– هئ مخ دې خاورې شه! تا غوندې ازار وهلو دونيا ورانه کړې. څوک چې حيا نلري د پير صيب به څه قدر وکي؟
– وی ترورې! تاسې خبر نه يئ...
– مکارې پرېده! چې هارونی مې ښځې پسې مړ شي تا غوندې جينۍ ورله نه کومه. هاو.
– وه خدايه پاکه! نو د هغې خبرې په دې پورې...
غفور ماما برګ شو:
– ځه نو! په خبره پوه شه کنه نو!
ما سر ښکته واچوه. ګوډه ګوډه ووتلم. دا وخت مې د هغوئ د خوشحالۍ غږ واورېد. اتل سترګې وغړولې. ما له لېرې کتل. د عايشې د غومبري په تور خال د خوښۍ اوښکې راغلې. زوی يې څو ځله ښکل که:
– اخ مورکۍ درنه لوګی شه! څنګه يې زما د زړه ټوټې؟
– مه جاړه مورې! جوندی يمه.
خوبانې ترور غږ که:
– وی قوربان! شوکر شوکر! خدای دې تل جوندی لره!
اتل لاس اوږد که:
– ای مورې مورې! ماشوم چې بيمار شي يوه مور يې دوه کېږي؟
– وی صدقه! د بې خودۍ د دوا کار دی. زه درله دوه ښکارمه.
ټولو وخندل. هارون سا نيولی ورسېد. په عذر يې وويل چې مشر کار راسپارلی و. پرېښودی مې نه شو. عايشې سر وڅنډه:
– ايښ خبره نده وروره. شوکر ابا شته. خدای دې جوندی لري!
د هارون زړه ولګېد. پيکی يې له تندي بره ټېل وهه. غټې خړېخنې سترګې يې اتل ته واړولې. موسکی شو:
– دا جينجړ خو جوړ تيار دی. زما يې زړه وباسو.
ماشوم جواب ورکه:
– جينجړ به ته يې. جينجړ به دې زوی وي.
له ټولو سره ماته هم خندا راغله. خوبانې ترور مخ هارون ته که:
– زويه الله دې راله د هرې بلا نه وساته! که تا ډانګټرانو له ټلېفون نه وکړی مونږ نه پاتې وه.
– ما؟ نه نا. ما ټلېفون ندی کړی.
هغوئ يو بل ته وکتل. غفور زوی ته کړ:
– ډاکټرانو ويلې د عمليات پيسې ام شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هارون موسکی شو. لکه دوئ چې ورسره ټوکې کوي. د مریض غږ جیګ شو:
– اوح اوح خبر نه یئ غږېږئ. پربښتې ترور ورکړې.
د ټولو خولې وازې شوې. شا وخوا یې وکتل. زه پناه ودرېدم. د مریض غږ بیا راغی:
– ډاکټر ماما ویلې که ځنډېدلی و ماشوم به مړ و. زه یې ښودلمه.
ټولو په یو غږ وویل «خدای دې نه کي» د عایشې او ښکې وڅڅېدلې. زوی یې ښکل که. هارون پلار ته وکتل:
– پربښته د کومه شوه؟
– ماله څه پته ده. لکه لېونۍ ګرځي. ټوک ټوک ده.
– ښه ښا. دلته ده. په دغه حال کې ام چلونه ورځي. مکاره!
مور یې غږ که:
– بلا ورپسې! ما یې ام باد وباسو.
– نه ادي. ما ډېره سپکه کړې. په شرم نده؟
اتل او زلما یو ځای وویل:
– اغه ښه ترور ده.
دې کې مې د ډاکټر دقیق کسان ولیدل. پر زینې ختل. هرچا ته بوڅ بوڅ کېدل. زما زړه وډېږده. د تېښتې هېڅ لار نه وه. څادر مې په تندي کش که. څنګ ته مې یو ماشوم له چوکۍ څخه ځمکې ته ټوپ که. ما په غېږ کې واخېست. مخ مې دېوال ته که. لکه په ولاړه چې تی ورکوم. ماشوم وډار شو. زورونه یې وهل. ویې ژړل. ما په مخ مخ ښکل که. خو هغه نه غلی کېده. د ډاکټر دقیق کسان تېر شول. ماشوم مې خوشې که. پر زینې کېوتلم. په هوټل کې مې هزاره ځوان ته وویل «که چا پوښتنه کوله زه دلته نه یم»
مازیګر په تاکاوۍ کې د مېلمنو کوټه ډکه وه. خلک د اتل پوښتنې ته راتلل. ساجدې له عایشې سره د چای په تیارولو کې منډې وهلې. خوبانه ترور په منځ کې خپرامانه ناسته وه. د اتل د مریضۍ کیسه یې بخۍ په بخۍ کوله. زه یې یاده کړم، چې د عملیات پیسې مې ورکړې وې. یوې ښځې وویل:
– داخ، د خدای رخم له ګوره. په چا غیبي وشي. ای خوبانۍ! اغه جینۍ دې څه کېږي؟
– د زېږې غوا خورزه.
ټولو هررر وهل. په ښځې ښه ونه لګېدله:
– وی ی ی ی! غلې! دوعا ورته کوه! په دغه زمانه کې خلک یو بل په بلا وخي. اغه څونه ښه جینۍ ده.
– بلا ته ښه ده. هارونی غواړي. زمانه سرچپه ده. پخوا به الکانو لاره نیوله، اوس یې جونې نیسي.
مېلمنو پیغلو په زوره وخندل. د ساجدې پیتې سرې وپړسېدلې. سبا غرمه یې دکان ته د خرڅلاو جامې یوړې. له هغه ځایه سیخ د هارون دفتر ته لاړه. سوکان یې خپلو تشیو ته تکیه کړل. ویې پوښتل چې دا څه کیسه وه؟ هارون ورته د اتل د مریضۍ موضوع له سره را ونیوله. هرڅه یې ټکي په ټکي تشریح کول. څو د ساجدې شک لېرې کي. په پای کې یې وویل:
– دغه سې چل دی. چې دې بلا نه څنګه ځان خلاص کمه؟
– شه؟ زیاتي ونسوه. ته یې ما ته پرېږده بالا!
ساجده ټوله پشېدله او ښورېدله. مازیګر و. هارون کور ته ورسوله. بله ورځ لکه زخمي زمرۍ د سېرښا هوټل دروازې ته ودرېدله. د تلاشي ښځې وویل چې پربښته نه شته. د ساجدې شېبړم حس نه منله. کلکه ولاړه وه. هغوئ زه خبره کړم. ما ویل څه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي؟ را دې شي! ساجده د هرکلي په ځای کې کېناستله. د هوټل د زينت سيل يې کوه. ماته يې پام شو. زه ګوډه ګوډه کېدلم. هغه له ځان سره موسکۍ شوه. مخ يې واړوه. لکه ليدلې چې يې نه يم. زه ورسېدلم. غږ مې که:

– ستړې مشې خورکۍ! څنګه يې؟ خوينديې، وربنداركانې، نور غټ او واړه ښه دي؟

د ساجدې تندی تريو و. ټيټ او پاس يې وکتل. ويې ويل:

– ټول ه شه دي. ګارډانو ول نسته. ته دلې يې.

– ښه ښه! زه نن وځمه، ځکه. ته راځه! په ډوډۍ کې به کيسې وکو!

زه روانه شوم. ساجده له ځايه ونه خوځېدله. راپسې غږ يې که:

– زه ستا ډوډۍ ته نه يم راغلې. شه؟

ما کوشش کوه چې هغه آرامه کم. په موسکا مې مخ وګرځوه:

– جنتي شې! مېلمه د کور برکت دی. تاسې يې پرېدئ چې په غرمه کې وړی ووځي؟

ساجدې ژوره سا واخېستله، پاڅېدله. په لاره کې چتونو، دېوالونو، پردو او څراغو ته ځير کېدله. موږ رستورانت ته ننوتلو. څلورو مېزو ته خارجيان ناست وو. تور پوستې ښځې په لپټاپ کې کار هم کوه. موږ لېرې کونج ته تېر شولو. ساجده نه غږېدله. ګوتې يې پر مېز ټکولې. ګارسون د فرمايش اخېستو ته راغی. ما مخ ساجدې ته که. هغې مې خبره په خوله کې وچه کړه:

– موږ مېلمه ته نه وايو چې چيشي خورې؟

ما وخندل. ځان ته مې دال او هغې ته پيڅه وغوښتله. د ساجدې له سترګو ښکارېدله چې پر پيڅه چورت وهي. ما ويل:

– پيزا ايټالوي غذا ده. هغوئ يې پيڅه بولي. پښتو کې خو هم د «څ» توری شته کنه.

ساجدې سر وښوروه. نېغه شوه. پېړې شونډې يې ورپېدلې:

– پشتو د تورو د اړخه خورا غني ده. خو نورو خلکو ته د ځينو دقيق تلفظ لږ سخت دئ. مګرم پېشوريانو ورته اسانه کړې ده. ډېری توري يې کشلي دي. مثلاً «ژ». ژبه نه وايي جبه وايي. دغسې د «څ ځ ښ ږ» توري.

زه پوهېدم چې هغه له پښتو ادبياتو فارغه ده. غوږ مې نيولی و. هغې ويل ځينې کليمې هم اشتباهاً سختې شوي دي. مثلا خلک پرېکه او پرېکون وايي. دوئ ترې پرېکړه جوړه کړې. همداسې زده که او زده کړه. ګارسون په قاب کې کرپندوکي ټيکلي راوړل. ساجدې د سترګو له کونجونو کتل. زه پوه شوم. ومې ويل:

– اخ دا ټيکلي نو مړه اشتيا په ټوپونو راولي.

ما يوه يوه قاشقه د شنو مرچو چکنې د دواړو د قابونو په څنډه کې واچوله. ټيکلی مې واخېست. په چکنې کې مې چوکه که. لمده ثوکه مې ترې چک وهله. ساجدې هم همداسې وکړل. تر لږ ځنډ وروسته ګارسون هغې ته ګرده پيڅه کېښودله. تېونه ترې ختل. ما ته يې وړوکی قاب دال راوړل. ساجدې اول دالو وروسته ماته وکتل:

– په داسې نامي هوټل کې دال د خندا وړ دي.

– ولې؟

– دا نو چيش دي؟ نوره خوراکونه نسته؟

– اخ داسې مه وايه خورکۍ! تا ندي خوړلي.

– چيشي؟ دونې مې خوړلي چې زړه مې ترې بدېږي. دا...

ساجده غلې شوه. لکه په خپله خبره چې پښېمانه شوې وي. زه پوهېدم چې غريب افغانان د دالو په نرۍ پايتې کې ډوډۍ ميده کوي. دا ورته ارزانه تمامېږي. د بحث لوری مې بدل که، چې د ساجدې غرور ته زيان ونه رسېږي. ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– طبعه ده نو. زما بیا غوښه بد ایسي.
ساجدې راته کاږه وکتل، لکه ما چې ډېره کم عقله خبره کړې وي. ويې پوښتل:
– پوشتنه کولی سم چې ولې؟
زما سترګو ته د هارون سپین چرګ ودرېد. په یو بل ګران وو. که هغه نه شړلی تر مکتبه ورسره ته. کله چې یې پلار حلال کړ هارون
تر یوې میاشتې وروسته ژړل. زه له چورتونو ووتلم. ومې ویل:
– وی، خورکی! غوښه د حیوان وژل رایادوي. خوا مې پې بدېږي.
– زما د هارون جان بیا د چرګ غوښه نه خوښېږي.
زه پوهېدم چې هغه قصداً «زما هارون جان» وایي. ستنې چوخوي. موسکۍ شوم. پر ساجدې ښه ونه لګېدله. تېره تېره يې وکتل.
زه وويرېدلم چې لانجه جوړه نه کي. دا سې خبره مې لټوله چې پام يې واړوي. ومې پوښتل:
– په پښتو ادب کې کوم خواره ډېر یاد شوي دي؟
– شیدې چې پې یې ام بولو، کوچ، پېروی، سابه. مځکه او مالداري د پشتنو د عاید سترې منابع وي. دغو دواړو زموږ د
فرهنګ په جوړلو کې خورا موهم رول درلودئ. موږ چې په ریشتینولۍ ویاړو علت يې امدا شیان دي. د چا تکیه چې پر دغو دوو
منابعو وي درواغو ویلو او چالاکۍ ته ضرورت نه پیدا کېږي. ځکه چې عاید یې ثابت دئ.
ډوډۍ وخوړل شوه. ګارسون د حساب پاڼه پر مېز کېښوده. ساجدې، پرته له دې چې د پیسو اندازه وګوري، خپل دستکول ته
لاس که. ما پرې نښوده. درې نیم زره افغانۍ مې په قاب کې کېښودلې. له روانېدو سره مې وویل:
– اوس نو راځه چې په هوټل کې چکرې درکم. سیل به وکې.
ساجدې تندی لا تریو که:
– ته شه پوېږې. مکاري دې پرېږده!
– وی، خورکی، جنتي شې! دا نو...
– ته زما هارون جان ولې آرام ته نه پرېږدې؟
زه په دهلېز کې ودرېدلم. ومې ویل:
– زه؟ ما څه کړي؟
– تا ویلي چې مینه ورسره لرې.
ما په تګ کې جواب ورکه:
– هو. مونکره نه یم.
ساجده وپشېدله. تاوه راتاوه شوه:
– شه؟ ماته ام وایې مونکره نه یم؟ ته څوني سپینسترګې يې؟
هغه یودم راجوخته شوه:
– ای ای! اغه زما دئ. سر دې خلاص سو؟ که مې...
– جنتي شې! اغه مجرد دی.
د ساجدې تندی ګونجې شو:
– شه سمه ده. تا سره مینه لري؟ آ؟
– نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ما سره يې لري. سر دې خلاص سو؟ باره دې ورسره ونه وينم!
– وې، خورې! ته لږ ساړه وخوره! فکر تغیر کولی شي. نیکاح مو همه ده.
ساجده ولړزېدله. مخ يې واړوه. بېرته راوګرځېدله. غږ يې جيګ که:
– نيکا د هر چا سره کېدلی سي. مينه مو همه ده. ای چې زما هارون جان دې سپکوي ته نه شرمېږې؟
ما سر وځنډه. ساجدې ټېل وهلم. په دېوال تکيه شوم. ژوبلې پښې مې برېښن وکه. ساجدې سترګې برګې کړې:
– ته چيش غواړې؟ آ؟ ژر وايه بالا! آ؟
ما په آرامه وويل:
– د مرګ نه د هارون بچول؟
– اغه چا په درختې پسې سرچپه ځړولی دئ؟ آ؟ ای! چې پوره نه وي ځوک نه مري. سر دې خلاص سو؟
– وې، خورې! غم دادی کنه چې پوره يې ده.
ساجدې سترګې خلاصې او خوله شپېلۍ کړه:
– يوووو! هارون رشتيا ويل. ته سمه دمه لېونۍ يې په خدای چې. د انسان د تقدير څه يو خدای خبر دئ.
– بې شکه. خو دده نه زه خدای وهلې هم خبره يم.
ساجدې کټ کټ وخندل. آن د هوټل د هرکلي مسئول سترګې واړولې. ما وويل:
– ای خورکۍ! زه وايم هارون په مونږ دواړو ګران دی. راځه په ګډه يې بچ کو!
– يوووو! يوووو! د ګوره لورې! ته اوس ماته بنه بنه کېژې؟ ځان ته ځای پيدا کوې؟
– جنتې شې! زه ستا ځای نه نيسم، ته زما نه نيسې.
ساجدې غابنونه وچيچل. زه يې په ټول زور ټېل وهلم. خو ما ځان ټينګ که. لکه دېوال ونه خوځېدلم. زما زور ته د ساجدې تندی راټول شو. بد بد يې وکتل. سر يې وښوروه. په موبايل کې يې د غټې چړې تصوير وښود:
– دا وينې؟ دا مې ستا دپاره رانيولې ده. که بيا مې د هارون سره وليدلې درپشکې شخوم يې.
هغه په جيګه غاړه روانه شوه. ما ورپسې کتل. په زړه کې مې تېر شول «په دې نجلۍ کې هېڅ شک نشته» زرګل ته د هارون همکار ويلي وو چې ساجده هلته ورغله. غصه وه. په ولاړه يې هارون ته له پرښتې سره د لانجې راپور ورکه. ويې ويل:
– ګوره! د پرشتې څه د نيجات لاره نيکا ده. سر دې خلاص سو؟
– باور مې نشي. اغه بې سُره ده.
– ماته يې خپله وويل.
– نه به وي؟ دا خو سختنه نده. زه به مې ادې له ووايم چې تا ماله وغواړي.
– ژر کوه بالا! اغه د هوټل څه وځي. چې ستا سې کره پرې نه وځي.
– شک نيشته. په خدای چې تې يرېږمه.
– زه ام.
دواړو يو بل ته په سترګو کې وکتل. يخ يې وهل.
د ميزان د مياشتې له رسېدو سره زما په رنګ کې سرخي هم ورکه شوه. اوس نو زمونږ د مرګ نېټې ته ورځې پاتې وې. بدن مې بې اختياره لړزېده. پخوا چې په آسمانونو کې وم، د بنيادم مرګ راته له يوې حويلۍ نه بلې ته تېرېدل ښکارېدل. وروسته پوه شوم چې د دوئ لنډ ژوند ميني خوندور کړی دی. ځکه يې دوام غواړي. مګر اوس مې وليدل چې تر ميني هاخوا ډېر نور څه دي چې هم ژوند ته رنګيني ورکوي هم بدرنګي. زړه مې تنګ و. لار مې لټوله چې له دغه حالته ځان وباسم. دوه ورځې مې د ډاکټر دوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخوړله. هېڅ تاثير يې ونکه. په پارکونو او غونډيو ګرځېدو لا په تکليفولم. دې کې راياد شول. کال مخکې چې مې د هارون عمليانه ليکله، هغه يوه پېښه وليدله. کونډې سوالګرې دومره پيدا کوله چې پينځه بچي له مرګه بچ کي. خپله يې نه خوړله. بالاخره له لوږې مړه شوه. هارون ته يې عصبي تکليف پيدا که. ډاکټر وويل هره ورځ د شلو دقيقو لپاره په وچ فرش سمه تخته سمله. دا د ملا تير منظموي او د اعصابو آرامتيا راولي. اوس ما په يوه ورځ کې درې ځلې هماغسې وکړل. په رښتيا مې فکر آرام شو. سهار د سېرېنا هوټل مخ ته په ټکسي کې کېناستم. د خلکو څېرو ته مې پام شو. له ټکسيوانه مې وپوښتل:

– جنتي شې تره! دا خلک ولې تروه ښکاري؟

– خو سبا ميراثمړې مظايرې دي. اتي ايځوک نه پوهېږي چې د چا کور په غم اوړي.

– مظاهرې ته دې نه ځې کنه!

– هه، په خوله اسانه ده. زموږ سياست لکه پوډر. اتي چې پې واوښتې، نه يې پرېښودى سې، نه ښه او بد پېژنې.

– د سبا مظاهرو هدف څه دی؟

– خلک د روزګاره باسل. د وزګارو بل کار سته؟

زه په قلعه فتح الله کې د متېک راډيو دفتر ته ننوتلم. زرګل په تېزو ګامونو مخ ته راغی. ويې ويل:

– اوهو! ته اوس ام په نخچک ځې؟ پښه به دې کتلې وه! ماته نه اوسي.

زه يې په تېزو خبرو په ځنډ وپوهېدم. په نڅا کې د نخچک او د ګوډ تګ مقايسې خندا راوستله:

– جنتي شې! که پښه ماته وه کله ګرځېدی شوم؟

دواړه په جيګرې کوچونو مخامخ کېناستلو. ما د پکولې سړې تصوير ته کتل. پر کاغذ يې ليکلي وو «زه متېک راډيو اورم» ما ته پکې مصنوعيت ښکارېده. زرګل د پخوانيو ټيپونو د کسټ جړه فيته په لاس راکړه. خپله يې د کسټ په سوري کې ګوته تاووله. خو فيته نه سمېدله. ما ويل ته صبر! زه يې جړوالی باسم. لګيا شوم. هغه فيتې ته اشاره وکړه:

– دا د يو مړ رهبر خصوصي خبرې دي. ای خورې! ساجده درغلې وه؟ ما هارون ته وويلې. شرمول به پکې نه وي ګوره!

– خير ويسې! شکر چې تا غوندې غمخور لرم.

– يو خو زما صفت مه کوه! ماته خپله بې غيرتي رايادة کي. اغه د ډاکټر دقيق مېلمستون...

– نه وروره! ته هم ملامت نه وې. دا پرېده! ما ويلې يو کار به ونکې؟ په راډيو کې د شيطانانو ننبې ووايه!

– دقه سې! د شيطانانو ننبې. هههههه.

– هو کنه. چې خلک شيطانان وپېژني. چې ويې نيسي.

– ټوقې مه کوه! شيطانان خو چا ته ښکاري نه.

– د بنيادم حالت کې ښکاري. پير السبي نه ګورې؟ او څو چې له سترګو پناه شوي نه وي د پېريانو حالت ته اوښتی نشي.

– رښتيا؟ هه، مابه ام ډېرو ته غېږه ورکړې وي.

ما سر وخوځوه. زرګل خپلو زنګنو ته په ورغوو شړک ورکه:

– دقه سې! نو زما ورته ولې پام نده شوی؟

– د ننبو نه يې خبر نه وې کنه.

زرګل چورتي شو. ما د فيتې وروستۍ غوټه خلاصه کړه. هغه په خندا د کسټ په سوري ګوته ننوېستله. ويې ويل:

– دا دې څنګه وکړل؟ زما ورته سترګې سپينې وې.

– جنتي شې! زه خو به هم يو نيم کمال لرم کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– بالکل. ای خفه کېږه مه! زه د شیطانانو نښې نه خپرومه.
– ولې؟
– ماته اسې خبره ښکاري. پوهېږې؟ زه چې محصل وم ما ابا مې بې کاره شو. کاکا مې پلار ته په فصل کې برخه نه ورکوله. ویلې ته تنخا لرې. زه زیاتره وخت وږی وده کېدمه. زمونږه کور په کارتې نو کې و. هره ورځ کابل پوهنتون ته په پښو تمه راتمه.
زرګل سوړ اسویلی وکه:
– که دا وکمه اوربدونکې مې کمېږي. ډونران به رانه لاړ شي. نه خورې، که ګونا ګاره ام شمه، ایوانان مې نه خواروم مه.
خو زه ورسره موافقه نه وم:
– نه کنه. دا نوې خبره ده. ته بیا ګوره! خلک به یو بل ته وایې متهک راډیو واوره.
مګر زرګل نه منله. زما تر ډېر ټینګار وروسته یې زړه نا زړه قلم او کاغذ واخېست. ویې پوښتل:
– ښه، نښې یې څنګه سې دي؟
زه خوشحاله شوم. ومې ویل:
– یوه نښه یې ډېره ښکاره ده. د سترګو ګاټې یې یو رنګ وي. منځ کې وړوکی تور خال نلري.
– هو، هو، د سې خلق مې لیدلي دي.
– وینې؟
– نو که څوک یې وپېژني شیطان به وربانديې حمله ونکې؟
– نه، د هغو خو کار شیطاني ده. یو بنیادم ته تاوان د بل بنیادم په لاس رسوي.
– نو شیطان خپله ایچې کولی نه شي؟
– ولې نه؟ که بنیادم ګناه وکي د بدن دروازه یې خلاصېږي. شیطان ورننوځي. بیا نو ډېر څه پې کولی شي.
– او بنیادمان شیطانانو ته تاوان رسولی شي؟
– هو، وهلی یې شي. ځورولی یې شي. قسم ورکولی شی، چې د دوئ د سیمې نه لاړ شي. خو وژلی یې نه شي.
– ښه بله نښه؟
– بدن یې له اور څخه جوړ دی. چې په قهر شي په سترګو کې یې لمبه ښکاري. او ورغوي یې هم سره کېږي.
– بل؟
– جامې یې د تن برخه ده. لکه زما. نه بېلېږي.
– دقه سې! زه ویمه چې ته ولې امدا یوه جوړه اغوندې.
زه موسکی شوم. زرګل زما لستوڼی کش که:
– اجیبه ده.
زه ناسته وم. زرګل دا نښې په راډیو کې وویلې. خو د خلکو عکس العمل ته یې سودا وه. دواړه ووتلو. د زرنګار پارک شاوخوا ګرځېدلو. راټول خلک مو ولیدل. نزدې ورغلو. هغوئ یو تن ته سپېرې ورکولې. ما غږ که:
– ای ورونو جنتي شئ! مه یې وهئ!
د اوږدې ږیرې، خرییلو برېتو او بدوهلو پایڅو سړي سرې سترګې واړولې. ویې ویل:
– شیطان دی بې بې.
– هو، شیطان هم ځان لري. په حج کې نه ګورئ؟ هماغه سې په وړو کاڼو پې لعنت ووایئ. وهئ یې مه! خوږېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– دې ته ګوره ای! د شیطان ترورزې وختله. هههههه. څه خورې څه! پرېږده چې زړه یې یخ کو!
– نه کنه. نو د انسان او شیطان څه فرق شو؟ زموږ یې د فکر سره دښمني ده، نه د جسم سره. قسم ورکئ! چې له دې وطنه لاړ شي.
ټیټکي کس منډه کړه. د امیر عبدالرحمن خان د مقبرې څنګ ته له کراچۍ څخه یې قرآن راوړ. د شیطان لاس یې پرې کېښود:
– توبه وباسه! وایه بیا افغانستان ته نه راځمه!
شیطان چیغه کړه:
– توبه! توبه! بیا افغانستان ته نه راځم.
یودم ورک شو. ټولو وخندل. خو د ډېرور زړه یخ نه شو. ځکه تریو و. زرګل موسکی موسکی کېده. ما ته یې کړ:
– چې شیطانان لاړل هر څه به سم شي. کنه؟
– نه، پیرالسبي خو شته. نور شیطانان راولي. د پاچایۍ تخت یې باید پیدا کو. بیا به خلک ومني چې هغه ابلیس دی. هاغه وخت بیا هرکار یې کولی شو.
همدا شېبه درې کسان په تورو عینکو کې یوې تورې تاکاوۍ ته کېوتل. هلته په پېریانو بدل شول. بدنونو یې سره رڼا کوله. یو ښکرونه پیدا کړل، د بل غوږونه وغځېدل. پزه یې د فیل په خرطوم واوښتله، د دریم لکۍ شنه شوه. خو د اوږو پټۍ یې په خپل حال وې. له دېوالونو داسې تېرېدل لکه په دروازه چې ننوځي. لس بې کړکۍ او بې دروازو تاکاوۍ یې شاته پرېښودلې. بالاخره روښانه بازار ته ووتل. هلته خندا او ګډا وه. د هرچا له خولې د سګرېټو، چرسو او پوډرو لوخړې ختلې. په لاسو کې یې بوتلونه وو. په بوتلو کې د اور شراب شړپېدل. فوارو هم ډنډونو ته د اور اوبه غورځولې. د شیطانانو ښځو او سړیو پکې بربنډ لامبل. په مغازو او هوټلونو کې خوراکي موادو یا لمبې کولې یا یې تېونه ختل. دا درې تنه له بازاره تېر شول. لوی تالار ته ننوتل. جیګ چت یې سلګونو ستنو ټینګ کړی و. زرګونه شیطانان د ابلیس شانداره تخت ته مخامخ ناست وو. دوئ سجده وکړه. پر چوکیو کېناستل. ابلیس له پاسه لاس وښوروه. ټول غلي شول. هغه په سوزېدلي غږ وویل:
– ای د اور د عالي ذات ولسه! ووایئ! ولې وېرېدلي یئ؟
له اول قطار څخه د اوږدو ځوړندو شونډو والا پاڅېد. غږ یې د ځان په پرتله ډېر نری و:
– زموږ ګرانه پاچا! تبا تبا شوو. بنیادمان مو پېژني. قسم راکوي. که دوام وکي دلته به زموږ پاچایي ختمه شي.
د ابلیس اوږدې لکۍ او د ښکرونو ترمنځ تاج لمبې وکړې. سترګې یې غټې غټې راووتلې. ویې ویل:
– دا څه اورم؟ لعنت په بنیادم! څنګه مو پېژني؟ تاسې کمقلان به سم تمثیل نه کوئ؟
– نه په تمثیل کې خبره نده.
– نو په څه کې ده؟ عینکې نه اچوئ څنګه؟
– نه. په راډیو کې یې زموږ نښې وویلې. اوس د دوه روپو بنیادمان زموږ عینکې کشوي. د سترګو ګاټې ګوري.
– ایخ مې باور نشي. دا نښې یې د کومه کړې؟
– پرښتې لعنتي به ښودلې وي نو. بل ځوک خبر دی؟
– امغه رذیله ده. دا مشکل یوازې په کابل کې دی که په ټول افغانستان کې؟
– په ټول افغانستان کې. بنیادمانو ته زموږ نیول سات تېري جوړه شوې ده.
– اوففففف! زه مجبور فرمان صادرکم چې د اور عالي ذات د څه وخت د پاره په پېریانو بدل شي!
د شیطانانو په بازارونو کې خلک ناراحته شول. سره وښورېدل. دلته په تالار کې د ښکرونو والا غږ که:
– مهربانه پاچا! که موږ ورسره نه یو، اسې نه چې په بنیادمانو کې مینه بیا خپره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ښه پوهېږم ګرانه! غټ خطر دی. څه وکم؟ چاره نه شته. خپل ولس هم ځورېدو ته ورکولی نشم.
– اطاعت کوو او غوښتنه لرو. دا ځل باید دې بدرنګې پرښتې ته سمه جزا ورکو.
– بېخي سمه ده. باید یو پلان وسنجوو.
د میزان پینځمه وه. ما په احمدشاه بابا مینه کې د موټر له ښیښې کتل. دا د ښار وروستۍ برخه وه چې ما د ابلیس په تخت پسې لټوله. مګر دا سې ځای مې ونه لید چې هلته دې د شیطانانو پهره داران ولاړ وي. یا هغوئ په خاص نظم وګرځي. یوه کوڅه وړاندې د هارون کور و. زړه مې وسولېد چې ویې وینم. ټکسیوان ته مې کړ:
– جنتي شې تره! دلته ودرېږه! زه راځم.
هلته خلک راټول وو. زه یې تر شا تېرېدلم. دوو تنو یو بل ته سپکې سپورې ویلې. ږیرخرییلي غږ که:
– ای ستاسې ترورستانو د لاسه دا وطن وران دی. تاسې د پردیو سپي یئ. هر وخت مو د خپلو خلکو سره جنګوي.
د ږیرور سا سوزېدله. غاښونه وچیچل:
– تاسې سیکولران کافر یئ. په تاسې جهاد په کار دی. تاسې خور او مور نه پېژنئ. ټول د رنډۍ زامن یئ.
هغوئ یو په بل ورغلل. دې کې شیطانان یې له بدنونو ووتل. له خندا چپه چپه اوښتل. دواړه ځوانان ونښتل. پلویانو یې هم لاسونه واچول. لوی جنګ ونښت. زه یې منځ ته ننوتلم. هغوئ مې خلاصول. خو چا نه منله. اخر مې په چیغه وویل:
– تاسې نه مسلمانان یئ نه افغانان. مسلمان او افغان ښځې ته احترام لري. د ښځو په مخ کې کنځا نه کوي. ښځه چې منځ ته شي سوله کوي. تاسې ته ګوره! جنتي شئ! تاسې نه پوهېږئ. شیطانان درکې ننوځي په جنګ مو اچوي. عقل پیدا کئ عقل!
هغوئ یودم غلي شول. شاته لاړل. شیطانان تروه شول. لمبې یې وختلې. زه روانه شوم. شاته مې د یو تن غږ واورېد:
– ای دروغ وایي. دې په موږ د کمقلانو خیال کړی. شیطانان خو ټول ورک شول.
اوس یې زما په خبره شور شو. زه د هارون کوڅې ته ننوتلم. د دویم منزل کړکۍ ته مې وکتل. هارون نه ښکارېده. اتل کوڅې ته راغی. د ماشومانو څنګ ته لاړ. زه یې جوړېدو ته خوشحاله شوم. دې کې د هارون موټر په شا ووت. هغه په اتل برګ شو چې په زخمي ځان لوبې کوي. زه ووېرېدلم چې ما به هم ورټي. پټه شوم. هغه په موټر کې تېرېده. ما یې له کونجه دیدن وکه. له دې ځایه د مټک راډیو ته لاړم. زرګل په حویلۍ کې له تک سور کس سره خدای پاماني وکړه. ما ویل دا څوک و؟ زرګل له خندا شین شو. د تندي دپاسه ګنجی ځای یې وګروه. هوا یې د ننښتو غاښونو تر منځ کشه کړه:
– د یونیسیف مامور ده. پروجه راکوي. ای خبره یې؟ سروې ښودلې چې زما راډیو ټولو نه زیات اورېدونکي لري.
موږ د دفتر په دروازه ننوتلو. ما وروځې بره کش کړې:
– ښه؟ موبارک! موبارک!
– مننه مننه. چې پیسې پیدا کمه د تحقیقي رپوټونو څانګه جوړومه. رپوټونه خرڅومه. ډونرانو! بای بای!
ما د هغه تکیه کلام استعمال که:
– دقه سې!
زرګل په موسکا وویل:
– جنتي شې!
دواړو وخندل. زه په کوچ کېناستم. هغه د یاداشت کتابچه ټوله کړه. د کار مېز ته روان شو. ویې پوښتل:
– ښه نو تا چیشي وکړل خورکۍ، تا؟
– هېڅ. د شیطان تخت پیدا نشو. خو بل څه مې واورېدل. خلک فکر کوي چې ټول شیطانان ورک شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وا ! دي کنه. نو ندي ؟
– نه. يوازې هاغه لاړل چې خلکو قسم ورکړی دی. نور ټول د پېريانو حالت کې شته. بنيادمان يې نه ويني.
– دقه سې!
– هو. ته امدا په راډيو کې ووايه!
– په سترګو.
– بې سترګو مشي! بل ووايه په هر ښار کې د شيطانانو بازارونه دي. او په کابل کې د ابليس پايتخت هم دی. پيدا يې کئ! خپله پکې بازارونه جوړ کئ!
– نو چې تا پيدا نه که، خلک به يې څنګه پيدا کي؟
– مه کوه وروره! په چا چې باور نشي هماغه ناممکنه کار کوي. قوت په فکر کې دی، نه په مټه کې.
هاخوا د شيطانانو د امنيت ببر وزير د سکروټو له کوچ څخه پاڅېد. د مټک راډيو د نوې خپرونې په باب يې ګوزارش ورکه.
ابليس د اور شراب وڅښل. تش ګيلاس يې په زوره په ميز ووهه. ويې ويل:
– اغه پرښته نده، مضره حشره ده. پټ پټ چيچل کوي.
د ټولو له خولو د شکايت ښهار وخوت. د پيشو په څېره شيطان په غاښونو لاندينۍ شونډه کېکاږله:
– په دا زړه مې لکه يخې اوبه ناسته ده. وی وی وی نو!
د غټې خولې او ځوړندو شونډو والا وويل:
– اغه مرداره قواره مې بدې شي. پيکه ميکه. تووو و.
ابليس لاس جيګ که. ټول غلي شول. هغه ګوته تېره ونيوله:
– ډېر مه غرتېږئ! تاسې د پرښتې د ښو خاورو ته نه رسېږئ. ټول يې کونج ته کړئ ټول.
هغوئ يو بل ته وکتل. د زمري په څېره شيطان سترګې پټې وې. کوږ ناست و. وېښ شو. ويې ويل:
– نه نه، پاچا مې يې. راباندې ګران يې. خو دا درسره نه منم. نه نه، نه منم.
هغه نشه و. بېرته ويده شو. خوره هار يې وخوت. ابليس ببرې وروځې واچولې:
– داح، نه يې مني. ويم بې شکه چې زمری دی، خو مړ زمری.
په بازارونو کې شيطانانو په زوره وخندل. ابليس غبرګه کړه:
– د اور په ذات قسم چې موږک پې برګ شي، بيا د بوی د لاسه سا نشې اخېستی.
د خنداګانو غړلا جيګ شو. ابليس چيغه کړه:
– چوپ! چوپ!
آن د شيطانانو په بازارونو کې هم ټول غلي شول. هغه ويده کس ته بيا ګوته ونيوله:
– په تاسې کې اغه غيرتي امدا دی. لږتر لږه په خبرو کې خو مقاومت کوي.
ټول وبنګېدل. ابليس وويل:
– ستاسې د بې غورۍ نه پرښتې موږ ته داسې تاوان ورسوه چې ايچا رسولی نه و.
له اول قطار څخه د ځوړندو غوږونو شيطان په نشه حالت کې غږ که:
– عجيبه ده. دا مړزګه ام موږ ته تاوان رسولی شي. هه.
د پيشو په څېره کس مخ ور وګرځوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اغې اوس زموږ کار اخیستی دی. بنیادمانو ته شیطاني کوي.
کړس کړس په خندا شو. د ځوړندو غوږونو والا وویل:
– ای! نو پرښته ولې موږ سره نه یو ځای کېږي؟
ابلیس برګ شو:
– شوده ګانووو! له پرښتې څخه شیطان نه جوړېږي. اغه څه بنیادم نه دی.
بیا ټول غلي شول. هغه خبره وغځوله:
– بل ډول ونشوه. هارون اختطاف کئ! په بنیادمانو وهل ورکئ! او پرښتې ته یې تصویرونه ولېږئ!
د پوکانۍ په څېر د غټو غومبرو والا غږ که:
– هارون څنګه اختطاف کو؟
ابلیس بیا سترګې برګې کړې:
– تاته چل نه درځي؟ ته نو بیا خوشې لړو یې. بدن ته ور ننوځئ! کنټرول یې په لاس کې واخلئ!
– په دې خو پوهېږم. وایم که ګونا ونکي؟
– ولې؟ مخکې یې ونکړه؟ زموږ کس ناحقه بدن ته ورننه نه وت. امغه مو اشتباه وه.
– اغه چې ډاکټر دقیق د پرښتې سره زنا ته لېږلی و؟ څه پوېږدو چې بیا وجدان ته تسلیمېږي؟
– اوهووو، وجدان یې مړ کئ! ستاسې وظیفه څه ده؟
د ګوریلا په څېر ببر وزیر لاس جیګ که:
– زموږ ګرانه پاچا! بې غمه شه! وبه شي. ای جینۍ! واچوه! د ژوند اوبه واچوه!
نیمه بربنډې ښځې یې ګیلاس له شرابو ډک که. هغه په سر واړوه. چې ښځه تېرېدله هغه یې په نرۍ لکۍ لاسونه ښکته کش کړل.
په کړس کړس یې وخندل. ابلیس سور شو. لمبې یې وکړې. لړزنده ګوته یې وځنډله:
– ای بې غیرتو! بند! نور بند! تراغو چې مو دوښمن ختم کړی نه وي چرس، پوډر او شراب بند.
آن د زمري په څېره ویده کس هم نیغ شو. ویې ویل:
– ولې؟ موږ خو بنیادمان نه یو چې تاوان راته وکي. ولې؟
– ولې دې سر وخوره! چې کار ته وزګار شئ! د اور د عالي ذات د سوکالۍ د پاره کنه.
ټولو یودم چرس او شراب وغورځول. لکه عسکري قطعه تیارسۍ ودرېدل. په ګډه یې غږ که:
– ځان، د اور له ذاته قوربان!
د میزان شپږمه شوه. هارون د نورستان په مرکز پارون کې میز ته ناست و. د باغ له منځه یې جیګو غرو ته کتل. لکه ورختل چې یې آرمان وي. د لېوه او پیشو په څېره دوه شیطانان ترې ګرد تاوېدل. خو چا نه لیدل. مخامخ پر شنو پلاستیکي چوکیو ملکان ناست وو. د هارون ساتونکو لوی تلویزون پر مېز کېښود. فلم یې چالان که. هلته بنستېپالو په مظاهره کې بې ګناه خلک وهل، دکانونه یې چورول او موټر یې تخریبول. مګر د سور رېږي ملک سترګې په هارون کې وې. د څنګ کس ته وپسېد:
– دا شي پخوا ځان ته ملایکه ویله. اوس ګوره!
د سپین پکول والا خوله غوږ ته نږدې کړه:
– پیسې چا ایسته غورځولې؟
– هاو کنه. خبر شومه، لغمان کې یې د ملکانو جېبونه پړسولي. چې مونږ ته تش راغلی که ډک؟
– چیشی؟ زه خو د چا د ادې نوکر نه یمه. چې اول جانانې جېب ته نه کمه، د خدای پامان!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تلويزيون په سکرين کې مظاهره چيانو يوه ښځه په قمچينه وهله. هغې په چيغو ژړل. هارون ناستو کسانو ته وويل:
– ملک صيبانو! څنګه؟ شرو کوو له خيره؟
سور ځوان سرګردانه ګرځېده. ټلېفون يې له غوږ څخه نه لېرې کوه. هارون ته نژدې شو. موبايل ته يې اشاره وکړه:
– صيب لږ صبر وکئ! دوه کسه اوس رسېږي.
له ملکانو څخه د سپين پکول والا غږ که:
– څو اغئ راځي د ناستو کار وکئ!
هارون سور ځوان ته سترګې واړولې. هغه پاکټونه وويشل. شيطانانو يو بل ته وکتل. د پيشو غوندې د ګرد مخ والا وويل:
– بوينو! خو ووايئ! رشوت دی که خيرات؟
د لېوه په شکل شيطان وخندل:
– هههههه د عقل ټوپکه! په سياست کې خيرات نشته.
– کېنه ټرو! ته د عقل راکټې ولې څه؟
وروستي کسان هم راغلل. سور ځوان د پيسو د پاکټونو وېش ختم که. پرته له هارونه د نورو په ټټر کې توري سوړې پيدا شوې.
خو شيطانان دده ټټر ته منتظر وو. يو نيم ملک پيسې له پاکټه وويستلې. ويې شمېرلې. هارون پاڅېد. ويې ويل:
– د ښايسته او سمسور نورستان شريفو مشرانو اسلام عليکم.
ملکانو په موسکا سرونه وخوځول. د وعليکم شور پورته شو. هارون مخکې لاړ:
– مونږ راغلي يو چې هېواد له په خدمت کې ستاسې قدرمنو ملاتړ ولرو. تاسې پوهېږئ چې زمونږ هېواد تر نورو ډېر شاته پاتې.
يو علت يې د ټولنې د نيمې برخې فلجوالی دی. ښځې يادومه. تاسې فکر وکئ! ښځې خو اسې ام د کوره بهر کار نه کوي. پاتې
شول ۵۰٪ نارينه. په اغو کې تقريبن ۲۰٪ ماشومان دي. لا به زيات وي. لږ تر لږه ۱۰٪ زاړه دي. پاتې شوه ۲۰٪ ځوانان. په اغو
کې ۱۰٪ بې کاره دي. د کټې والا يوازې ۱۰٪ لرو. او څټې يې ۱۰۰٪. نو د خلکو جوند به بلا ته ښه شي؟
ملکانو چکچکې وکړې. سور ږيري غږ که:
– بيخي دې د نبښې منځ وويشت ولا.
د سپين پکول والا غبرګه کړه:
– خير ويسې! ايله مې اوس مغز کار وکه.
هارون خوښ و چې خبرو يې په خلکو اغېز وکه. د سپين پکول والا په جېب لاس کېښود. وپسېد:
– اخ جانانې قوربان شم. دا زړه مې پې تود دی. ای! دا کابلی کمقل خبر ندی. دلته سړي ناست وي، ښځې کار کوي.
ملکانو ځانونه ټينګ کړل چې پخ نه وهي. هارون ورغوي وسولول. خبره يې وغځوله:
– نو درنو مشرانو! که زمونږ ښځو تعليم کړی و ۱۰٪ به اغو کار کوه. لږ به ښه شوي وو. خيرات ته به ناست نه وو. خو بنسټپال مو
کله پرېدي؟ د دروغو دلايل راوړي، جونې خو پرېده، چې اين الکان له تعليمه وباسي. پوهېږئ ولې؟ خبره دا ده چې که چا تعليم
وکه بيا نو دد وئ حيثيت ورله مالومېږي. ځکه خو تبليغ کوي چې په مکتب کې ښځې بداخلاقه کېږي. مګر په دې سترګې پټوي
چې د اخلاقي فساد ګراف په بې سوادو کې تر باسوادو جيګ دی.
خلکو يو بل ته وکتل. سور ږيری وبنګېد:
– دا ګراف يې چيشی وويلې؟
د سپين پکول والا په خوله لاس کېښود:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ورو! ورو! ښځې ښيي چې مکتب يې ويلی نه دی.
– ښاااااا! ياني ستا ښځه ستا ګراف دی. زما ښځه زما ګراف.
د سپين پکول والا يخ وهل. د هارون غږ غلی که:
– بل طرف ته مترقي غور ځنګ دی. مونږ دا دی تاسې راټول کړي يئ. څو په خپلو لورګانو تعليم وکئ. د تشويق دپاره مو پيسې درکړې. مونږ سره ستاسې د هوساينې غم دی. که تاسې هم مونږ سره ودرېږئ دا کومکونه به لا زيات شي.
خلکو غږ که چې ولاړ يو. لېوه شکله شيطان مخ خپل ملګري ته که:
– آفرين! آفرين! څنګه په مهارت دروغ وايي. خلک مفتخواره بلدوي. په رشوت را يه غواړي.
د هارون په ټټر کې توره سوړه ښکاره شوه. لېوه شکله شيطان ورته کړس کړس وخندل. پيشو شکله هغه ټېل وهه چې خندا پرېده، ننوځه! شيطان داخل شو. هارون ورپړېدېد. خپل ګرېوان ته يې وکتل. لکه په ټټر کې چې يې تودوخه احساس کړې وي. د سترګو ګاټي يې دوه شول. لکه دوه سيکې چې سر په سر پرتې وي. هارون يو دم وخندل:
– ای يارانو ای! چرس وهئ! شراب سکئ! چې په جنت کې حرام ندي دلته ولې حرام وي؟ هههههها.
ملګرو يې په غټو غټو يو بل ته وکتل. ملکانو هرررر وخندل. خو د سپين پکول والا برګ شو:
– وستاذه! د شرابو نوم ما خله! کافر کېږې.
– هههههه. ای پکول ماما! اغه په جنت کې چې پکې لامبي، اغه به نو ټول زنديقان وي، آ؟
ملکانو بيا په زوره وخندل! سور ځوان هارون ته په غوږ کې وبنګېد. هغه ټېل وهه:
– پرېده مړه! ما کله ورانه خبره کړې؟ جوند خو دی د عيش و نوش دپاره. هههههها
ملګرو يې له لاسه کش که چې کېنه. مګر هارون غو ښتل وغږېږي. بالاخره يې په زوره کېنوه. غونډه يې په نيمه کې ختمه اعلان کړه. ملکان په خندا روان شول. د هارون له ټټر څخه لېوه شکله شيطان سر راووېست. پيشو شکله شيطان ته يې کړ:
– اوس نو پرښته مرداره په کوتو راغله. هاغه څه به کوي چې موږ يې غواړو.
د ميزان په نهمه ډله ډله ښځې په کراچيو راتاوې وې. ماشومانو ته يې جامې کتلې. ساجده په غوچما غوچ کې ترپُلې باغي عمومي لاړه. بېرته راوګرځېدله. د غابنونو د روغتون پر دېوال جامو ته ځير وه. يخې ښځې ټېل وهله چې لاره پرېده. دا برګه شوه. ښځه وبنګېدله، لاړه. ساجدې زرزې سترګې د سپړېنا هوټل ته ونيولې. اسويلی يې وخوت. په چورت کې يې د مخابراتو د وزارت جيګ تعمير ته وکتل. بيا ترپله لاړه، بېرته راغله. يو هزاره هلک په خپله لهجه وپوښتل:
– خورې! څه شي پسې سرګردانه يې؟ ماته ووايه!
پخوا به ساجدې هم هزاره ګۍ لهجه کوله. خو اوس يې ټنډه تروه وه. په پښتو يې جواب ورکه:
– کرار دې پر ځای کښېنه! قومو.
هزاره هلک پوه شو چې د ټيټې پزې له امله يې ورباندې اشتباه کړې. هغه هم پښتو ته شو:
– ولې په قارېږې؟ زه کومک کوم.
– ضرورت نسته.
هلک سترګې د څنګ ملګري ته واړولې. په دري ژبه وبنګېد «لېونۍ ده» ملګري يې برګ د سمال تر غاړې تاو که. سترګه يې ووهله، روان شو. ساجدې ته غوږ کې وپسېد «څو اخلې؟» هغې کاږه وکتل. ځوان موسکی و. ساجدې ترې فاصله ونيوله.
هزاره هلک له لېرې خندل. د سمال والا ځوان بيا نزدې ورغی. وبنګېد «ډارېږه مه! پوليس نه يم» ساجده برګه شوه:
– چيشي دي؟ ځغله موردار خوره!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خلکو پام واوښت. دسمال والا ځوان سترګې تېرې کړې:
– ای! بي بي بي بي مه کېږه! ستا په شان ښځې مالومې دي. څه ورکېږه! که نه پولیس خبروم!
هلته پرسرک پولیس روان و. ساجدې ورنارې کړې:
– پولیس ماما! ای پولیس ماما! دلته راسه! دغه الک ما ځوروي.
د ځوان سترګې تېغې تېغې راووتلې. پولیس راوګرځېد. ویې پوښتل چې ولې؟ د ځوان ژبه ټکنۍ شوه:
– دا، دا یو سات شو دلته ګرځي. غله ده. ما ویلې ددې ځای نه څه!
– هئ ګونګ سې! زه یو چاته منتظره یم. پولیس ماما! درواغ وایي. بدې خبرې یې راته وکړې.
پولیس ځوان ټېل وهه:
– سړی شه ګوره! بیا دې د تورو تمبو شاته اچومه!
ځوان خړې سترګې خپل ځای ته لاړ. هزاره هلک له خندا شین و. ساجدې ساعت ته وکتل. نهه نیمې بجې وې. له سرکه واوښتله.
د سپړنا هوټل په کونج کې ودرېدله. دا مهال زه راووتلم. غوښتل مې ټکسي ته ننوځم. د ساجدې غږ مې واورېد:
– ای ای پرشتي! صبر صبر! ودرېږه!
زه پښنه نیولې شوم. ساجده په منډه ورسېدله. بې له سلامه یې وپوښتل:
– ژر وایه! هارون چېرې دئ؟
– جنتي شې! ته خو خبره یې چې لغمان ته تللی.
– هی سترګې دې خاورې سه! آخو بېرته رالئ. وایه وایه! چېرې دې پټ کړی؟
– څه شی؟ کله راغی؟ زه یې ولې پټ کم؟
ساجدې له ستوني ونیولم. زور یې که. زه شاته لاړم. ساجدې لاندینۍ غټه شونډه وچیچله:
– په مکارۍ خلاصیدی نسې. حتمن دې درې ورځې چېرې ترلی دئ. ژر وایه!
– جنتي شې! ستوني پرېده! ما ندی لیدلی.
خلکو د زرنګار پارک له څنګه کتل. زموږ جنګ ته له خندا شنه وو. پر سرک یو موټر سست شو. بل شاته ډیکه ورکړه. دواړه
کېوتل. یو بل یې ملامتوه. دلته ساجدې زما په ستوني زور کوه. د هوټل ساتونکی راغی. هغه یې له لاسه کشه کړه:
– ای خو شې که! څه شور دې جوړ کړی؟ ته خو سمه شیشکه یې.
زموږ دواړو سا سوزېدله. ساجده روانه شوه. په تګ کې یې شاته وکتل:
– ای ای درواغجنې! شه یې واوره! که یې ایله نکې اریضه درباندې کوم.
ما په چورت کې ورپسې کتل. دومره پوه شوم چې درې ورځې کېږي هارون ورک دی. معلومه نه وه چې پولیسو نیولی؟ موټر
وهلی؟ په کوم کار پسې تللی بېرته راغلی نه دی؟ که ابلیس کوم کار کړی؟ سودا مې شوه. سیخ د هارون دفتر ته لاړم. هلته ژوند
عادي روان و. د نجونو یوې ډلې په دهلېز کې ټوکې کولې. خندل یې. زه ورغلم:
– جنتي شئ! هارون مې په کار دی؟ د ارتباطاتو ریس.
فیشني نجلۍ ټیټ او پاس وکتل. په ناز یې شنې سترګې ورپولې. زما د نرم غږ پېښنې یې وکړې:
– جنتي شې! اغه خو تا لېونی که. زموږ د ښې دې ام وباسه.
خورلڼو یې کړس کړس وخندل. زه ایله اوس پوه شوم چې څه ډول غږېږم. ټیټکې نجلۍ خپله ملګرې چونډې کړه. وپسېدله
«ورکه شه! تا پورې څه؟ جواب ورکه!» هغې بیا مخ ما ته راوګرځوه. په هماغه انداز خو د خفګان په تمثیل یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– الا توړی! ریس صیب دا درې ورځې نه ښکاري. چې اغې دونیا ته په غیر قانوني لارو مهاجر شوی نه وي.
بیا د نجونو د خندا شور فضا ونیوله. زه خفه نه شوم. پوهېدم چې افغانان هره ورځ له دردوونکو پېښو سره مخ کېږي. زړه یې د زغملو زور نه لري. نو په خندا یې تېروي. ما بیا نجلۍ ته وکتل:
– ریس صیب ویلي ندي چې ولې نه راځي؟
نجلۍ مخ مړاوی که. له ساړه اسویلي سره یې وویل:
– الا کاش چې ماته یې د زړه راز ویلی. په زیارتونو به مې نذرونه ویشلي وو.
بیا په دهلېز کې د زورورې خندا انګازې شوې. یو سړي غږ که چې موږ کار ته پرېږدئ که نه؟ چاغه نجلۍ ما ته نږدې شوه:
– خورې! ریس صیب چې کله نه راځي وایي. دا وار یې ندي ویلي.
زه روانه شوم. په فکر کې مې رنګارنګ خبرې ګرځېدلې. خو ډېر مې زړه ویل که ورک وي نو بنسټپالو به اختطاف کړی وي.
متهک راډیو ته لاړم. په سټډیو کې یوازې نوکریوال پاتې و. زه د زرګل دفتر ته ننوتلم. ما ویل:
– وروره! د هارون نه خبر یې؟
زرګل د مرکو د ثبت په وسیلې کې بېټرۍ اچولې. تېز وغږېد:
– بې وفا انډیوال؟ اغه ما نه خفه ده. ټلیفون ته مې جواب نه وایي.
– جنتي شې! هغه ورک دی.
زرګل وړې ګردې سترګې پورته کړې. په شونډو یې د شوخۍ موسکا وګرځېدله. سټډیو ته په تګ کې وبنګېد «د قه سې»
نوکریوال ته یې د ثبت وسیله ورکړه. ویل ددې نه مرکه واخله! ایډیټ یې که! بیا یې خپره که! بېرته په موسکا راغی:
– ښه تا ویلي ټیکټر ورک ده؟ ټوقې مه کو! څنګه ورک ده؟
– ورک څنګه وي؟
– نا، که د سې وه غفور کاکا خامخا خبرولمه. چې ساجدې کومه کانه کړې نه وي. ټیکټر پې ډېر ګرم ده.
– نه، هغه داسې جینۍ نده.
– د قه سې! ستا زړه پاک ده. هر څوک درته ځان غوندې ښکاري.
– جنتي شې! اغه ورسره مینه لري.
– د اینسانانو مینه ده کنه. په وړه خبره کرکه شي.
هغه اول هارون بیا غفور ماما ته ټلیفون وکه. ویل چورت مه وهه! ټلیفونونه یې اتتن نه ورکوي. ټول چېرته په چکر تللي.
سبا سهار د هارون د کور دروازه خلاصه وه. خوریانو یې د تاکونو تر چېلې لاندې موټرکان ځغلول. خوبانې ترور په برنډه کې لوبیا پاکوله. غفور ماما په پټي کې بېل وهه. د کوم خفګان څرک نه ښکارېده. ما سلام واچوه. ماشومانو دروازې ته رامنډه کړه.
غفور ماما بېل وهل ودرول. اوږده پزه یې په ګوتو کشه کړه. د خوبانې ترور د مخ ګونجې زیاتې شوې. ویې پوښتل:
– مونږ سره دې څه کار دی؟
– جنتي شې ترورې! ما اورېدلې چې هارون...
– چې هارونی مې ورک دی. زړه دې نارامه شو. تپوس له یې رالې. ندی ورک. زړه دې آرامه شو؟ ځه نو په مخه دې ښه!
ما شیطان ولید. سر یې د وزګړي و. د هغې څنګ ته راغی. زما د تندي راټولېدو ته د خوبانې ترور پام و. ویې ویل:
– سترګې مه ستومانه کوه! په کاله کې نیشته.
– جنتي شې ترورې! چېرته دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- څه يې کوې؟
- د ټولو سودا ده چې څه پې شوي نه وي.
- دا ټول څوک دي؟ څه ورله وو ايه هارونی مې روغ و جوړ دی!
- وی، ساجدې نو ولې داسې وويل؟
- اغه لېونۍ ده. نا، زوی زما دی. تاسې پورې څمڅۍ لنډه ده، ښا؟
اتل غبرګه:
- ماما مې ويلې چرته ځمه. غم مه کوئ! هاو.
شيطان موسکی و. د اتل خبرې ته يې سر وخوځوه. زما بيا اندېښنه شوه. زلما غبرګه کړه:
- د بابا موبايل يې ام چرته پټ کړی دی. هاو.
شيطان لاسونه واز او سر کوږ که. ګواکې داسې غورې دي. خوبانې ترور په ماشومانو سترګې برګې کړې:
- غلي شئ ټکانچوانو! ځئ! د غټانو خبرو کې مه ګډېږئ!
ماشومان لږ شاته شول. ما وپوښتل:
- ترورې! ولې يې پټوئ؟
اتل ترابۍ مخکې جواب راکه:
- ماما مې ويلې چاله مه وايئ!
- جنتي شې! بل څوک ورسره و؟
زلما غبږ که:
- نا، بل څوک نه و. ځان سره يې خبرې کولې.
ما ويل «ښه ښه فيشني نجلۍ ځکه ويل چې تا لېونی که» غفور ماما راغی. ماشومان يې ټېل وهل:
- ځئ! ځئ! خوشې خوشې مه غږېږئ!
زلما برګه شوه:
- ما وليده. ستا خو سترګې نه ويني.
د غفور ماما مخ وپړسېد. خوله يې د کوټې په لور ونيوله:
- عايشې! چرته ورکه يې؟ دا بچي دې وله! اوس يې درله وامه!
عايشه په منډه راغله. ماشومان يې بوتلل. ما ويل:
- ای ماما! سمه خبره وکئ! چې هارون بيا په بلا وانه وړي.
خوبانه ترور وبنګېدله «ګونګه شې په دا بې خيره خوله!» شيطان اشاره وکړه چې سمه خبره کوي. غفور ماما برګ شو:
- څه جينۍ! دسې خبره نيشته. وړکيان دي. د ځانه خبرې باسي.
- جنتي شې ماما! موږ يې بايد پيدا کو.
- نا، ستا مقصد څه دی؟ ماله دا وايه!
- زما مقصد؟ د بدبختۍ نه د هارون ساتل.
- بدبختي چرته ده؟ او ته يې څوک؟
زه غلې شوم. غفور ماما وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ته چې پيدا شوې يې مونږ په غم ککړ يو . پرېږدې مو که نه؟
ما سترګې ښکته واچولې. خوبانې ترور غږ که:
– دونه چې وارخطا يې څه ښار د ناولو سړو ډک دی. د خدايه تا غوندې جونې غواړي.
زه له شرمه تکه سره واوښتلم. خدای پامانې مې وکړه. دې کې مې موبايل وچونګېد. د هارون تصوير راغی. وېښتان يې ګډوډ وو. د مخ د پړسوب له امله يې يوه سترګه نه ښکارېدله. پر شکېدلو جامو يې د وينو چاپونه ليدل کېدل. دېوال ته کوږ ناست و. ژړل يې. په ما سر وګرځېد. سترګې مې ډکې شوې. مخ مې خوبانې ترور ته که. بېرته مې خوله ونيوله «نه نه. دوئ به له خفګانه مړه شي» د حويلۍ په دېوال بل شيطان ننوت. سر يې د بيزو و. موسکی شو. ما په زړه کې وويل «دا شيطانان د هارون نه خبر دي. بايد په څه چل تې معلومات واخلم. څه چل وکم؟ څه وکم؟ څه...» ناڅاپه د مولانا وسله وال لکه سېل ننوتل. زه يې کشه کړم. د چرګ کټکټاک وخوت. اتل او زلما په کړکۍ کې وژړل. ما له دواړو مشرانو کمک وغوښت. خوبانې ترور په وسله والو غږ که:
– خير ويسئ بچيانو! ددې بلا نه مو خلاص کئ!
د مولانا مېلمستون د ډاکټر دقيق تر هغه هم مجلل و. زينتي بوټو، مرمرينو لارو، وړو وړو فوارو، په چمن پټو غونډيو او له زانګېدونکو چوکيو سره سپينو څپرو د سړي پام اړوه. مولانا په جالۍ خولۍ کې د سپينې ودانۍ مخ ته ولاړ و. ماته يې غاښونه وچيچل. موبايل يې غوږ ته ونيو:
– ای د الله له حقانيته مونکره! څنګه سو؟ پتاسکه مې درچخه والوزوله که نه؟
هلته ډاکټر دقيق وخندل:
– کېنه بچو! تاسره خو ام نده.
– ما چخه ده. لکه پيروی مې مخ ته ولاړه ده. هی خدای شرموليه! ته ما ته په هر ډګر کې ماته راکوې، ته؟
د ډاکټر دقيق غږ بدل شو:
– ګوره ای! د اغې تا غوندې ببره ګوريلا نه خوښېږي. اغه چې څنګه نازکه ده، دغسې يې فطرت ام نازک دی.
– خوسې خوسې مه کړتېږه! ته ښځې نه پېژنې. تا غوندې څټلی ورته همجنسه ښکارې هههه.
– څه بچو! يوه يا دوه ورځې به مېلمنه وي. خيال يې ساته! زما امانت دی.
– هههه د غريبۍ دې بېخ شين سي! د غړکې کوچ خو نه رسي، اغه تروې ام غنيمت ده.
– ای ای ګوريلا! لاس ور نه وړې ګوره!
مولانا غړمب غړمب وخندل. ټيليفون يې بند که. ما په زړه کې ويل «دوئ څوک دي؟ افغان بنيادم خو د خپل ناموس په هکله داسې نه غږېږي» مولانا سپينه جالۍ له ګنجي سر څخه واخېستله. مخ يې ما ته که:
– التهرا چخه ولې وتښتېدلې؟
– مجبوره وم. ماته په چمن کې خلک منتظر وو.
– څې ما سره څوک سم نه ځي تا غوندې به په تيږو ويشتل کېږي.
زما په جيب کې موبايل ورېږدېده. غږ يې بند و. ووېرېدلم چې راڅخه وايې نه خلي. مولانا وويل:
– زه خو غلی ناست ومه. تا خپله ويلې ما وباسه درسره واده کومه.
– زه مجبوره وم.
– مجبوره وم، مجبوره وم، احمقې؟ ما دا دونه زيامت د چا دپاره وباسه؟ ټوکې دي؟
هغه مخ خپلو کسانو ته کړ:
– تياره يې کئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتونکو زه پینځو پهلوانو ښځو ته وسپارلم. هغوئ پر تخت سملولم. ما زور وهه چې ځان خلاص کم:
– دا څه کوئ؟ وه دا څه دي؟
ښځو زما لاسونه د تخت په پښو پسې وتړل. رسۍ یې زما پر خېټه له ټول تخت څخه څو ځله تاوه کړه. ما زارۍ کولې چې خوشې مې کئ! پخې ښځې وویل:
– وه! د نامه نه کته خوشې یې کنه. نور څه غواړې؟
ټولو کړس کړس وخندل. ما وژړل:
– خدای ته وګورئ! تاسې خو ښځې یئ. پوهېږئ. زما هغه ندی خوښ.
– غلې! ستا به سل خوښېږي، سلو سره واده کې؟ دلته خوښه مښه نشته. تقدیر چلېږي.
هغوئ ووتلې. مولانا په دروازه کې څرګند شو. تندی یې ورین و. لانده لستوڼي یې کش کړل. په لمانځه ودرېد. څلور رکعته یې وکړل. چوست تخت ته را وخوت. تور واسکټ یې ووېست. ببره بږیره یې ورپېدله:
– دا مې نفلونه وکړل. څې الله رب العزت زما او ستا په زړه کې د یو بل سره مینه واچوي.
ما زورونه وهل. یوازې معجزې بچولی شوم. مولانا له پاسه زما سیل کوه. شونډې یې وچیچلې. سر یې وښنډه:
– هئ د قدرتونو دې جار سمه. څې په کوم قلم دې جوړه کړې ده؟
بیا یې مخ په قبله لاسونه لپه کړل. په غږ یې وویل:
– یا الله! زه د دې سره پسته نیکاح تړمه. وعده ده. خو اول کوروالي کومه. چې بیا ونه تښتي. ته دا وړه ګونا موږ ته وبښه!
زما سترګې رډې رډې راووتلې. په ډک ستوني مې غږ که:
– ځان مه غولوه! زنا کبیره ګونا ده. او ما پرېده! زه هغسې نه یم چې ته فکر کوې.
مولانا زما شونډو ته ځیر و. کمیس یې ووېست. چاغ او ببر ځان یې ښکاره شو. ټلیفون وترنګېد. مولانا بند که. پر ما راټیټ شو. ټلیفون بیا وترنګېد. هغه غابښونه وچیچل. د بندولو تڼۍ یې بیا ووهله. دریم ځل یې واخېست. چیغه یې کړه:
– څوک یې احمقه؟ اجل دې راغلی ده؟
یودم یې څېره بدله او غږ ټیټ شو:
– خبریالان؟... پولیس امورسره دي؟ څه خبره ده؟... یوټن پوډر؟ زما په مېلمستون کې؟ ... دا څه بد کوي؟... د ډاکټر دقیق کار ده... ته یې لږ وځنډوه!
هغه جالۍ خولۍ په ګنجي سر کشه کړه. چټک یې کمیس واغوست. زه یې هم خلاصه کړم. ګوته یې وښنډله:
– خوسې خوسې به نه کړتېږې! داسې به ښیې څې دې جي کې خوشاله یې! که دې سونګ کړی و وزنم دې.
ډله ډله خبریالان او پولیس مېلمستون ته راغلل. مولانا قوماندان ته وپسېد:
– الکه دا چې سو؟
قوماندان مخ مړاوی که:
– ایځ نه کېدل. ټوله دونیا خبره شوه. پوډر چېرته دي چې اغه ځای تلاشي نه کو؟
– نسته. دروغ دي.
– ښه نو ولې تشویش کوې؟ ته به یې ګورې چې زه اوس خبریالان څنګه سپکوم؟
ما او زرګل پینځه پهلوانې ښځې د رسنیو مخ ته د شاهدانو په توګه ودرولې. ومې ویل چې له مولانا صاحب سره د سولې په باب غږېدو ته راغلی وم. ښځو سرونه وخوځول. مولانا تریو شو. د کمرو مخونه ور واوښتل. هغه له مجبوریته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– موږ الحمدلله سولې ته کار کوو. دوښمن د سیسې جوړوي. حکومت دې د سیسه کار ته جزا ورکي! که نه، خیر به یې نه وي.
زرګل ماته موسکی شو. ټول پولیس تش لاس د کمرو مخې ته ودرېدل. قوماندان میکروفونونو ته خوله نژدې کړه:
– دلته خو پوډر موډر نشته. چې تاسې خبریالان د دروغو آوازې ولې اچوئ؟ که څوک پیسې درکوي؟ ښه د مولانا صیب د شخصیت سپکاوی به څنګه شي؟ پولیس ام سرګردانه. موږ به مالوموو چې چا دا آوازه اچولې؟ بیا اغه پوېږي، قانون.
خبریالانو خپل مایکونه او کمرې ټولې کړې. زه هم ورسره روانه شوم. مولانا زېړې زېړې کتل. په لاره کې زرګل راته وویل:
– ستا مسېج مې وخته لیدلی و. ما یوازې چیشی کولی شول؟ بس دغه کار مې وکه. لړناوخته شو.
– جنتي شې! ستا دا احسان به زه کله هم هېر نه کم.
– دقه سې! وررور نو چیشته وي؟
– لوګی دې شم وروره!
ما په موبایل کې نېټه وکتله. د میزان لسمه وه. په زړه کې مې وویل «اته ورځې پس به زه او هارون سا اخېستلی نه شو. په بېلا بېلو قبرو کې به پراته یو. هرڅه به ختم شي. نه به مینه وي، نه مینې ته د رسېدو هڅې» ترنګ شو موبایل ته د هارون بل تصویر راغی.
شا یې تغمې تغمې وه. ما ورکتلی نه شول. زرګل ته مې هم ونه ښود. ګټه یې نه لرله. یوازې به ځورېدلی و. زه سیخ د هارون کوڅې ته لاړم. له لېرې مې څارکوه. تېزا و یخ شمال له پاخه سرکه نرۍ دوړه والوزوله. شېبه پس مې یو شیطان ولید. د فیل په شان خرطوم یې جیګ ونیو. غوږونه یې لکه چجونه وښورول. د فیل رمباړه یې وباسله. له کورونو څخه شیطانان ووتل. راپورېې ورکه. بېرته ننوتل. هغه روان شو. زه تېزه ورغلم. اول مې ښه ژوره سا واخېستله. بیا مې په آرامه غږ که:
– ای شیطانه! اورې؟
هغه غوږونه څک او خرطوم سیخ که. زما په لیدو بېرته آرام شو:
– تو لانت! ما ویل چې بنیادم مې څنګه ویني؟ ویش ویش! ستا حال تر بنیادمانو بتر دی. هرڅه وینې خو هېڅ کولی نشې.
ما اورېدلي وو که دښمن ځوروې نو ځان خوشحاله وښیيه. د بې باکه ځوانانو په شان مې وخندل:
– هاهاهاها! که بل څوک باتې وولي یوه خبره. ته بېرا خو غلی کېنه!
د شیطان تندی تریو شو. په آسمان کې ورېځو ته په کتو یې حرکت وکه. زه ورپسې شوم. ما ویل:
– زه خبره یم. شیطانان څلور ډوله دي. زبرځواک شیطان یوازې ابلیس دی. هغه ملکونه، نژادونه او دینونه په بدۍ اړوي. جیګپوړي شیطانان امیران او وزیران دي. هغوئ مذهبونه، قومونه او ګوندونه سره جنګوي. منځپوړي دا ټیټ چارواکي دي. دوه ډلې، دوه کورنۍ او دوه کسه په دښمنۍ کې اچوي. او تا غوندې ناکاره شیطانان هېڅ کولی نشي. یوازې خلک څاري بس.
د هغه سترګې تېرې شوې. ودرېد. مخ یې راواړوه. په خندا یې وویل:
– تېرت! موږ څه بنیادمان نه یو چې ځان یو په بل بر وبولو. د اور په عالي ذات کې هریو محترم دی.
– ههههه بالکل بالکل. په خوله ځان غټ ښودل هم بد کار نه دی. تسلي خو کېږي.
د شیطان بدن داسې سور شو لکه سکروټه چې شمال ووهي. ویې ویل:
– له مردارې خولې مردارې خبرې وځي!
دخپلې اورېې پټۍ یې وښودله:
– سترګې دې نشته؟
– وینم یې. ځکه وایم.
– بد دې وکړه! دا د منځپوړي چارواکي نښه ده. پوه شوې؟ بنیادمان لکه سپي جنګولی شم، هو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هههه، هیله کوم جناب. ما غولولی نشې.
شیطان برګ شو:
– غلې مردار مخې! څارګر دننه په حویلیو کې دي. زه هیئت یم.
– اوهوهوهوهو. مزدور او دومره غرور؟ څه خیر. وله وله! په باټو خرچه نه راځي.
یو کس تېرېده. ما داسې وښودله چې په موبایل کې غږېږم. شیطان له بیا روانېدو سره وویل:
– تاته نور څه پاتې دي؟ امدا ډتې کوه! ټرن چایبره! ههههه.
– هههه، څه څه! دوره باسه دوره! ناکاره شی یې. که منځپوری وې دستي دې ثابتوله.
شیطان ودرېد. ټول بدن یې لمبې وکړې. شاوخوا یې سترګې وګرځولې. غاښونه یې وچیچل:
– اوغه عمومي سرک ته نژدې د بزازۍ دوکان وینې؟ اغو کسانو ته ګوره!
شیطان د فیل په شان سر وښوروه، وغړمبید. حرکت یې وکه. زه ورپسې ورو ورو وخوځېدم. شیطان د دواړو کسانو خبرو ته غوږ ونیو. سور برېتي دکاندار ټوکر تاووه. په خوند خوند یې کیسه کوله:
– ویم چې دا خوله یې خلاصه کړه، او شړک، په دا مخ.
دواړو کټ کټ وخندل. ډنګر دکاندار په اوږه ډیکه ورکړه:
– یره نثاریه، ته دغسې شی یې کنه.
– بس مازغه دي. کله کله شاټ شي.
– او اغه بېچاره ستا د لور صفت کوه.
– ماته څه مالومه وه؟
– خبره په حوصله کې ده کنه. ته لکه پیطرول یو دم اور اخلې.
– ههههه دا سپېره چې مې ورخوشې کړه، بدل غاښونه یې وااااالوتل. خوله یې لکه بې دروازې بوساړه.
دواړو په زوره زوره وخندل. زه په فاصله کې ودرېدلم. شیطان د هغوئ خبرو ته ځیر و. ډنګر سړي وویل:
– ښه و چې زر په خپلې غلطۍ پوی شوې. عذر دې وکه. که نه، تانه یې بوساړه جوړوله. ښه وریندار څنګه ده ورېندار؟
– ښه ده. ای خیر ویسې! که ته په واده کې نه وې اغه مړه وه.
– ته دا خبرې پرېده!
– ولې پرېده؟ لوی کار دې وکه. وایي د خیرات په ورځ د غریب غوا ورکه وي. زما موبایل کار نه کوه.
– هو. زنګونه وهه، تالار لټهو، ته ورک وې. ورېندار مې موټر ته واچوله. ډاکټرې دستي ستن ولګوله. فشار یې ښه شو.
– ومې ویلې چې ډېره ونه خورې! ډوډۍ که د بل ده خېټه خو دې خپل ده.
– ههههه اغه او غوښه ازلي میینان دي. یره په خوب کې به ام وایي غوښه غوښه، غوښه غوښه.
سور برېتي په خندا تایید کړه. شیطان د دېوال پناه په هډور انسان بدل شو. راغی. ډنګر سړي ته یې کلکه غېږه ورکړه:
– ای ناځوانه! بېخي ورک ورک یې. بس دوکان دی او کور. خلاص!
سړي په غټهو غټهو کتل. چورت یې وهه چې دا څوک دی؟ خو شیطان د کورنۍ او بچیانو پوښتنه وکړه. ویې ویل:
– یره ډېر وران یې. اغه ستا کیسه چې مې یاد ېږي ټوله ورځ خاندم.
نثار په سرو برېتونو کې موسکی موسکی کېده. مګر د ملګري یې له حیرانتیا خوله وازه وه. ویې پوښتل:
– زه وروره پوه نشومه. کومه کیسه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ولې؟ اغه د انډيوال ښځه چې دې د مريضۍ په بانه بيولې وه. هی خدای وهليه!
د نثار خوله وازه شوه. ملګري ته يې وکتل. په زوره يې وخندل:
–آااا! اوهوهوهوهوووووو...
خو ډنګر سړی شيطان ته برګ شو:
–آ؟ ته څه لګيا يې؟ د کوم انډيوال؟
– ولې؟ اغه د واده په ورځ کنه. تا ويلې نثار دی که قهار دی؟
سوربرېتی نثار ايله اوس پوه شو. سترګې يې يو دم رډې رډې را ووتلې. مخ يې لا سور شو:
– څه شی، څه شی؟
ډنګر ملګري يې ژر وويل:
– دا، دا، په خدای چې دا دروغ وايي. زه دا ښځې پېژنم نه.
نثار چيغه کړه:
– نو د واده نه څه خبر شو؟ د اغې د مريضۍ نه څه خبر شو؟
ډنګر سړي دده پوښتنو جواب نه درلود. خوله يې تاوه راتاوه کړه:
– زه نه پوهېږمه. څه خبر يمه. خو قسم چې دروغ وايي.
نثار په فلزي متر پسې منډه کړه. له ډنګر سړي لاره ورکه وه. شيطان په وازو سترګو کله يو کله بل ته کتل. لکه په خپله خبره چې پښېمان وي. ويې ويل:
– وی اغه انډيوال دې دا دی؟ ډېر وبښه!
سړی شيطان ته برګ شو. دې کې نثار د فلزي متر شړک ورکه. ډنګر له درده اخ که. د ملګري لاسونه يې کلک ونيول. خلک ټول شول. شيطان په غرور ما ته وکتل. ما يې مټه ونيوله. په دکاندارانو مې غږ که:
– ای ماما! تاسې صبر! صبر! دا دروغ وايي. په جنګ مو اچوي.
شيطان هک پک شو. نثار زور وهه چې له خلکو ځان خلاص کې. ويې ويل:
– ټکي په ټکي رښتيا وايي. په خدای که يې ژوندی پرېدم!
– جنتي شې! دا شيطان دی. سترګو ته يې ګوره!
ما د شيطان تورې عينکې لېرې کړې. د ډنګر سړي سا سوزېدله. زما خبره يې غبرګه کړه:
– هو کنه هو. امدا دی. ما اغه بله ورځ يو ته قسم ورکه.
دکاندار زړه نازړه شو. په شک يې کتل. اوس د ټولو خلکو مخونه موړ ته وو. شيطان د لاس خوشې کولو کوشش وکه. ما هغه د اوږد دېوال څنګ ته بوت چې خلک خبرې وانه وري. په موبايل کې مې تصوير وښود. وپسېدم:
– وايه! هارون چېرته دی؟
شيطان مخ مړاوی که:
– تا ماسره چل وکه. پرښته خو خلک نه غولوي.
– زه اوس بنيادم يم. بنيادم هره نخره کوي.
– نه، نېک بنيادم هم څوک نه غولوي. هيله کوم. لاس مې خوشې که!
– ډېر مه کړتېږه! د پوښتنې جواب راکه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زه د هارون نه خبر نه یم. باور وکه!
– ښه خبر یې!
– چې خبر وم په خدای چې ویل مې. دادی ستا په هکله چې څه فیصلې شوي درته وایم.
هغه د ابلیس د تخت په لوی تالار کې د مجلسونو معلومات راکړل. خو د هارون له پېښې یې ځان ناخبره وښود. مانه منله:
– خبر یې. اوس قرآن راوړم. ستا مخ ته یې تر هغو نیسم چې اقرار وکې.
د شیطان سترګې له اوښکو ډکې شوې:
– زړه دې نو! زه که هرڅه ووایم ته یې نه منې.
ما ته عجیبه وه «شیطانان خو نه ژاړي. د هغوئ زړونه سخت وي» سوربرېتي تشار لاهم د ځان خلاصولو لپاره لړ لړ زور وهه. مګر سترګې یې په شیطان کې وې. ما د هغه ډنګر ملګري ته غږ که:
– ای ماما جنتي شې! د هاغه جومات نه قرآن شریف راوړه!
سړی په منډه لاړ او په منډه راغی. شیطان له قرآن څخه مخ تاووه. ما کلک ونیو. هغه لکه مریض کوکری وسونګېده. مګر اقرار یې نه کوه. نری نری باران شو. دواړو دکاندارانو په بې صبری کتل. د باران څاڅکي غټ شول. د شیطان له بدن څخه نری ځغه هار وخوت. ما ویل دا غږ د څه شي دی؟ شیطان وښورېد. لکه ستنې چې پکې چوخېږي. له زګېرویو سره یې وویل:
– ای خورې! ګوناکاره نشې. قرآن کریم دې باران ته نیولی دی.
ما قرآن تر ټیکري لاندې که. له ځان سره مې وویل «وی خیر دې ویسي! نېکي یې وکړه. ای چې اوس هم اقرار نه کوي خبر به نه وي نو» هغه مې د نزدې دروازې تر پیک لاندې بوت. د بدن ځغه هار یې غلی شو. د هوسایۍ سا یې واخېستله. ویې ویل:
– مننه مهربانې پرښتې! ماته مې ماشوقه بې حده ګرانه ده. که په وخت ورنشم خفه کېږي.
وی‌ی‌ی‌ی! دا خو معشوقه هم لري. ومې پوښتل:
– نه، ته رښتیا میین یې؟
شیطان په عاجزۍ مخ وخوځوه. زما ستونی ډک شو:
– الله دې هېڅ میین نه جدا کوي!
په زړه کې مې ویل «اخ چې همداسې زه هارون ته منتظره یم او هغه وارخطا وي چې ناوخته شو» شیطان ته مې کړ:
– ستا معشوقه نیکبخته ده. تا غوندې میین لري. ځه، زر ځان رسوه! ځه!
شیطان زما لاس ته اشاره وکړه. ما ویل وی ولې مې عاشق د معشوقې نه ګرځولی؟ دا ظلم دی. د هغه لاس مې پرېښود. شیطان چترۍ په سر ونیوله. روان شو. تشار بیا فلزي متر ملګري ته واړوه. شور او کنځلې شوې. زه د خپلې ناکامې مینې په چورتونو کې ډوبه وم. ترنګ شو. موبایل ته مې د هارون بل تصویر راغی. جیټکه مې وخوړه. شیطان ته مې وکتل. هغه په تشه کوڅه کې تېز روان و. د لرګیو دړ ته یې ځان رسوه. دلته و چې سر مې کار وکه. ما ویل وی دا خو غواړي په دړ کې له سترګو پناه په پېرې بدل شي. د دروغو قسمونه یې خوړل. د معشوقې خبره یې هم رښتیانه ده. دوئ خو له مینې کرکه لري. پسې منډه مې کړه. شیطان هم په ځغاسته شو. هه هه هه. د دړ په خوله کې مې ګیر که. لاسونه یې لکه چایبر سره وو. ماته د پیرالسبي لاسونه او له بارانه پټېدل رایاد شول. په خپلې کم عقلۍ غصه راغله. چترۍ مې ترې وغورځوله. بدن یې بیا ځغه هار وکه. وسونګېد. برګ شو:
– ای ای دا څه کوې؟ تراوسه دې څه ویل؟ ماته ماشوقه منتظره ده.
د لرګیو د دړ خاوند له سپین پټو څخه خوله وباسله:
– شابه شابه د نر لورې! ستا خبره څنګه نه مني؟ په دا یخ کې یې راچپه که! ویمه ښه یې وغربوه! دده پیر خانه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته په دکان کې هم خلکو خندل. نثار بيا زما د کار نتيجې ته منتظر شو. شيطان مې وجړکوه. ما ويل:
– ما نشې غولولی! چې د هارون ځای ونه ښيې نه دې پرېږدم.
شيطان چيغه کړه:
– خو شې که مردار مخې! ويم خو شې که! زما قوم به دې ټوټه ټوټه کې...
باران نور هم تېز شو. د شيطان له بدنه داسې لوګي وختل لکه په سکروټو چې اوبه شيندې. هغه او س په ټول قوت زورونه وهل
چې تر څپرې لاندې پټ شي. خو ما نه پرېښود. زګېروي يې ورو ورو په رمباړو بدلېدل. بالاخره يې په چيغو وويل:
– هو، هارون موږ تښتولی. ما مشرانو ته وسپاره. پرې مې ده!
– ورو غرېږه! راځه د څپرې لاندې ټوله کيسه وکه!
هغه په نورستان کې د ملکانو د غونډې صحنه بيا ن کړه. خو ويل يې اوس له هارونه خبر نه يم. ما نه منله. هغه ټينګار کوه:
– رښتيا وايم. د اور په ذات قسم که خبر يم. زموږ له مشرانو پوښتنه وکه! خو شې!
دا ځل زما باور راغی. هغوئ په خپل ذات ناحقه قسم نه خوري. د شيطان لاس مې په قرآن کېښود. توبه يې وباسله، ورک شو. د
دړ خاوند په دواړو لاسونو سر ونيو:
– وه پيره بابای! ددې بلاګانو نه مو وساتې!
دکاندارانو يو بل ته غېږه ورکړه. په باران کې ماته راغلل. نثار پرله پسې ککره خوځوله. ويې ويل:
– لورې! شيطان خدای وهلي دسې شيان ويل چې هر چا باور کوه.
– جنتي شې! هغه نو بل څه کمال لري؟
دا مې وويل په باران کې روانه شوم. ما بايد ترا تلسمي يا سوله راوستې وه، يا مې هارون له سياسته باسلی و. دا خو نه کېدل،
چې هغه له ځوربېدو بچ وای بيا به هم ښه وه. له خفګانه مې زړه ستوني ته راغلی و. زرګل هم خپل کوشش کوه. ويې ويل:
– خورې! ما په حوزه کې جنجال وکه. ما لې هارون خو پېری نده. بدن لري. ليدل کېږي. نيول کېږي. تاسې يې بايد پيدا کئ!
خو ما په پوليسو کې دا وس نه ليده. د ميزان په يو ولسمه مخامخ د ابليس کلاته ورغلم. هغه او شيطانان يې بنګېدل او خوځېدل،
لکه د خدای ذکر چې کوي. زما شاته وچه کلکه کوچۍ له خوارې لور سره روانه وه. يو شيطان په منډه راغی. ويې ويل:
– زما مهربانه پاچا! کوچۍ سپين وزګړی راوستی.
ما په غتهو غتهو کتل. دوئ اوس خپل راز راڅخه نه پټوه. خو کوچۍ نه شيطان ليده، نه يې خبرې اورېدلې. ابليس ورته په
سوزېدلي غږ وويل:
– وه زما بچۍ! سپين وزګړی دې ناحقه راوستی کنه نو. زه د تاويذ شکرانه نه اخلمه.
د ښځې او لور ستر ګې ټېغې ټېغې وختلې. باور يې درلود چې پير صيب وزګړی ليدلی نه دی. که ولې نه وي نو له غيبو څنګه
خبرېږي؟ دواړه د پير صيب پښو ته پرېوتلې. د مريضې د جوړولو غوښتنه يې کوله. ابليس ښځې ته تعويذ ونيو:
– هه بچۍ! جوړول د الله لاس کې دي. موږ خپل بندګي کوشش کوو. ځه، دا يې په متې پسې وتړه!
ښځې او لور تعويذ په سترګو او شونډو ولګوه. په سينې پسې يې کلک ونيو، ووتلې. ابليس ماته نزدې راغی. ويې ويل:
– ورشه دغه ښځې پوه که چې پير السبي دروغ وايي!
مريدان پاڅېدل. عينکې يې لېرې کړې. د ټولو سترګې يو شان وې. تر موږ راتاو شول. زه نه وېرېدلم. ابليس ته مې کړ:
– ته خو دروغ وايې نو. چې بنياد مان يې نه مني بېله خبره ده.
– آپام پام پام! پير صيب ته دروغجن مه وايه! غرقه به شې. خدای دې غرقه که!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو هررر وخندل. ابلیس مخامخ ولاړ و. مریدان لکه په اتڼ کې، تر موږ ګرد تاوېدل. ما سر وخوځوه:
– خیر! بالاخره به افغانان هم هوښیار شي.
– ههههههه ګوره ګوره وایه خوله به دې خوږه وي.
– ښه ځه! زه پوهېږم. هارون تاسره دی.
– وه لعنت په بنیادم! دی کنه نو. ما کله ویلي چې ندی؟ اختطاف کړی مې دی. ویم زندۍ کړی مې دی.
– اخ مه کوه! مه یې ځوروه! تاته یې څه ویلي؟ خوشې یې که!
– په سترګو قوماندان صیب! مګر د میزان په اتلسمه. په یو ولس نیمو بجو.
مریدانو بیا په زوره وخندل. زما وینه په جوش راغله. سا اخېستل مې تېز شول. خپل موبایل مې وښود:
– ای ای ای لعینه! پوهېږې په دې کې څه دي؟
– ستا بدرنګه تصویرونه. هههههههه
بیا د خندا شور جیګ شو. ما ابلیس ته د هغه خپل غږ چالان که. ومې ویل:
– دا مې اوس ثبت که. پولیسو ته یې ښییم.
– وی، ادې! اله اله پټ مې کئ! وډار شومه. ټرت! هههههههه...
زه د پولیسو حوزې ته لاړم. زاړه او ځوانان پراوړدو چوکیو ناست وو. غلي غلي پسېدل. زه مخامخ د حوزې د خېټور امر دفتر ته ننوتلم. هغه چوکۍ ته کږه تکیه کړې وه. پر مړاوو سپینږیرو یې سترګې برګې وې. یو تن ته یې ګوته ونیوله:
– ای هوښیاره! اسلمي خو ستا زوی دی کنه. اغه په کریکټ کې ټولې کوڅې ته کنځلې کړې. تربیه د سې وي؟ ...
زه یې ولیدم. سترګې یې تنګې کړې:
– ته دلته چا پرېښودې؟ وځه! زه مصروف یم.
– امر صیب! یوه دقیقه! ما هارون پیدا که.
– ښه؟ کومه دی؟
– پیر السبي اختطاف کړی دی.
له امر سره خلکو هم وخندل. خو ما ورته په موبایل کې تصویرونه وښودل. ومې ویل:
– دا ګوره! سخت ظالمانه یې ځوروي. دا یې خپل غږ دی.
ټولو د ابلیس خبرې واورېدلې. سپینږیرو یو بل ته وکتل. امر ماته موسکی شو:
– ته دونه عقل نه لرې؟ موجرم کله ام په جرم اقرار نه کوي. ټوکه یې کړې ده. بل چا به اختطاف کړی وي.
– جنتي شې! ټوکه پکې چېرته ده؟ هغه نه ډارېږي. برالا وایي.
– داه! بیا وایي پولیس ظالمان دي. ښه دې سره څه کی؟ ای جلۍ! عقل لرې؟ اختطاف د یو مقصد دپاره کېږي. پیر صیب څه ضرورت لري؟ الله پاک دونیا او اخېرت دواړه ورکړي. د غریبو سره، د پولیسو سره، د محکمې سره، د هرچا سره کومکونه کوي.
– امر صیب! فکر وکه! هغه دونه پیسې د کومه کړې چې ټولې دونیا سره کومکونه کوي؟
– د هر ځایه چې یې کړې، کومک موهم دی.
– خدای ته وګوره! داسې مه وایه! نو که غل هم د خپل مطلب لپاره له چا سره کومک وکي شریف سړی شو؟
یو دم سپینږیري پاڅېدل. امر ېېرته کېنول چې په حوزه کې د چا د وهلو اجازه نه شته. سترګې یې په ما برګې کړې:
– ای ای احمقې! ثبوت لرې چې پیرصیب پیسې غلا کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– وه خدایه پاکه! غلا خو وړه ګناه ده. ما د اختطاف ثبوت راوړی دی.
– ته لېونی یې لېونی! څه ورکېږه! نور په پیرصیب پسې مه غړېږه! ځان ام ګوناکاره کوې، موږ ام!
– نه نو، هاغه ثبوت چې شته نه یې منې، هاغه چې نشته غواړې یې. دا څنګه چل دی؟ مجبوره یم وزیر صیب ته لاړه شم.
– ځه ځه! ولسمشر ته خو لاړه شه! ورکېږه!
زه ووتلم. پوهېدم چې وزیر به هم همداسې جواب راکي. ژړا راغلې وه. د زرګل څنګ ته لاړم. هغه د دفتر ځینې سامان آلات په کڅوړه کې اچول. د جامو د تنهۍ په شان ګردې وړې سترګې یې راواړولې. ویې ویل:
– بس وبه منو چې تقدیر نه بدلېږي.
– وروره خدای ته وګوره غلی شه! زما کمزورۍ ته دلایل مه لټوه! زه دلته راغلم چې لږه آرامه شم.
– ښه نو ځان واچوه! زه دروازه بندومه. زر بېرته راځمه.
– نه کېنه بیا به لاړ شې! چې آسمانونو کې وم یوازې مې زړه نه تنګېده. دلته تنګېږي.
– دقه سې! چې بېرته لاړه شې چیشی به کې؟
هغه زما پر ناکامۍ باور درلود. ما ترې مخ واړوه. دې کې مې د هغه تش دفتر ته پام شو. ما ویل:
– ستا مامورین ولې کم دي؟ سامان ولې کور ته وړې؟
زرګل اسویلی وکه:
– پولیس شک لري چې د مولانا د پوډرو آوازه ما اچولې وه. تحقیق یې پیل کړی.
– ښه؟ څه یې ویل چې راډیو تړي؟
– راډیو خو پرېده! ماته تاوېږي، چې بندي مې کي.
– وی، تا د بچیانو لپاره څومره احتیاط کوه؟ ته په راډیو کې په ما پسې بدورد ووایه. زه نه خفه کېږم. مقصد ځان بچ که!
زرګل وخندل. زما مړوند یې ونیو. ویې ویل:
– خپله خوله به ماته کمه! بس ده! په وېره کې جوند نه کېږي. زه درسره یمه. اقه به کوو چې راته ښه ښکاري.
د هغه په سترګو کې کلک عظم معلومېده. پخوانی زرګل نه و. ما خپل مړوند ته وکتل. سور نه و. ومې ویل:
– جنتي شې وروره! الله دې په هېڅ میدان کې مه ماتوه! ښه دی چې تا لرم. که نه نو...
– که زما منې! یو وار پیرصیب ته په نرمه ووایه! ازمایښتي. نرمې او به هرې سوړې ته لار باسي.
– ته اوس هم ابلیس ته پیر صیب وایې؟
– عادت.
دواړو وخندل. ما ته هسې هم بله لاره پاتې نه وه. سبا بیا ورغلم. ابلیس په لوی سکرین کې د لوی تالار د ترمیم لار ښوونې کولې. ما یې تخت اول ځل ولید. جاه و جلال ته مې خوله وازه شوه. ابلیس مخ راوګرځوه:
– لعنت په بنیادم! د پولیسو لښکر دې څه که؟
ما د زرګل د لارښوونو مطابق سترګې ښکته واچولې. ومې ویل:
– هیله کوم. هارون پرېده!
– اها، دادی اوس دې سمه لاره ونیوله.
ما د هغه سترګو ته ژور وکتل. عجیبه وه. نرمې خبرې آن په شیطان اغېزه وکړه. ابلیس ګوته ځمکې ته ونیوله:
– دلته د موقع پېژندل ډېر موهم کمال دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما سر وخوځوه. غوښتل مې له دغې موقع ښه ګټه واخلم. ومې ویل:
– زه وعده کوم. نه به تا سره کار لرم، نه ستا شیطانانو سره.
ابلیس د منني لپاره په سینه لاس کېښود. خو یو دم یې په سترګو کې لمبه وځلېدله. جدي شو. غږ یې جیګ که:
– ناوخته دی. موقع دې له لاسه ورکړه.
زما امیدونه بېرته تالاترغې شول. سینه مې له درده وپړسېدله. مخ مې سور شو لکه لمبو ته چې دې نیولی وي. ومې ویل:
– اوس څه وکم چې ته هارون پرېږدې؟
– لڅه ګډه شه!
زما ماغزه سرچپه شول. د ځان د کنټرول لپاره مې سترګې پټې کړې. ژوره سا مې واخېستله. ابلیس په سکرین کې کارګر احتیاط ته وبلل. ما ډکې سترګې پرانېستلې. هغه سر وخوځوه چې وایه! زما شونډې ورپېږدېدلې:
– اول هارون پرېږده!
ابلیس په خندا کې خپلو مریدانو ته مخ که:
– اوهوهوووو! دا خو هرکار ته تیاره ده ای. مینه ام بد شی ده ولا. نه یې شرو کوو؟
ټولو بیا هرررر وهل. زه په ګونډو شوم. ما ویل:
– زاری کوم. هارون پرېږده!
ابلیس لا په زوره وخندل:
– ویش ویش بېچاره! اول چې مې درته ویل نه دې منله. اوس د جزا نه بغیر لاره نشته.
– زما قبوله ده.
– څه شی؟ لڅه ګډا؟ کېنه بابا! دا خو سات تېري ده. زموږ ښځې پکې ښه خوشاله دي.
– هرې جزا ته تیاره یم. مړه مې که!
– ګوره ګوره! چالاکي ته ګوره! ستا سا د هارون په سا پورې تړلې ده. زه خبر یم، ښه؟
– ښه بله جزا راکه!
ابلیس مخ مړاوی که:
– څه خیر. تاته مې لور ویلي. زړه مې نه کېږي. ته قراره کېنه! یوازې د هارون د غوښو شکول ګوره!
زما وینه وخوټېدله. زغم مې ختم شو. په منډه کې مې غږ که «لاس ورنه وړې خبیثه!» یو دم له چته اوسپنیز قفس راپرېوت. له ابلیس سره ټولو شیطانانو وخندل. ما د قفس په دروازه زور ووهه. خلاصه نه شوه. د کلا د لویې دروازې ساتونکي تل بنیادمان وو. ابلیس څلور تنه را وغوښتل. په آرامه یې وویل:
– بچیانو! دا بېچاره لړه لېونۍ ده. دم مې کړه. انشاالله جوړېږي. په احتیاط یې وباسئ چې ژوبل مو نکې!
ما چیغې وهلې چې دروغ وایي. دا ابلیس دی. تاسې د شیطانانو نوکران یئ. خو ساتونکو په احتیاط له قفسه وباسلم. د کلا له لویې دروازې بهر یې خوشې کړم. غمجن یې راپسې کتل. زما د زړه زور بېخي اوبه شوی و. سلګۍ مې ووهلې. په پښو کشولو مې د کور لار ونیوله.
د میزان ۱۴مه شوه. د بي بي مهرو د غونډۍ په لمنه کې خلک کم ګرځېدل. له وروستیو تودو ورځو یې خوند اخېست. ماشومان پر پخو زینو کوزاو بر کېدل. په دې غم کې نه وو چې دنیا څو لوېشتې ده. ما د مرسل د کلانو څنګ ته تیخور ماشوم په غېږ کې ونیو. هغه خندل. له ما یې ټول غمونه هېر کړل. موریې د بوتل په اوبو لستوڼی مینځه. کیسې یې هم کولې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– اسې مېږه مې بد ندی. خویندې یې شیطانې دي. الخ، ویمه په ژبو یې سرطان شین شه!
نورو ښځو وخندل. ما ویل:
– جنتي شې! د شیطانانو سره ګوزاره نه کېږي. تې ووځه! ځان ته کور جوړ که!
– اوح اوح، اسې ښه وايي. غوښې خو مې په نوکارو وشکوي. اسې شیشکې دي چې چې چې...
– وه! دا نو ولې؟ هم یې بد ایسې، هم دې وتلو ته نه پرېږدي؟
– دغه ده نو. اسې تا لکه چې واده ندی کړی؟
– جنتي شې! واده خو د دوو مېینو یو ځای کېدل دي. د غمونو ورکېدل دي. د خوشالیو زیاتېدل دي.
ښځو هررر وهل. ما شوم وډار شو. زه پوه نه شوم چې زما په خبرو کې د خندا ځای چېرته و؟ زرګل را ورسېد. ما شوم مې مور ته ورکه. له زرګل سره په پولو ګرځېدم. ښځو لا هم زما خبرې ته خندل. زرګل وپوښتل:
– څه خبره ده؟ دلته څه کې؟
– دا ځای ښه دی. ورور ته ودرې! له وېښتانو دې زرک وغورځوم.
– ښه ښا. بېګا مې د خپلوانو واده و. ایوانان مې اوس ام امقلته دي. نن یې راولمه.
– واده و؟ بېچاره نجلی. په خوشالی یې راولي، په غم یې کېنوي.
– چیشی؟ ښه ښا! ناوې. امدقه سې شیطاني قانون ده. که الک او ښیار وي نو ښه. که نه خدای دې مل شي!
زموږ څنګ ته د ماشومانو تیږې په لاسو کې وې. لړم لړم ناري یې وهلې. ما زرګل ته کړ:
– ای وروره! تا ویل د ابلیس نزدې کسان پېژنم.
– هو، قاضیان وو. سترې مشې ورسره لرمه. ههههه، د شیطانانو سره سترې مشې لرمه.
– خیر دی. دلته یې راغوښتی شې؟
– چیشي ته؟
– دلته د پټېدو ځای نشته. نیسو یې. د هارون پټه تې اخلو.
زرګل سر وخوځوه. د اوږې بیک یې په پوله کېښود. موبایل یې ووېست. زه یې په غوږ کې وپسېدم:
– پوه نشي چې مادرته ویلي!
ټلیفون رخ شو. زرګل قاضي صاحب ته په ژوندی خپرونه کې د مېلمه کېدو بلنه ورکړه. ویل پر خلکو د تعلیمي خپرونو اغېز څېړو. له هغې خوا جواب منفي و. ځکه یې بل ته زنګ ووهه. په پای کې یې بیک بیا اوږې ته واچوه. ویې ویل:
– د شیطان زامن دي. ته د خبرې سر واخله دوئ اخېر ته رسي. دواړو ویلي د میزان تر اتلسمې وخت نه لرو. اخ اخ اخ!
د زرګل بیک لاندې پټې ته ولوېد. د ثبت وسایل تیت شول. موږ تېز کېوتلو. ما چارچر جیګ که:
– هه! دا جوړ دی. ښه نو، شیطانان زموږ مرګ ته منتظر دي. هی وروره! ما کله ناکامي لیدلې نه وه. سخت درد لري.
– خورې! اقه د بوټې لاندې بېټری راکه! خیر ویسې! مالې دلته چې څوک ناکامي ونه ویني کامیابېدی نشي.
– پو پېږم. فرق لري. ستاسې په ژوند کې کامیابي موهمه ده. زموږ، کار.
– مه یې برابروه! ستاسې بې غمه جوند ده.
– نه نه، کامیابي ښه ده. ژوند ورسره پرمختک کوي. او موهمه داده چې خوشالي راوړي.
– اغه خوشالي په توپ وله چې په زړه چاودون راځي.
– نه وروره! یوازې د خوشالی د راتلو امید په ډېر څه ارزي. دا ماته مالومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نو بيا ولې خفه يې؟

– جنتي شې! غم دادی کنه، چې د هارون د موندلو امید نشته.

زړه مې وپړسېد. نور مې خبرې کولی نه شوې. زرګل بیک اوږې ته که. وبنګېد «بلا وه برکت یې نه و» هلته نزدې د ښځو غږ شو. هغوئ بچیان شړل چې لړم یې ټک نه وهي. خو ما شومانو چیغې کړې چې راووت. یو دم د تېږو باران شو. ما ته په شش درک کې د ابلیس کلا د لړمانو سوړه وبرېښېده. چو سته روانه شوم. ما ویل:

– ځم که کوم غټ شیطان ګیر کم.

– دقه سې! تا خو ویلې اغوئ نه وځي کنه. ودرې ودرې! زه درسره یم.

– نه پرېده! که وو بیا درته وایم.

زه په شش درک کې د برق پایې ته پناه ولاړه وم. د کلا دروازې ته مې کتل. هلته غریبان له غټو او شتمن له وړو تحفو سره په قطار کې ولاړ وو. د شړېدلي واسکټ والا غوایه راوستی و. دلته مخامخ په دریم منزل کې چاغې ښځې جامې غړولې. غږ یې که:

– ای جینۍ! ځه! دلته مه درېږه!

ما سترګې جیګې کړې. ښځې تېره تېره کتل. پوه شوم چې د بدفعلې نجلۍ ګمان یې کړی دی. ومې ویل:

– جنتي شې ترورې! یو چاته منتظره یم.

– هاو هاو، ریښتیا وایې. ځه دا کارونه بل چېرته کوه!

ما ویل «بنیادمان دي نو. د یو کس په ګناه بل نیسي» حرکت مې وکه. له لېرې راتاوه شوم. د ښځې د کور لاندې ودرېدلم، چې ښکاره نه شم. شېبه پس یو ځېور ځوان ځنګ ته راغی. وبنګېد «ماته ولاړه یې؟» ما تروه وکتل. ځوان یخ وهل. حیرانه وم چې د ښځو په ځورولو کې ددوئ ګټه څه ده؟ ومې ویل:

– وروره مه کوه! خلک بلدېږي. بیا ستاسې ښځو ته همداسې وایي.

ځوان خوله کږه کړه:

– سل مرمۍ خو یې وولم.

– څه شی؟ بل سل مرمۍ ولې او خپله؟

د ځوان سترګې له هوسه ډکې وې. موسکی موسکی کېده. ما شا کړه. خو هغه نه غلی کېده «ای ښایستې! سات به دې تېر شي» دې کې موټرسایکل راغی. له درز سره چیغه شوه. ما مخ وګرځوه. موټرسایکل والا وتښتېد. ځېور ځوان پروت و. له شکېدلې ځنګلې او زنګانه یې وینه تلله. خلکو جیګ که. ما په منډه له درملتونه ډېټول او پلستر راوړ. د ځوان په زخمونو مې ولګول. هغه زګېروي کول. له شرمه یې نه راکتل. ګوډ ګوډ روان شو. ما بیا مخ د ابلیس کلا ته که. غلې ولاړه وم. چې یوه پېښه به مې سترې شوه په بله به مې زور واچوه. سپینږیری بابا له کتاب فروشي څخه مخامخ راغی. ما ویل خیر! هغه په کمزوري غږ وپوښتل:

– تاسې تمامه ورځ دلته ولاړه یئ! څوک لټوئ؟

ما لنډ جواب ورکه:

– ژوند.

بابا یوه شېبه غلی و. سر یې وخوځوه:

– د ژوند په لټون کې امجلا خوند دی.

هغه بېرته وګرځېد. په خبره کې یې څه وو. ما ته یې قوت راکه. په پښو مضبوطه ودرېدلم. مګر تر مازیګره هېڅ پېښ نه شول. بالاخره لکه د ښتو او میرو ستومانه د کور په لور وخوځېدم. د سېرېنا هوټل د تلاشۍ پخې ښځې ته مې کاغذي کڅوړه ورکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هه تروري! تازه مرخانۍ مې پيدا کړې. تاسې چې يې عُناب بولئ.
ښځې راته غاړې واچوله:
– وی اله قوربان دې شمه! زه څونه ورپسې ګرځېدمه. ډېره زياته مننه.
– جنتي شې!
ما غوښتل تېره شم. ښځې له متې ونيولم. ويې ويل:
– ای لورې! ستا دا «جنتي شې» په ما دونه ښه لګېږي. هرکله درته دوعا کوم. خدای دې ښه مېړه او خوشاله ژوند درکې!
زه د زړه په زور موسکۍ شوم. سبا مې بيا د ابليس کلا څارله. له ځان سره مې ويل چې پاتې درې ورځې به هم دغه سې تېرې شي. اخېر هرڅه ختم. د هارون بې روحه څېره مې سترګو ته ودرېدله. زړه مې ډوب شو. د دريم منزل چاغه ښځه لاندې راغله. ماته وتورېدله. درملتون والا هم رابرګ شو. حوصله مې نه وه. روانه شوم. د سړي کمزوری غږ مې واورېد:
– لورې! دا ستا دپاره وايي. چې په بده پېښه وانه وړې. راځه دوکان کې کېنه! هغه ځای خوندي دی.
دا هاغه پېرونی بابا و. چاغې ښځې او درملتون والا په غټو غټو کتل. موږ دکان ته ننوتلو. بابا راته چای راوړ. ويې ويل:
– چورت مه خرابوه! کرکه د ځينو يو ازيني کمال دی. که يې بدلولی نه شو، د ضرر مخه خو يې نيولی شو.
ما مخ له کلا راوګرځوه. موسکۍ شوم. بابا زما څېرې ته ځير و. په ګوته يې په ښنبه کړم:
– ته ماته خفه ښکارې. د کوم لوی مشکل سره دې خپرې دي. ګوره! همت او حوصله د لاسه ورنکې!
– جنتي شې بابا! نه کېږي.
– کېږي. په کاميابۍ باور ولره!
– که د کاميابۍ امکان نه وي؟
– نه نه نه. په ياد لره! د ناکامۍ تررسېدو پورې هره شېبه د کاميابۍ امکان شته.
يو ځوان دکان ته ننوت. کتاب يې وغوښت. بابا په الماری کې لټول پيل کړل. زما خيال ته هارون راغی. په دفتر کې به يې بې کاره وخت په مطالعه تېروه. دې کې مې د کلا مخ ته جيګپوړی شيطان وليد. يو دم روانه شوم. پښه مې له وړې الماری سره ولګېدله. کتابونه په ښويه غولې تيت شول. ما زر زر ټولول. خو سترګې مې په کړکۍ کې وې. بابا غږ که:
– لورې! زه يې کوم. ځه ځه! خدای دې کامياب که!
زه تېزه ووتلم. شيطان په سپين پټکي کې پوخ مولوي ښکارېده. ما غوښتل په داسې ځای کې يې ګير کم چې له سترګو د پټېدو امکان نه وي. شيطان موټر ته وخوت. زه په ټکسي کې ورپسې وم. هغه په وزير اکبرخان کې رستورانت ته ننوت. لېږې کونج يې ونيو. څو د ضرورت په وخت کې د غټې ستنې پناه په پېرې بدل شي. ما ټول رستوارنت له نظره تېر که. اکثره خارجيان وو. د لارې د سر مېز ته کېناستم. له شيطان څخه دوو غټو چينايانو پناه کړې وم. ما ويل چې هغه کله بېرته وځي وبه يې نيسم. ناڅاپه يو ړيرور کس زه له متې کلکه کړم. ويې ويل:
– پاڅې! راځه!
– جنتي شې! څه خبره ده؟
– شور مه جوړه! بيا درته وايم.
ما ويل زه درسره نه ځم. د خلکو سترګې راواوښتلې. ړيرور يو دم په غېږ کې جيګه کړم. روان شو. ما ځان ترې خلاص که. په زوره مې ټېل وهه. سړی وار شو. په مېز ولګېد. په ځمکه ولوغړېد. تشې يې نيولی و. له درده يې چيغې وهلې. خارجيان په بيړه ووتل. دې کې پينځه ړيرور پرما راوګرځېدل. شيطان اوس په پېرې بدل شوی و. لکه روانه سکروټه راغی. په ما يې وخندل. يو ړيرور په

(c) ketabton.com: The Digital Library

موبایل کې مولانا ته زما د نیولو خبر ورکه. دلته پوه شوم چې شیطان ماته دام ایښی و. ټوله ډله یوځای د رستورانت په دروازه وتلی نه شوه. زه یې منځ ته کړم. ما اول شاتني کسان په زوره ټېل وهل. وروسته مې مخکینیو ته ډیکه ورکړه. هغوئ یو پر بل ولوېدل. زه په منډه د ټکسي شترنګ ته کېناستم. ټکسیوان له یو کس سره خبرې کولې. ما په تېښته کې ورغږ که چې زه بیا درته ټلیفون کوم. هغه راپسې منډه واخېستله. ما په اکسلرېټر پښه ټینګه کړې وه. د هوایي میدان پر سرک تېزه روانه وم. شاته د مولانا کسان نه ښکارېدل. زه مکرویانو ته ننوتلم. موټر مې په یو پارکینګ کې ودروه. ځوان چوکیدار ته مې کیلي او پیسې ورکړې. هغه کله ما، کله پیسو ته کتل. له خولې یې غږ نه خوت. ټکسیوان ته مې غرېز پیغام ولېږه:

– جنتي شې تره! موټر مې د څلورم مکرویان د دریم بلاک چوکیدار ته سپارلی. خدای بردې نومېږې. وایې خله!

چوکیدار موسکی شو. زه ترې لاړم. شینوزاده روغتون ته ننوتلم. د شاه توت تر نیالګي لاندې پر کانکریټي چوکۍ کېناستم. څنګلې مې ورنونو ته تکیه کړې. مخ مې د ورغوو په کاسه کې کېښود. په فکر کې مې پوښتنې ګرځېدلې «شیطان څنګه پوه شو چې زه کلا ځارم؟ بنسټپال د کومې لارې خبر شول؟ هغوئ دا پلان په ګډه سنجولی و، که بنسټپال یې استعمال کړل؟» دې کې چا له لاسه ونیولم. ما شوې وهل. ما شومانو کټ کټ وخندل. دا د هارون خوریان اتل او زلما وو. زه هم په خندا شوم:

– وی قربان! تاسې شوخان دلته څه کوئ؟

اتل د دریم منزل په لور سر واچوه. په تندي پروت پیکی یې وښورېد:

– ابې مې ډاکټر له راوستې ده.

زلما ککره وښنډله. چوټي یې یوې او بلې اوږې ته شړک ورکه:

– دروغ، دروغ، دروغ. ما راوستې ده.

د دوئ دعوا شوه. هریو ځان د ابې غمخور باله. په یوبل یې وارونه وکړل. ما دواړه په غېږ کې ونیول:

– جنتي شئ! که داسې کوئ ابې خفه کېږي. په هغې دواړه ګران یئ. اوس ووایئ، چا راوستې ده؟

– مونږ دواړو.

نجلۍ هم زړه نا زړه ومنله. ما دواړه ښکل کړل:

– وینئ! تاسې هم خوشاله، ابې هم. په هغې څه شوي؟

زلما وویل:

– هارون ماما پسې خپه ده. ډېره، ډېره، ډېره خپه ده.

– په کومه کوټه کې ده؟

ماشومانو پاس د ښځو برخې ته بوتلم. خوبانه ترور په کټ کې پرته وه. زما په لیدو یې مخ لاګونجې شو. عایشې ته یې کړ:

– دا ماله مه پرېده، دا غویمه!

زه بېرته ووتلم. پر کانکریټي چوکۍ کېناستم. ما ویل «هارون تر ما په هغې ډېر ګران دی. زه روغه ګرځم. هغه ورپسې مري. کاش چې ما هم مور او پلار لرل» زلما په نازک لاس زما مخ ځان ته تاو که:

– ای تروري! غویمه ښه جینۍ ده که بده؟

د اتل سترګې بوټې راووتلې. په خپله وازه خوله یې لاس ونیو. زه موسکی شوم. ومې ویل:

– جنتي شې! دا بدې جینۍ ته وایي.

زلما زما په مخ دواړه لاسونه کېښودل:

– ته خو بده جینۍ نه یې، کنه؟ کنه؟ کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما شوندې ويتې او اوږې جيګې کړې. زلما پښې وترپولې :
– نه يې. نه يې. نه يې.
د اتل زړه تنګ شو :
– هاو. نده. پرې يې ده! اغه نه ګورې؟ غومبري يې تک سره دي. مريضه ده بېچاره ګۍ.
هغه ما ته راتاو شو :
– تروږې! د پيپچکاري نه يرېږې؟
له لاسه يې کشه کړم:
– راځه! زه ډاکټر ماما له ويمه چې شربت درکي. د سې مزه دار دی، لکه فانتا.
– جنتي شې! مريضه نه يم.
زلما وويل:
– ښه ښا، تا ام خپله ابۍ راوستې ده.
– نه، زما ابۍ نشته. زما هېڅوک نشته.
– خير دی. مه خپه کېږه! زه دې ابۍ. اتل دې بابا. هيهيهيهي
اتل هم په خندا تائيد کړه. غاړې يې واچوله. زما تېړ ګرم شو. سترګو مې نم وکه.
پوليسو د سېرېنا هوټل شاوخوا ونيوله. برېتور قوماندان د مولانا له غوټ ږيرور کس سره ننوت. د هرکلي په ځای کې خارجيان سره وښورېدل. د هوټل غومبرور منېجر د لاس په اشاره وښودله چې مشکل نه شته. پوليسو ټول هوټل تلاشي که. زه يې ونه موندلم. له دې ځايه مټک راډېيو ته لاړل. زرګل ورسره کوټه په کوټه وګرځېد. ويې پوښتل:
– قوماندان صيب! پرښتې څه کړې؟
– هغې سرې وهلی. شايد مړشي.
– دقه سې! تاسې اشتبا کړې. اغه دسې جلۍ نده.
– هه، بېخي. اسماني پرښته ده.
– کمه ام نده.
د مولانا ږيرور کس هغه ټېل وهه. سټډيو ته ننوت. زرګل سور شو :
– ای ای! تاسو د چا د ځورولو حق نلرئ!
ږيرور کس يې خبرې ته ارزښت ور نه که. د لوېې ښيښې ترڅنګ يې پر ميز د غږونو ميکسر وليد. له لسګونو تڼيو څخه يې يوه تاوه کړه. زنګس شو. د لوېې ښيښې له لارې يې د ننه پر ګرد ميز باندې مايکروفون ته وکتل. د ميکسر تڼۍ يې بېرته وڅرخوله. د مايکروفون زنګس ورک شو. له سټډيو څخه ووت. برېتور قوماندان ته يې د وتلو اشاره وکړه. هغه زرګل ته وويل:
– راځه!
– دقه سې! ما چيشی کړی؟
– تا ډېر څه کړي. خو اوس دې کور تلاشي کوو.
د زرګل په کور کې يې هم پيدا نه کړم. د مولانا کس په سپکو سپورو له دروازې ووت.
مازيګر د هارون سور چرګ د نرۍ کړکۍ له لارې لاندې تاکاوۍ ته کتل. غاړه يې اوږده اوږده کوله. هلته اتل وچه ډوډۍ او د اوبو بوتل شاته نيولي وو. د مېلمنو د کوټې تر څنګ پسخانې ته ننوت. ما ته يې لاس اوږد که:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هه تروري دا واله! مه يرېږه! مور د کارتوني نه چل ياد کړی. څوک نه خبرېږي چې ته دلته يې.
ورسره سم زلما راغله. د بېنډيو قاب يې غلی راکه. ما خوراک ته ضرورت نه درلود. خو هغوئ خفه کېدل. دواړه مې په مخ ښکل کړل. ورته ومې ويل چې د ابۍ خيال وساتي. ماشومانو په ګډه سرونه وخوځول. هغوئ په موسکا تاوېدل راتاوېدل. زما پټ ساتل ورته لويه قهرماني ښکارېدله. بېرته پاس وختل. مور يې په پخلنځي کې لوښي مينځل. ابۍ يې په توشکه پرته وه. زګېروي يې ختل. زلما يې څنګ ته کېناستله. په ګونجې مخ يې لاس ور کېښود. خوبانې ترور خواړه وکتل. ويې ويل:
– تاسې نه وګرځمه! ما پرېدئ! ځئ مستي وکئ! شپه راځي.
اتل سر وخوځوه:
– مستي کوو کنه. هاو. خوندوره مستي ده.
زلما په ټيټ سر هيهيهي کړ. له ابۍ څخه يې وپوښتل:
– تاله امډوډی راوړمه؟
– نه، نه يې شمه خوړی. دا زړه مې دسې بند دی بند. غټه تيږه پې ايښې ده.
زلما يې ګرېوان ته وکتل. لاس يې که. خوبانې ترور ونيوله:
– دا څه کې؟
– تيږه لرې کومه.
اتل کټ کټ وخندل. خوبانه ترور هم په هماغه تکليف کې موسکۍ شوه:
– نا، ويمه لکه تيږه چې پې ايښې وي. دوعا کوه چې هارون ماما دې راشي!
– ابۍ! ته مه خپه کېږه! ماما مې زمونږ پلار غوندې نه دی. راځي. ښا؟
د خوبانې ترور سترګې ډکې شوې. دا وخت د پښو ترپې راغی. هغې سر جيګ که. غفور ماما و. ويې پوښتل:
– وه سرېيه! څه وشو؟ د زويکي مې پته ولګېدله؟
– هاو، پوليس وايي زر به يې کورله راولي.
– دروغ مه وايه!
– دروغ ولې وويمه؟
– ولې نېغ راله نه ګورې؟ نه نه. هاروني مې لاړو. بيا به يې ونه وينمه.
هغې ژړا شروع کړه. مېږه، لور او لمسيان يې په غلي کولو ستړي شول. بالاخره يې سر کېښود. د پيشو مياو مياو راغی. د ماشومانو غوږونه څک شول. دواړه پاڅېدل. عايشې غږ که:
– جنګ ونکئ!
هلک په دهلېز کې د تاکاوۍ زينې ته ودرېد. نجلۍ لاندې راکېوتله. ما ويل:
– جنتي شې! تشو متيازو نيولې يم. څه وکم؟
زلما په منډه د مېلمنو د کوټې تشناب وکوت. هغه قلف و. مخ يې ما ته کړ:
– ته صبر! پرتوګ کې يې ونکې! ښا؟ ښا؟ ښا؟ ښا؟
ما ويل نه يې کوم. هغه په منډه پاس وختله. شېبه پس خور د وړور په اوږه د انګورو چېلې ته جيګه شوه. ژړا يې پيل کړه. مور او نيکه يې راووتل. وروځې يې بره لاړې چې څنګه ختلې ده؟ زه غلې د هلېز ته جيګه شوم. تشناب ته لاړم. هلته غفور ماما زينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېښودله. لمسۍ یې کېناسله. ټول یوځای کورته ننوتل. غفور ماما ته لکه شیطان چې ویلي وي، د تشناب د دروازې لاستی یې تاو که. دننه زما زړه وډېږد. ماشومانو په غټو غټو یو بل ته وکتل. غفور ماما له لور څخه وپوښتل:

– دلته څوک دی؟ ادې دې ده؟

عایشې خوله ویته او سر کوږ که. دې کې له کوټې څخه د خوبانې ترور زګېروی راغی. عایشې اشاره وکړه چې مور مې په کوټې کې ده. اتل او زلما لا زیات وارخطا شول. غفور ماما په لاستي زور ووهه. اوږده پزه یې په ګوتو کشه کړه. لور ته یې وویل:

– دا د غم دړه دننه بنده ده. ته پیچتاو راوړه چې قولف خلاص کم.

عایشه روانه شوه. اتل یو دم په ژړا کوټې ته ننوت. هلته په توشکو وکولېده. ناري یې وهلې:

– اله ویې خوړمه. ویې خوړمه...

زلما حیران حیران وکتل. مور او نیکه یې منډه کړه. عایشې خپل د تور خال والا غومبری په سپېړه ووهه:

– وی، خدایه په زوی مې څه وشوه؟ اله صدقه دې شمه! چرته چرته؟ څه شي وخوړلې، څه شي؟

زلما له دروازې څخه جواب ورکه:

– پړانګ وخوړ.

مور یې تروه وکتل. اتل هم خورته برګ شو چې څومره کم عقله یې. ژړا او کولېدو ته یې دوام ورکه:

– اله غومبسه ده. کمیس له مې ننوتله. اله زر کوئ!

هغوئ یې کمیس وباسه. هېڅ شی نه و. زه تاکاوی ته کېوتلم. زلما ولیدلم. له خندا شنه شوه. سمدلاسه کوټې ته ننوتله. د وروړ کمیس یې له مور څخه کش که. ویې ویل:

– غومبسه لاړه. ما ولیدله.

عایشه سسته کېناستله. غفور ماما له پیچتاو سره تشناب ته راغی. دروازه خلاصه وه. تندی یې ګونجې شو. زلما وویل:

– ته څنګه سړی یې؟ خلاصه او بنده دروازه نه پېژنې.

غفور ماما چورتي شو. عایشې خپلو اولادونو ته په شک وکتل.

د میزان په ۱۶مه غفور ماما د جمعې لمانځه ته روان و. سپینه ټوپۍ یې په سر کړه. خوبانې ترور ته ځیر شو. د هغې سترګې پټې وې. ستوني یې له زګېروی سره غڅس کوه. لور ته یې اشاره وکړه چې څنګه ده؟ د هغې سترګې ډنډ شوې. سر یې وځنډه چې ښه نه ده. غفور ماما اسویلی وکه. لور یې دهلېز ته ووېستله. ویې ویل:

– بچی! چاره نیشته. څه چې د خدای رضا وي.

د لور مخ یې له ژړا سره ګونجې شو. له سترګو یې اوښکې وڅڅېدلې. سلګۍ یې ووهلې. خو غبرګ یې نه باسه چې ادې یې وا نه وري. غفور ماما له ډکو سترګو سره د لور پر اوږه لاس کش که. ویې ویل:

– مونږ باید هر حالت له تیار اوسو!

د عایشې سلګیو زور واخېست. سر يې په غېږ کې ونیوله:

– بس بس! ته دسې مه کوه نو! ادې له زړه ورکه! زه به مونځ وکم. که خدای د دغې جو مې له برکته ورحمېږي.

ما د خوبانې ترور زګېروي اورېدل. د شینوزاده روغتون ډاکتره رایاده شوه. هغې ویل داسې ناروغ یې اول ځل لیدلی دی. معاینات یې سم دي. خو فشار یې په یوه دقیقه کې ټیټ وي، بله کې جیګ. که نن سبا کې یې زوی پیدا نه شي مري.

ما ښام په تاکاوی کې ګرځېدم. له ځانه مې کرکه کېدله. هېڅ لاره مې پیدا نه کړه چې بنیادمان ابلیس وپېژني. که نه، هارون به تر اوسه بندي نه و. دلته و چې د الماری په ښیښه کې مې ځان ولید. رڼا یې کوله. ما ویل بس پیدا مې کړه. تر اوسه مې بنیادمانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خوله ویل چې هغه ابلیس دی، دا ځل په عمل کې ثابتوم. که ضرورت شو وبه ښییم چې زه هم آسماني پرښته یم. هو، د پرښتو قوتونه به مې لاړ شي. عادي بنیادم به شم. خو په عوض کې به غورځنګو نه سوله وکي. د ابلیس پا چاهي به ختمه شي. هارون به را خلاص کم. تقدیر به یې بدل شي. د خپلې مینې په زور به د هغه په زړه کې هم مینه پیدا کم. اخېر به دواړه یو ځای شو. دا پلان را ته بالکل کامیابه ښکارېده. سمدلاسه مې ټلیفون وکه. د سېرېنا هوټل منېجر وروستی ماډل آیفون له جېبه وویست. وروستي ماډل لنډکروزر ته ننوت. دروازه یې پورې کړه. د ښار شور ورک شو. له خندا سره یې غومبري لا وپړسېدل. ویې ویل:

– وه په خیر! په خیر! پرښته جانې څنګه یې؟

ما په ټیټ غږ جواب ورکه:

– جنتي شې تره! ښه یم. ته څنګه یې؟ لورکۍ دې ښه ده؟

– شوکر شوکر. ستا مشورې کار وکه. لانجې یې پرېښودې. اوس د مېړه سره خوشاله ده. ټول در ته دوعا کوو.

ما په زړه کې ویل «کاش چې هارون زما مشوره منلې وه» د منېجر غږ راغی:

– ته چېرته یې؟ زموږ سودا ده. پولیس راغلي وو. ستا کوټه یې وکتله.

هغه ټول جریان ووایه. ما اسویلی وکه:

– څه و وایمه تره؟ ناحقه په لانجه واوښتم.

– زه ام پوه شومه. اوس خبره حل شوه که نه؟

– کوشش کوم. ما ویلې نه کېږي چې د غورځنګونو مشران او پیرصیب مېلمانه کئ؟

منېجر په چورت کې د غټو غومبرو مخ کوږ ونیو. زه یې په چوپتیا پوه شوم. ومې ویل:

– نه نه، مصرف یې په ما. خو هغوئ باید فکر وکي چې تاسې د لور د واده ډوډۍ ورکوئ.

– د واده نه خو ډېر وخت تېر دی. ښه خیر، کوم زېری دی که څنګه؟

– همداسې یې وبولئ.

– هههههه ماته یې ام نه وایې؟ ښه څه وخت یې راوغواړم؟ څو کسه؟

– سباته. د غورځنګونو د اجرایوي شورا غړي او پیرالسبي. ټول به شل پینځه ویشت کسه شي.

– په سترګو. اسې ام پیرصیب سبا راځي.

– جنتي شئ! په تالار کې یې کېنوئ، ښه؟ کمرې باید چالانې وي. بیا یې تلویزون ته ورکوو.

هغه د موټر کیلي تاوه کړه. د اینجن د چالانېدو غږ شو. منېجر وویل:

– بې غمه شه! زموږ کمرې کله ام نه بندېږي.

سهار مې تر کړکۍ ولیدل چې غفور ماما ووت. د پیشو په غږ مې ما شومان وبلل. قرآن شریف مې ترې وغوښت. اتل یو ټوک له الماري څخه واخېست. تاکاوۍ ته کېوت. عایشه ورپسې غلې غلې روانه وه. زما په لیدو یې جیټکه وخوړه. شاته لاړه.

ماشومان پاس دهلېز ته وختل. عایشې په پخلنځي کې ځان مصروف وښود. زلما ما ته اشاره وکړه. زه غلې له کوره ووتلم. کله چې غفور ماما راغی، عایشې ورته کیسه وکړه. اتل غوږ نیولی و. نیکه یې مور ته برګ شو:

– تا به راله ټلیفون کړی و. بلا وهلې وې؟ ښه ځا، بچې مه پویوه! اغه مرداره بیا راځي.

– نه، چې بیا دسې ونکي.

– ودې کي! مونږ به اغه بې حیا ونیسو. ښه وال به ورکو.

غرمه په سېرېنا هوټل کې د غورځنګونو کسان بېلابېلو مېزونو ته ناست وو. یو بل ته یې نه کتل. د تود سوپ قاشقې یې له غاښونو سره کړپېدلې. لکه دښمنان چې هره شېبه د بدې پېښې امکان ویني. ابلیس وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– بچیانو! سیاست بهر کوئ! دلته د خوښې خبره ده.
ټولو غبرګ ورکړې. خنداګانې شوې. زه د دروازې شاته غلې وم. د ډوډۍ په پای کې ډاکټر دقیق د مېلمنو مخ ته ودرېد. نوی ماډل آیفون یې منېجر ته ډالۍ که. مولانا لپټاپ راوړی و. ماویل لباسې دونیا ته ګوره! غریب چې ورته ضرورت لري ولاکه یې په سترګو وویني. مګر شتمن ته د لسم دپاسه یوولسم ورکوي. د ابلیس وار شو. هغه مخ ته ووت. د سرو برابر سیټ یې ورکه. زه د غه وخت ته منتظره وم. تېزه ننوتلم. د ټولو سترګې را واوښتلې. ډاکټر دقیق او مولانا خو داسې کتل لکه د پېریو ورکه چې یې موندلې وي. ابلیس موسکی و. زه سیخ د هغه څنګ ته لاړم. له متې مې کلک ونیو. مخ مې نورو ته واړوه:
– جنتي شئ! ما تاسې ته ډېر وویل چې دا ابلیس دی. تاسې نه منله. اوس به درته ثابته کم.
د غورځنګونو د کسانو خولې وازې وې. د پیریانو په بڼه شیطانانو لمبې وکړې. هاغه چې د انسان په بڼه وو په عینکو کې یې اور وځلېد. د هوټل منېجر له ډاره لېرې ودرېد. ما د ابلیس عینکې کش کړې:
– وګورئ! د سترګو ګاټې یې منځنی تور خال نلر...
ابلیس ته په کتو مې خبره په خوله کې وچه شوه. د هغه سترګې سمې دمې وې. ډاکټر دقیق وپوښتل:
– ښه نو څه خبره ده؟
د ټولو شورجیګ شو. د تورو عینکو شیطان غږ که:
– توبه وباسه! په پیر صیب تومت مه وایه! په دوزخ کې به وریته شې!
زما وار پار خطا شو. ما ویل:
– نه نه، لینزونه یې اچولي. صبر صبر! د شیطان جامې په ځان پسې نښتې وي.
کله چې مې چپنه کشه کړه. هغه هم په لاس راغله. هکه حیرانه شوم. ابلیس موسکی و. نورو ته یې مخ که:
– بچیانو! دا وایي چې جامې په چا پسې نښتې وي اغه ابلیس دی.
هغه زما ټیکری کش که. په اوږو پسې مې کلک و. ویې ویل:
– وینئ؟ ابلیس څوک شو؟
ټولو ویل همدا ده. ما غږ که:
– نه نه، زه آسماني پرښته یم. زموږ هم جامې نښتې وي. بدن مو رڼا کوي. اوس یې درښییم.
ما څراغونه مړه کړل. مګر بدن مې رڼا نه کوله. اول ځل مې ولږه او تنده احساس کړه. پام مې شو چې د پیریانو په بڼه شیطانان هم نه وینم. د مولانا سترګې رډې رډې راوتې وې. له ګنجي سر څخه یې جالۍ خولۍ کش کړه. وبنګېد «جزاک الله! خوسې خو د ونه نازکه نه ده. ای د بختور په نصیب به آسماني پرښته وي» ډاکټر دقیق وپسېد «اغه زه یم» مولانا وخندل. ډاکټر دقیق بیا وپسېد «وبه ګورې بچو» ما ویل «وه خدایه! دوئ خو منلې ده چې آسماني پرښته یم. نو ولې را سره نه درېږي؟» څراغونه مې بېرته ولګول. له دستکول څخه مې قرآن راوویست. ومې ویل:
– صبر صبر! زه دا درغجن پیر ته قسم ورکم، بیا مالومېږي.
د انسان په بڼه شیطانان لېرې شول. ابلیس هم شاته لاړ. زه خوشحاله شوم چې اوس مې راګیر که. ابلیس وویل:
– بچیانو! ویې نیسئ! دا موږ ټول ګوناکاره کوي. په قرآن شریف ناحقه قسم ورکول څو نه عذاب لري؟
بنیادمانو زه کلکه کړم. ما زور ووهه. پخوانی قوت نه و. وارخطا وم. د هارون د بچولو اخیري چانس له لاسه وته. عذر مې وکه. ما ویل په دې کې ستاسو هم ګټه ده. مګر نه، خوشې یې نه کړم. نور نو مې زړه بېخي اوبه و. صعف راته. ابلیس مولانا ته کړ:
– الکه دا جینۍ در وله. د الله بنده ګان له دې عذابه خلاص که!
ډاکټر دقیق لکه ماشوم بېروس شو. مګر مولانا په منډه د ابلیس لاسونه په سترګو ومښل. کسانو یې زه موټر ته وخېږولم. زما پښې سستې وې. ما ویل اوس به وولېږم. سترګو ته مې خوبانه ترور ودرېدله. ما ویل هغه به تر هارون مخکې مړه شي. د نورو به یې څه حال وي؟ تر څو د مولانا کسان موټر ته ختل ما د هوټل د تلاشۍ ښځې ته مسېج وکه. اول د ابلیس د موټرو کاروان له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوټله ووت. ورپسې ډاکټر دقیق و. کله چې د مولانا وار شو، د هوټل د امنیت قوماندان ودرول. د مولانا ټول ساتونکي د هوټل په قوماندان ورغلل. مگر هغه صبر ته بلل. دروازه یې نه خلاصوله. بالاخره مولانا خپله کېوت. قوماندان ته برگ شو:
– وه الکه ای! خوسې که لاره خوسې که! اجل دې راغلی ده؟
قوماندان د دروازې له ورې دریڅې بهر وکتل. بېرته یې مخ را وگرځوه:
– وبښئ مولانا صیب! بهر مشکوک موټر و. اوس اغه لاړ. ځئ! ځئ! په خیر لاړ شئ!
کله چې هغوئ موټرو ته وختل زه نه وم. هرې خواته راپسې تیت شول. د تلاشۍ ښځې زه د هوټل له جنوبي دروازې وباسلم. په فروشگاه کې د خلکو په گڼې گوڼې ورگډه شوم.
زما له تېښتې ابلیس خبر شو. د سرو زرو او قیمتي تیږو په شانداره تخت کې وښورېد. وغورېد. پاڅېد. وگرځېد. د ایشېدونکو جوسو بوتل یې په سر واړوه. له ښکرونو او تاج څخه یې لمبې ختلې. ویې ویل:
– لعنت په بنیادم! ځان ته د میلیونونو خلکو رهبران وایي. یوه ښځه سمبالولی نه شي. شوده گان!
چاغ وزیر خپله ځوړنده خېټه په دواړو لاسونو وسولوله. سر یې په تعظیم ټیټ که:
– زما گرانه پاچا! بنیادمانو ته همداسې رهبران ښه دي.
– دا خو ده. ښه نو، تاسې ورته د پرښتې ځای وښیئ چې بېرته یې ونیسي!
– سخته ده. د اغې د بدن ځلا ورکه شوه. زموږ کسان یې پیدا کولی نشي.
ابلیس وپشېد. وگرځېد. د سکروټو په شاهانه کوچ کې کېناست. ویې ویل:
– دا ستا وظیفه ده. ته خو پوهېږې، د اور عالي ذات ته صادق کسان چې وظیفه نشي کولی په خپله استعفا کوي.
– باید یې وکي! مهربانه پاچا! د هوټل ویډیو مو په تلوېزونو کې خپره کړه. اول خو خلک پرښته وژني. که نه و، زموږ د نېټ پاڼه ټول افغانان گوري. هلته مو هم ولیکل چې د هارون پل موندل شوی. پرښته خامخا خبرېږي. تماس نیسي.
– ډېر ښه! یره کندو! په خېټه کې دې غول دي، په سر کې گُل.
دواړو په زوره وخندل. په بازار کې هم ټول شیطانان له خندا شنه شول.
ماسپښین زه ځوړنده پړنده د غفور ماما کور ته ننوتلم. زلما د تاک تر چېلې لاندې له نانځکې سره غږېدله. اتل په تار پسې موټرگی کشوه. وارخطا راغلل. دننه د عایشې غوږونه څک شول. د کړکۍ له شنې پردې یې وکتل. ما غوښتل د هارون په ورکېدو کې خپله ملامتیا ومنم. بیا ورته پرېوځم، چې غفور ماما او خوبانه ترور په وهلو وهلو راباندې زړه یخ کي. دا یوازینۍ نیکي وه چې ما کولی شوه. خو ماشومانو تاکاوۍ ته کشولم. د څو شېبو لپاره ورسره کېوتلم، چې خفه نه شي. هلته په د هلېز کې اوږده وغځېدم. ستومانې مې پلمه کړه. دې کې پاس غفور ماما سودا راوړه. عایشې سمدلاسه وویل:
– اغه شرمېدلې راغله. لاندې د ماشومانو سره ده.
– وه لېونۍ! تا نو بچیان ولې پرېښوا ودل. خلکو تلوېزون کې لیدلې ده. وایي ابلیس دی. اله زرکوه راځه! چې څه پې ونکي.
ماشومانو هم واورېدل. زه یې پټه کړم. غفور ماما په تاکاوۍ کې د مېلمنو کوټه وکتله. بېرته ووت. زلما وپوښتل:
– بابا! پیشو لټوې؟
– هاو، غټه پیشو.
– دلته نیشته. ځه! بره لاړ شه!
هغې د غفور ماما غټ لاس ونیو. د زینې خواته یې کشوه. نیکه یې سترگې برگې کړې:
– خوشې که جینۍ! وال درکوم.
زلما وویرېدله. غفور ماما تشناب خلاص که. وروسته پسخانې ته ننوت. زه یې د بسترو تر څنگ ولیدلم. سسته ناسته وم. هغه غاښونه وچیچل. له لاسه یې کشه کړم. په څټ کې یې سپېړه راکړه:
– هی د شیطان ذاته! ما ویلې چې ته ولې دونه رذیله یې؟ اوس پوه شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه زانګېدلم. خو غږ مې نه کوه. د غفور ماما سترګې تکې سرې وې. ټول لړزېده. بیا یې وارونه وکړل:
– اح، اح، وخوره ابلیسه! زوی خو دې راله ورک کو. اوس مې مسیان نه پرېدې؟
عایشې غږ که:
– هی مرداري! هی خدای دې مړه که!
هغې مې مخ ته سپېړې ونیولې. لاسونه یې د پلار غوندې دراندهوو. په سترګو مې تیاره شوه. ماشومانو په ژړا مور او نیکه کشول «مه کوئ! مه یې وهئ!» ما د زړه په زور وویل:
– جنتي شئ! ما وبښئ! زه تاسې ته ملامته یم.
غفور ماما او عایشې پرله پسې وارونه کول. سا یې سوزېدله. د زینې په لور یې ټېل وهلم. غفور ماما کړ:
– ځه چې حوزې ته یې وسپارو! چې نور ورانی ونکې.
اتل یو دم په زینه بره منډه کړه. ویل که خو شې یې نه کئ ما به هم ونه وینئ. زلما هم ورسره ملګرې شوه. عایشه ووېرېدله. پلار ته یې غذر وکه چې ما پرېږدي. زه کوڅې ته ووتلم. کږه وږه روانه وم. ټیکری راپسې کشېده. نه پوهېدم چې چېرته ځم. ماشومانو راپورې خندل. اتل او زلما هریو ته ډیکه ورکوله. مګر هغوئ نه تلل. زه دېوال ته تکیه کېناستم. موبایل ته مې زنګ راغی. ما له چا سره غږېدل نه غوښتل. اتل مې موبایل له جېبه وباسه. زرګل و. د هوټل ویډیو یې په تلوېزون کې لیدلې وه. اتل ورسره وغږېد. د کوڅې خلک ورو ورو راټولېدل. بد بد یې راته کتل. چا ویل وژنو یې. چا ویل دولت ته یې سپارو. دې کې زرګل ورسېد. ما ته یې په شا سپېړې راکړې. ویل موټر ته وخېږه چې حوزې ته دې بوځم! خلکو آفرین وو ایه. هغه په خوشحال مینه کې خپل کور ته بوتللم. زما په لیدو یې دواړه بچیان مور ته وتښتېدل. زرګل په دویم منزل کې سرو توشکو ته اشاره وکړه:
– ته کېنه زه راځمه!
له دېوال څخه یې د پلار د ځوانۍ تصویر برند برند کتل. په اول منزل کې یې ښځه سره او شنه کېدله:
– ما تاته ویلي نه وو؟ دا غم دې چیشته راوستی ده، آ؟ ما خو د اوله پېجندله.
د ماشومانو په سترګو کې اندېښنه وه. ګوتې یې مروړلې. زرګل برګ شو:
– غلې جلې! دا خبرې پرېده! لږه د مستو اوګره وکه چې ځان یې درد کئ! اله زر کوه!
– اوح اوح اوح! پیر یې راغلی ده. دسې منډې وهي. خاورې به ورکمه.
– لاحول ولا! نه کنه، دا د خدای نازولی مېلمه ده. ما او تا غوندې خلک یې د پښو خاورو ته نه رسېږي.
– ښا! ما غوندې ښځه یې د پښو خاورو ته نه رسېږي آ؟ زه به اوس ددې ابلیسې خو ښه شمه.
هغې زینې ته حرکت وکه. ماشومان وسونګېدل. زرګل ښځه کلکه ونیوله. ټېل یې وهله:
– ته په خبره نه یې؟ دا ټول دروغ دي. چې اوګره نکی مه یې کوه! لانجې ام مه جوړوه ګوره!
د ښځې سور مخ په ژړا ګونجې شو. زرګل ما ته یو ګیلاس ایشېدلې اوبه راوړې. ما په ګنګسوالي کې وویل:
– جنتي شې! ځان ته مشکل مه جوړوه! زه وځمه.
– دقه سې! څوک دې پرېدي؟ هه دا وسکه! پسته د مستو اوګره راوړمه چې ځان دې ټکور شي.
زما ایله اوس اوښکې راغلې. د هوټل کیسه مې پیل کړه. لاندې د زرګل ښځه په موبایل کې وپسېدله:
– د پولیسو حوزه ده؟...مالې اغه ابلیسه چې تاسې یې لټوئ زمونږه کره پټه ده... نه نه، پربښته.
پاس زما په لاس کې د ګیلاس اوبه تومړې شوې. زړه مې له هرڅه موړ و. زرګل ته مې وویل:
– جنتي شې! سبا اتلسمه د میزان ده. هرڅه ختم دي. هسې مې تاسې په تکلیف کړئ. وبښئ!
ما ته نور هېڅ شي ارزښت نه درلود. ما ویل چې مرګ زر راشي، چې له دغو غمونو خلاصه شم. زرګل سر وښنده:
– ایچیشی ختم ندي. ته دا خبرې پرېده! د محمد سمیر په نوم یو چا د هارون جای لیدلی ده. پسې ځو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په موبایل کې مسیج را وښود. زما سترګې رڼې او سا اخېستل تېز شول. او به مې وسکلې. بدن ته مې د قوت راتګ احساس که. ما ټلیفون وکه. اول مې ژوره سا واخېستله، بیا مې وپوښتل:

– جنتي شئ! تاسې سمیر خان یئ؟

– بلې بلې! امر وکئ!

– تاسې لیکلي چې د هارون ځای مو لیدلی. دا رښتیا ده؟

سمیر چا ته وپسېد «صیب! پیدا شوه. څه ورته ووایم؟» هغه سړي هم په ټیټ آواز وویل «سبا لس بجې. غازي سټېډیوم» ما واورېدل. خو د سړي غږ مې ونه پېژند. سمیر له ما وپوښتل:

– تاسې څوک یئ؟

– زه؟ زه یې خپلوانه. څنګه رښتیا ده که نه؟

– بلې هو.

– هارون چېرته دی؟

– امدلته نزدې.

– بندي دی؟

– نه.

– نو ولې کور ته نه راځي؟

– خپله نه غواړي.

– دا څه وایې؟

– نه پوهېږم. اوس مازیګر دی. زه لرې یم. سبا سهار لس بجې غازي سټېډیوم ته راشئ! هرڅه به خپله وګورئ.

ټلیفون بند شو. نور زنګ نه تېرېده. زه په کوټې کې وګرځېدم. سا اخېستل مې سخت وو، لکه سالنډي چې لرم. سبا به وروستۍ ورځ وي. یا به دواړه مرو، یا به بچېږو. خدایې مې زړه وشو چې زرګل ته د هارون تصویرونه وښییم. هغه په سلګو سلګو وژړل. د پولیسو د موټرو غږ شو. دروازه وټکېدله. د زرګل ګردې ورې سترګې بې واره وڅرخېدلې. زما هم زړه وښوېده. ومې ویل:

– جنتي شې! زه باید سبا حتمن سمیر ووینم.

زرګل سر وخوځوه. تېز د بلې خوا کړکۍ ته لاړ. ما ته یې لاندې دېوال وښود:

– په دقه جای اقه بام ته تلی شې؟

ما وکتل. دېوال ټیټ او نری و. دروازه پرله پسې ټکېدله. دربه هار شو. پولیس په دېوالو واوښتل. دروازه وازه شوه. زرګل تېز حویلۍ ته کیوت. له خېټور قوماندان څخه یې د تلاشۍ لیکلې اجازه غوښتله. هغه د سپېږو وارونه وکړل. ښځه یې په منډه ورغله. په عذر یې وویل چې مېړه مې مه وهئ! قوماندان شاته شو. لاس یې کوټو ته ونیو:

– راوباسه! پرښته راوباسه!

– د قه سې! پرښته چېرته ده؟

– لرې ورک شه! رېند رېند مه کېږه! موږ خبر یو چې دلته ده. زر کوه!

قوماندان یې ښځې ته وکتل. زرګل پوه شو چې هغې خبر ورکړی. ویې ویل:

– ښه ښا. اقه پرښته؟ یوې دیقې ته راغلې وه. بېرته لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې یې دویم منزل ته نظر واچوه. قوماندان پاس وخوت. د زرګل رنګ زېړ شو. مګر زه د کړکۍ له لارې تښتېدلې وم. هغه د هوسایۍ سا واخېستله. قوماندان په مخابره کې د کابل ښار له حوزو وغوښتل چې زما د نیولو کوشش وکي. د حویلۍ په دروازه کې یې زرګل او ښځې ته وویل چې سبا هرومرو حوزې ته ورشي. ټول پولیس ووتل. زرګل د څراغ په رڼا کې ښځې ته کړ:

– ښه ځا! دا ما پرښتې ته جای ورکړی. ته مې پولیسو ته سپارې؟

– نه، ما اغه شیطانه بندي کوله.

زرګل سر وځنډه. ویې ویل:

– چې په ما باور نلرې نو بیا ولې راسره جوند کوې؟

زرګل طلاق ته اشاره کوله. د ښځې رنګ پک والوت. له ډک ستوني یې غږ ووت:

– ما چې اغه ولیدله په سترګو مې شپه شوه. په ځان نه یمه پوه شوې چې چیشی کومه.

– دقه سې! پوېږې؟ اول وار دې په خپل واده پښېمانه کړمه.

ټکسي د غازي سټډیم د دېوال څنګ ته ولاړ و. ما له نیمکښې ډالې کتل. د غټ انار په اندازه لوډسپیکر مې په لاس کې و. ټکسیوان د ډالې څنګ ته ورو ورو غږېده «ای اروې؟ په ما پیرصیب بې ایسا به ګران ده. اتي که بل څوک و خبره مې ورختموله. مګر ستا د برکته خو مې زوی پوډر پرېښود دل. غم مکوه! سبا هم په سرو لمبو کې کومک ته درځم. اتي نو زموږ لارې بېلېږي! ای نه ځو؟ چې پولیس رانسي» یو ساعت پس همدا ټکسي د غفور ماما د کور له دېوال سره جوخت ولاړ و. کوڅه ځای ځای څراغونو روښانه کړې وه. زه چټک د موټر سر ته وختلم. په دېوال واوښتلم. غلې تاکاوۍ ته کېوتلم. میاو مې که. اتل او زلما یو په بل پسې راغلل. زما لیدو ته خوشحاله شول. ما د ابۍ پوښتنه وکړه. د دواړو سترګې ډکې شوې. اتل وویل:

– مړه کېږي.

– خدای دې نکي! تاسې پاس لاړ شئ! زه به د غفور ماما نمبرې ته زنګ ووهمه. تاسې به موبایل ابۍ ته ورکئ!

هغوئ سرونه وخوځول. اتل په تګ کې وپوښتل:

– ته وږې یې؟

– جنتې شئ! زما غم مه کوئ! ځئ نو چې څوک پوه نشي!

هغوئ وختل. مور یې لمونځ کوه. نیکه یې خبرونه اورېدل. زلما یې ټلیفون غلی له جېبه وباسه. هغه کلک ونیو. زلما وویل:

– لږ کېم کومه وریه!

– غلې شه جینۍ!

– زه تا باندې ګرانه نه یمه.

– هاو، نه یې. ځه!

– ځه، تا بابا نه کومه!

نیکه یې متوجه شو. له تلوېزونه یې مخ وګرځوه. اوږده پزه یې په ګوتو کشه کړه. ویې پوښتل:

– څه خبره ده؟

زلما موبایل بیا کش که:

– کېم کومه کېم. په خبره نه پوېږې؟

نیکه یې موسکی شو. موبایل یې خوشې که. زلما تر لږ کېم وهلو وروسته دهلېز ته ووتله. په زوره یې وټوخل. دا وخت ټلیفون وترنګېد. هغې لوډسپیکر ووهه. ویې ویل «ښه ښا ابۍ ته یې ورکومه» موبایل یې ور وړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هه خبرې وکه!

خوبانې ترور په سختۍ سترګې خلاصې او مخ تاو که. له زګېروي سره يې وپوښتل:

– څووووک دی؟

زلما يې ټليفون په غوږ پسې ونيو. ما په ټيټ غږ وويل:

– ترورې! سترګې دې روښانه! هارون جان مې پيدا که.

د هغې د مخ ګونجې ارتې شوې:

– وی هارونی مې! چرته دی؟ چرته دی؟ ته يې څوک؟

عايشه په منډه د مور څنګ ته راغله. د غفور ماما هم پام شو. تلوېزون يې بند که. ما ويل:

– پرښته بدبخته يم.

زما د نوم په اورېدو غفور ماما په سږمو کې وپشېد. د خوبانې ترور بدن سست شو، پرېوتله. ويې ويل:

– دروغ وايې. تا کنچنۍ پېجنمه.

– جنتي شئ! زه رښتيا وايمه...

غفور ماما نارې کړې:

– تاله ما ندي ويلي چې مونږ نه لرې ګرځه! قسم چې دا وار دې وجنمه!

هغه د زلما په لاس کې ټلېفون بند که. يو شېبه چوپه چوپتيا وه. زلما وبنګېدله:

– خپله يې پيدا کولی نشي. بل څوک پرېدي نه.

– چوپ!

د غفور ماما په چيغه ټولو شپ وهل. عايشې په احتياط وويل کاش چې د هارون ځای يې ښودلی و. غفور ماما برګ شو «عقل لرئ؟ تاسې اوس ام په شيطان باور کوئ؟» خوبانې ترور غږ که:

– دا زړه مې د سپې سولېږي راسولېږي. څه شی نيشته چې ويې خورمه؟

پس له څو ورځو د هغې اشتها پيدا شوه. پلار او لور بيا يو بل ته وکتل. عايشې منډه واخېستله چې ډوډۍ راوړي.

ما له ملا اذانه عبادت کوه. اته نيمې بجې په تشناب کې وم. ماشومانو راته سوباړی او قرآن راوړ. ما يې په مخ قصداً اوبه وشيندلې. هغوئ غلي وو. د پخوا په شان يې ټوکې او شوخي نه کوله. د زلما سترګې ډکې وې. ويې ويل:

– پلارجان او ماما جان مې خوب ته راغلي وو. کله پلارجان په غېږ کې اخېستلمه، کله ماما جان.

زما هم زړه ډک شو. ما ويل:

– بې غمه شئ! ستاسې ماما به روغ جوړ کور ته راځي.

اتل راته په هنداره کې کتل. ويې ويل:

– ته ام راشه!

– جنتي شې! زما مالومه نده. څه چې د خدای رضا وي.

زلما غږ که:

– خدای زما خبره مني؟

زه موسکۍ شوم. هغه مې په مخ ښکل کړه:

– ته څه غواړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– چې ته او ماما جان مې واده وکئ.
زما سترګې غټې غټې وختلې. له تشنابه ووتلم. سوباړې مې په لستوڼي ننوبست. زلما غبرګه کړه:
– زه پوهېږم. فلم کې یې ویلې، جینۍ چې الک بچوي پې مینه وي.
اتل ورباندې سترګې برګې کړې. زلما سر ښکته واچوه. ما ته د هغې په سپینو خبرو خندا راغله. درېواړه پاس وختلو. عایشې دسترخان صافي کوه. د ټولو څېرې له غصې وپړسېدلې. ما وویل:
– جنتي شئ! زه یوازې خدای پامانۍ ته راغلم. کېدی شي دا زموږ اخیري دیدن وي.
خوبانه ترور نېغه شوه:
– هله سړیه پولیسو له ټلیفون وکه!
غفور ماما تېز په د سپاک لاس وچ که. پسخانې ته یې منډه کړه. د بېلچې له لاستي سره راووت. ما ویل:
– زه نن د هارون جان د بچولو جنګ ته ځم. هیله کوم! دعا راته وکئ!
ماشومانو په یو غږ وویل:
– خدای پاک دې کامیابه که!
غفور ماما غاښونه وچیچل. په بېلچه یې کلکه ووهلم. ما ویل د ملا هډوکي مې دانه دانه شول. ماشومانو وژړل. دواړه د هغه مخ ته ودرېدل. زه تېزه روانه شوم. غفور ماما هله هله کوڅې ته راغی. زما د ټکسي نمبره یې واخېستله. بېرته تېز کور ته ننوت.
لس کم لس بجې وې. زه غازي سټېډیوم ته ننوتلم. زموږ مرګ ته یو ساعت او څلوېښت دقیقې پاتې وې. د فوټبال په میدان کې لکه په شین فرش روانه وم. د وریجو بوی و. زرګل په وړو ګردو سترګو له دریڅې کتل. دا سټېډیوم ته د اوبو رسونې کوټه وه. زه د میدان په منځ کې ودرېدلم. ابلیس مې د مهمو اشخاصو په ځای کې ولید. د پخوانیو پاچاهانو په شان له تاج سره پر تخت ناست و. شاته یې په تورو عینکو کې وزیران ښکارېدل. بنیادمانو تخت اوږو ته جیګ که. ډاکټر دقیق او مولانا د میدان په پای کې د وریجو د غټو دیګونو او کبابو د پخلي سیل کوه. زما په لیدو جوړه جوړه راغلل. مخامخ ودرېدل. ما وپوښتل:
– دا پخلی د څه لپاره دی؟
ډاکټر دقیق وخندل:
– په ښښې! نن د یوې معشوقې او عاشق ارواح یوځای کېږي. د خوشالۍ جشن دی.
دواړو کټ کټ وخندل. ما پاس وکتل. د ابلیس تخت یې ورو ورو په زینو کوزوه. ومې ویل:
– تاسې دواړه دا دی ښه سره جوړ یئ. خو خلک په خپلو کې جنګوئ. شرمېږئ نه؟
مولانا اعجازالحق جواب راکه:
– او ښیاران خو الحمدلله جنګ نه کوي. او کمقلان پرېده چې ختم سي!
دواړو هررر وخندل. ما ویل:
– په ځان خاندئ؟ که کم عقلان هم دي، ستاسې خو ورونه دي. ستاسې وجدان، ستاسې انسانیت چېرته دی؟
ډاکټر دقیق سر وڅنډه:
– دا زاړه اصطلاحات دي. نوي یاد که! وایه ستاسې قدرت، ستاسې دولت چېرته دی؟ چې په یو غږ درته یو میلون کسه حاضر کم. چې په یو چک درته بانک تش کم.
– ښه داسې؟ الله تعالی ته به څه جواب وایئ؟
مولانا وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زموږ غورځنګ خو جزاک الله د اسلام قایمېدو ته کار کوي. نو الله تعالی باید راضي وي.
د ډاکټر دقیق وار شو:
– او مونږ ویاړو چې د مسلمانانو د پرمختګ دپاره مبارزه کوو.
– ښه ځه داسې یې وبولئ چې ما ومنله. نو د خپلو هدفونو لپاره هرې ناروا ته لاس اچوئ؟
مولانا موسکی شو:
– دین ته د خدمت دپاره هرکار جواز لري. که اغه د شیطان سره دوستي هم وي. په دې کې حکمت ده.
زه حیرانه وم چې د دولت او قدرت شوق دوئ څومره له عقله وېستلي دي. ابلیس یې راورسوه. ما ورڅخه وپوښتل:
– هارون چېرته دی؟
ابلیس مخ د مهمو اشخاصو ځای ته تاو که. اوس هلته هارون ولاړو. جامې یې لکه د ملنګانو شکېدلې شکېدلې وې. په پرسېدلي مخ کې یې شنه ټپونه ښکارېدل. سترګې یې بېخي تنګې وې. ما ته یې تېره تېره کتل. زما زړه پښنو ته وښویېد. د سټېډیوم غټې ساعت ته مې وکتل. لس بجې او لس دقیقې وې. مخ مې ابلیس ته که:
– مه کوه! بنیادمان خپل ژوند ته پرېده!
هغه د ملنډو خندا وکړه. له تخته نرم کېوت. په سوزېدلي غږ یې جواب راکه:
– ستا مشکل امدا دی کنه. یوه خوا وینې. په هر بنیادم کې هم شیطان شته هم پرښته. په خپله یې انتخابوي چې څوک شي. موږ ورته د شیطان کېدو ګټې وایو. تاسې ورته د پرښته کېدو. نو اغوئ چې شیطان انتخابوي د چا څه کار دی؟
– منم. مګر که پرښته شي، نه به یې دلته وجدان ځوروي، نه هلته دوزخ.
– هه، کلیمه ګوی خامخا جنت ته ځي. څه اول، څه اخېر، فرق نه کوي. خو ته غواړې بنیادمان د ځان په شان بې خونده کې. او اغوئ موږ غوندې مستي غواړي، لانجې غواړي. چې سات یې تېر شي.
ما کتل. د غورځنګونو مشرانو هېڅ عکس العمل ونه ښود. حیرانه وم چې دا ولې؟ ما ابلیس ته کړ:
– په ناپوهۍ کې به شیطان شي، هو. خو بنیادم ته خدای ماغزه ورکړي. چې ځان او جهان وپېژني. بیا هاغه وخت فکر نه کوم.
ابلیس کټ کټ وخندل:
– بیا به هم شیطان شي. تر شیطان بل هوښیار شته؟
– چې داسې ده نو هارون جان دې ولې بندي کړی؟ خپل اختیار ته یې پرېده کنه!
– داح. ما خو درته وویل چې په کابل کې زما پایتخت دی. څوک چې زما له قانونه سرغړوي مجرم دی.
ما قصداً د ابلیس خوله لټوله. څو په دې ډول وخت له یوولس نیمو بجو واړوم. ومې پوښتل:
– د هارون ګونا څه ده؟
– ای بدرنګې! ډېرې پوښتنې نه کوې؟
زه وارخطا شوم چې بحث بند نه شي. ډاکټر دقیق ابلیس ته غږ که:
– زموږ مهربانه پاچا!
– قربان!
د ابلیس وزیرانو د ډاکټر دقیق له خوا د مهربانه پاچا ویلو ته چکچکې وکړې. ډاکټر له خندا شین شو:
– مننه مننه. ما ویل پرې چې پرښته زړه تش کې! د مړي په ژوندي دونه حق وي.
ابلیس سر وخوځوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– سمه ده بچی. ګوره بدرنګې! د هارون ګونا داده چې د وجدان له قیده وتلی نشي.
– هو نو. د بنیادمانو وجدان خو ستا مخه نیسي. بنه څه، زما سره دې ولې راخښتې ده؟
– څه مې کړي وو؟ ته د بنیادم په شکل زما پایتخت ته راغلې. د مختلفو نظرونو ترمنځ سولې ته دې لاس واچوه. زما د پاچایي د ختمولو کوشش دې وکه. دا لوی جرم دی. او مجرم باید جزا ووینې. امدا نصاف دی. ندی؟
ما د غورځنګونو د اجرایه شورا غړو ته وکتل. هغوئ هم له ابلیس سره مخالفت نه کوه. ما وویل:
– هو نو، ستا په قانون کې هر ښه کار جرم دی. ستا انصاف د بنیادمانو ځورول دي. خو زما انصاف د هغوئ بچول.
ابلیس بیا کټ کټ وخندل:
– اغه دی هارون. بچ یې که!
ما نارې کړې:
– هارون جانه! غفور ماما او خوبانه ترور درته منتظر دي.
هارون راکوز شو. تنګې سترګې یې سرې وې. ګاټې یې غبرګ ښکاریدل. زه پوه شوم چې شیطان پکې دی. هغه یودم چاړه په لاس حمله وکړه. ما د ځان بچولو لپاره له هرې حملې سره شاته ټوپ وهه. د غورځنګونو مشرانو خندل. ابلیس غږ که:
– واخله واخله! خپل بو یبین مبیین بوځه!
په شاته شاته تګ کې زما پښه بنده شوه. ولویدلم. هارون له چړې سره راغی چې په ټټر کې مې ووهي. ما زر وړوکی قران مخ ته ونیو. د هارون لاس په هوا کې ودرېد. وربېږدېد. ما ترې چاړه واخېستله. واړه لرګي مې د ګوتو ترمنځ ننوېستل. لنډ سورت مې ووایه. کې مې کاړلې. هغه له چیغې سره جیټکه وخوړه. سست په ځمکه کېناست. اوس یې د بدن درد حس که. زګېروي یې وختل. پوه شوم چې شیطان ترې ووت. خو ما نه لیده. د ابلیس څېره لکه سکروټه تکه سره شوه. اول ځل مې د هغه په تورو عینکو کې لمبې ولیدلې. لکه لېوه وغورېد. د غورځنګونو په مشرانو یې امر وکه:
– زما بچیانو! دا احمقه ښه وډبوئ! بیا دواړه بهر د مظاهره چیانو جنګ ته وباسئ چې مردار شي!
مولانا سلامکی ووهله:
– په سر سترګو مهربانه پاچا. الکانو! وهئ یې!
ډله خلک په ما راغلل. زرګل د اوبو رسونې په کوټې کې لوی وال وڅرخوه. کړکۍ ته یې منډه کړه. خو او به په چمن کې ونه پاشل شوې. وال یې بیا تاوراتاو که. د دروازې ګرز شو. زرګل وربېږدېد. ساجده ننوتله. په وازه خوله یې وویل:
– وی الا! دا خو رشیتا آسماني پرښته ده. او پیرصاب ابلیس دئ.
زرګل د هغې په لاس کې غټې چړې ته حیران حیران کتل. ویې پوښتل:
– ته دلته چیشی کی؟
– زه ستا کورته پټه درغلې وم. هارون مې لټوئ. بالا ستا او د پرشتې ټلیفوني خبرې مې واورېدلې. تاسې غوشتل پر پیرصاب نلونه ایله کئ چې بدن یې وسوزيږي. ما ول دا ستاسې بله دسیسه ده. راغلم د واټرپمپ برق مې شاټ کئ.
زرګل چیغه کړه:
– دقه سې! لېونۍ یې؟ دا دې چیشی وکړه؟ اغوئ پرښته او هارون وجني.
– زه کمقله نه پوېیدم. بد مې کړي.
دلته ما بنیادمانو ته هم قران ونیو. هغوئ یې خیال ونه ساته. د سوټیو ګوزارونه یې کول. ما په زړه کې وویل «شیطان بنیادم تر خپله شیطانه بدتر وي. هېڅ ډول مقدسات نه پېژني» ما له لستوڼي سوباړی وباسه. هم مې پې وار کوه، هم دفاع. نارې مې کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زرګله وروره! اوبه خوشې که!
د زرګل جواب مې وانه ورېد. بیا بیا مې غږونه وکړل. بې ګټې وو. ما د ټولو د ګوزارونو مخه نیولی نه شوه. هغوئ ډېر وو. زخمي زخمي شوم. مګر په پښو ولاړ وم. قرآن مې په موټې کې کلک نیولی و. ګورم چې زرګل او ساجده را ورسېدل. زما په پلوې یې جنګ شروع که. ما ویل:
– جنتي شئ! جنګ ګټه نلري. اوبه خوشې کئ!
زرګل د ساجدې له خوا د سیستم د خرابولو وویل. هغې مړې مړې کتل. سخت قهر راغی. زما یې ټول پلان خراب که. دلته و چې هارون مې ولید. هغه هم زما څنګ ته ودرېد. اخ په ما د مینې څپې را وغرځېدلې. قهر او دردونه مې هېر شول. په ځان کې مې بیا قوت احساس که. د غورځنګو نو مشرانو په هارون ور ودانګل. ما نو هغه ژوبلېدو ته پرېښوده؟ مخ ته شوم. په کلکه مې مقابله کوله. خو زور مې ونه رسېد. زه ولوېدم. اوس نو د دښمن ګوزارونه په هارون لګېدل. ما له ډېرې بې وسۍ وژړل. اوښکې مې له وینو سره چمن ته وڅڅېدلې. دې کې مې غوږ ته د زرګونو خلکو چیغه راغله. تاسې غازي ستډیوم ته ننوتلئ. د غورځنګونو مشران در ته خوشحاله شول. ابلیس ساعت ته وکتل. زما او د هارون مرګ ته پینځه دقیقې وې. پر تاسو یې غږ که:
– زما ایماندارو بچیانو! ستاسې د دین او وطن دښمنان په ځمکه پراته دي. هرڅه چې ورباندې کوئ ویې کئ!
تاسې په قهر وراندې راغلئ. ما ویل ځه، هرڅه ختم شول. خو یو دم خبره سرچپه شوه. تاسې زه په احتیاط له ځمکې جیګه کړم. خو بانه ترور مې ولیدله. هغې تر هارون مخکې ماته غاړې واچوله. په مخ یې ښکل کړم. زما له سترګو د خوشحالۍ اوښکې وبهېدلې. خلکو زما نور پلویان هم پورته کړل. غفور ماما په جیګ غږ وویل:
– ابلیسه لعینه! خلاصېدی نشې!
د ابلیس سترګې تېغې وختلې. له وزیرانو سره په شا لاړ. د غورځنګونو مشران هم په تېښته شول. تاسې پسې منډه واخېستله. ابلیس ناري کړې چې زه پیر یم. که زما خبره ونه منئ خدای تعالی به جزا درکي. خو چا نه اورېدلې. هغوئ د نغریو سکروټې واري کړې. ستاسو مخ ته یې سره دیګونه چپه کړل. مګر تاسې په سرو سکروټو وختلئ. د ابلیس وزیران او د غورځنګونو مشران مو ونیول. آفرین! خو هغه خپله د ستډیوم سر ته جیګېده چې ځان شاته واچوي او وتښتي. زه کږه ولاړه وم. مخ او سر مې په وینو وو. خو په ځان کې مې بیا د پرښتو د طاقت احساس وکه. ما ساعت ته وکتل. تریو ولسنیمو اوښتي وې. زرګل وپوښتل:
– ای خورې! کار وشو؟
– ما ویل بالکل وشو. زه په ګوډه پښه په ابلیس پسې خوشې شوم. هغه مې پاس د ټوپ وهلو په وخت کې کلک ونیو. تاسو ته مې غږ که چې شیطانان مه وهئ! یوازې پښې او لاسونه یې وتړئ! چې ونه تښتي. کور مو ودان! تاسې همداسې وکړل. نو زما قدرمنو وطنوالو! دا وه ټوله کیسه. اوس نو راځئ چې د پای ټکی ورته کېدو!
پرښتې ابلیس د خلکو مخ ته ودروه. زرګل په دسمال د شونډو او تندې وینه پاکه کړه. غږ یې کړ:
– صبر صبر خورې! یوه خبره معلومه نه شوه. دا مظاهرو ته راغلي خلک څنګه سرچپه شول؟
– هغه خو ما بیګا د ستډیوم په دېوال لوډسپیکرونه ولګول.
پرښتې په خپلې غاړې کې امیل ته اشاره وکړه:
– ددغه مایکروفون څخه یې زموږ ټولې خبرې اورېدلې.
ابلیس له قهره وپشېد. پرښتې وویل:
– جنتي شئ! یو څوک خو اوبه راوړئ!
خلک سره ښورېدل. یو تن غټ بوتل راوړ. پرښتې یې سرټې خلاص کړ. د ابلیس پر سر یې ونیو. ویې ویل:
– فرمان صادر که چې ستا ټول شیطانان د بنیادمانو سیمې پرېدي! او ستا تخت او بازارونه بنیادمانو ته وسپاري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابلیس بوتل ته په ټیغو سترګو کتل. سر یې وښنده:
– زه داسې نه کوم. دا ظلم دی. موږ هم خدای پیدا کړي یو.
پرښتې یې په سر او به تویې کړې. له څڅه هار سره ټپونه جیګ شول. د ابلیس له خولې زګېروي ووتل. هغې بیا بوتل کوږ کړ. اوبه تویې شوې. د ابلیس رمباړې آسمان ته وختلې. خو تر دریم ځل مخکې زرګونه شیطانان په ستهډیوم کې رابښکاره شول. یوتن د نورو په استازولۍ وویل:
– زموږ ګران پاچا خوشې کړئ! موږ وعده کوو چې بیا دې وطن ته نه راځو.
پرښتې وخندل:
– تاسې اوس هم د غولولو کوشش کوئ؟ د افغانانو متل دی، ړوند یو ځل امسا ورک کوي.
مخ یې ابلیس ته کړ:
– صادر که فرمان! که نه، بنیادمانو ته وایم چې ستا ټول شیطانان په اوبو کې ولمبوي.
ابلیس وربېږدېد. سترګو یې بیا لمبې وکړې. په لړزنده لاس یې له جېبه د سکروټو قلم او کاغذ ووېست. فرمان یې ولیکه. امضا یې کړ. قلم او کاغذ لکه سپرغۍ هوا ته والوتل. ټول شیطانان بېرته ورک شول. ورسره ځمکه ولړزېدله. خلک وارخطا شول. له پرښتې یې پوښتنه وکړه چې دا څه وو؟ ابلیس زهرجنه خندا وکړه. ویې ویل:
– دا زما تخت او بازارونه ویجاړ شول. تاسې څه فکر کوه؟ زه یې مفت درسپارم؟ ای زما شیطانان خو لاړل. مګر زما مریدان شته. هغوئ به زموږ کارونه مخته وړي. پوه شوئ؟ خوشحالي مه کوئ! خلاصېږئ نه!
پرښتې د هغه لاس په قرآن کېښود. قسم یې ورکړ. ابلیس په چیغه ورک شو. خلکو چکچکې وکړې. پرښتې په لوډسپیکر کې وویل:
– جنتي شئ! تاسې پوه شوئ چې مشکل مو څه و؟ مشکل دا و چې د شیطان په ظاهر غولیدلي وئ. ګورئ شیطان څه ښکر نه لري. څوک چې مو د نظر د اختلاف په سر جنګوي هماغه شیطان دی. زما ومنئ! د نظر اختلاف ښه دی. د یوې موضوع ټولې خواوې پکې روښانه کېږي. سمه نتیجه تې وځي. په تاسې کې ښه هاغه دی چې د بل سم نظر په ورین تندي ومني. له مخالف نظر سره دښمني نه، سوله وکړئ! هر چاته وخت ورکړئ چې د خپل نظر ښه والی ثابت کي. اصلي او دایمي سوله امدا ده. بیا دې ابلیس راشي کنه! نه هغه څه کولی شي، نه یې مریدان. بل، خپل سیاسي مشران وڅارئ! چې بیا مو د ابلیس مریدان رهبران نه شي. ګورئ! هغوئ ستاسې په زور مشران دي. که په غلطه روان وو لارې ته یې راولئ! که نه کېدله، لېرې یې کئ! سم خلک مشران کئ! مینه ناک خلک مشران کئ! چې هم مو دا دنیا ښه شي هم هغه.
د خلکو شور شو. هرچا ویل همداسې کوو. د غورځنګونو مشرانو زارۍ کولې. خوشې کېدل یې غوښتل. زرګل غږ کړ:
– درنو هېوادوالو! اوس نو مېربانې وکئ! دا د ابلیس مریدان عدالت ته وسپارئ!
خلک له ځایه ونه خوځېدل. د پرښتې سیل ته ولاړ وو. په مخ زخمي ساجده راغله. هغې ته یې غاړې واچوله. ویې ویل:
– ماوبخشه! تاسره مې ډېر بد کړي. بېخي درڅه شرمېږم.
– وې جنتي شې! تا چې هرڅه کړي ښه دې کړي. په خپلې مینې ولاړه وې. هر څوک دې تا غوندې شي.
پرښتې سترګې زرګل ته واړولې:
– ته په رښتیا خوږ بنیادم یې. زه به ستا خاطرې لکه قیمتي غمې ساتم.
– دقه سې! مه کوه چې جړا راځي!
له پرښتې سره ټول ستهډیوم پخ وهل. ساجده هارون ته نژدې ورغله. د هغه پرسېدلی مخ ځوړند و. ساجده وپسېدله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هارون جانه! ستا ژوند پرشتې وژغورئ. ترما اغه ستا ډېره حقداره ده. زه نه خپه کېژم! ورسه!
هارون د ساجدې ډکو سترګو ته ځیر و. خپلې یې نمجنې شوې. ګوډ ګوډ پرښتې ته مخامخ ودرېد. هغې ویپوښتل:
– جنتي شې! ته څنګه یې؟ مخ او ځان به دې درد کوي.
– نه، ښه یم.
– شکر چې ښه یې.
هارون ژوره سا واخېستله. ویې ویل:
– ما کمقل نه منله چې ته پرښته یې.
– یوه زه نه یم. دلته ډېرې پرښتې دي. څوک یې نه پېژني.
– خو ته زما سره د جوند دپاره له اسمانه راکېوتې یې.
پرښتې سر وخوځوه:
– هو. مګر موږ او تاسې ډېر فرق لرو. ستاسې خویونه بدلېږي رابدلېږي. کله کله ستاسې په قهر کې مینه وي او په خندا کې غصه. په دروغو کې مو ثواب وي، او په رښتیا کې عذاب. موږ داسې نه یو. موږ په یو شي پوېږو، چې ښه ښه دي او بد بد.
– خو تا زما دپاره دونه سختۍ وګاللې.
– جنتي شې! ما د خپلې مینې لپاره ګاللي.
– خو هدف له ونه رسېدلې.
– بالکل ورسېدم. نن مې د مېین د مرګ ورځ وه. خو ژوندی پاتې شو. د یوې معشوقې لپاره تر دې لویه خوښي څه وي؟
له هارون سره په ستېډیوم کې د ټولو سترګې ډکې شوې. پرښتې لاس او سر وخوځول:
– مه مه مه! که تا دلته ژړل زه به هلته ژاړم. که تا خندل زه به هم خاندم. هیله کوم! ما مه ژړوه! وخانده نو!
هارون له اوښکو سره پخ وهل. ټول ستېډیوم موسکی شو. پرښتې د هغه لاس ونیو. زړه یې پکې ډوب شو. ویې ویل:
– کله چې مې ستا عملپاڼه لیکله ما لیدل. تا هېڅکله ښځو ته په هوس نه کتل. مګر بیا دې هم له داسې ښځې سره ګډ ژوند غوښت چې درسره د زړه مینه ولري، چې په غم او ښادۍ کې درسره ولاړه وي. ما ویل دا خو زه هم کولی شم. مګر غولېدلې وم.
– نه یې غولېدلې. څه چې واده وکو!
– جنتي شې! زه اوس پوه شوم. ستا زړه پاک و. ښځو ته دې ځکه په هوس نه کتل چې هغوئ ستا په نکاح نه وې. که نه، هسې خو دې خوښېدلې. موږ پرښتې بیا جنسیت نلرو. ما خپله څېره او خویونه ستا لپاره ښځینه کړل. زما له تا سره یوازې د زړه مینه ده. چې کافي نده. خو ساجده او ته یو بل ته مکمله مینه ورکولی شئ.
هغه موسکۍ شوه. د دواړو په اوږو یې لاسونه کېښودل. وپسېد له «نېکمرغه ژوند ولرئ!» دې کې یې بدن لکه څراغ وځلېد. د ټولو سترګې وبرېښېدې. کله چې رڼا ورکه شوه پرښته هم نه وه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**